برق تاریخ لیکي د پاک نبيﷺ روېدار   چې راتلونکي کهول د پاره شي په کار
چې راتلونکے نسل ګوري دا شعرونه   پس د مرګه به مې وکړي ارمانونه

ساقي کوثر

په پښتو ژبه منظوم سیرت النبيﷺ

رحیم الله برق

په نامه د رحمان او رحيم خدای

ساقي کوثر

په پښتو ژبه منظوم سيرت النبي ﷺ

ISBN 9789692280099

ساقي کوثر

پۀ پښتو ژبه منظوم سيرت النبي ﷺ

ليکوال: رحيم الله برق

اهتمام: حاجي جان عالم مومند او محمد آصف سليم (+923028833058)

ځيرکتنه: فضل معبود معاذ

مخپاڼه: حيات روغانے

چاپ کال: 2024

شمېر: 500

هديه: 300 روپۍ

د ترلاسه کېدو درک

ماسټر بک سنټر

تخته بازار، ډهکي، تنګي، چارسده

03365962763

ټړون

د ډهکي د
صاحبِ حق
مولانا عزيز الرحمان
په نامه

فهرست

- برق رحیم الله: زما کلیوال / نعیم مخلص – 6
- دیباچه / دوست محمد بحر – 8

1. پېدائش د حضرت محمد ﷺ – 16
2. د حضرت خدیجې سره نکاح – 31
3. د نبوت زېرے – 34
4. د وړومبنۍ وحي – 38
5. د حضرت علي اسلام قبلول – 42
6. د حضرت حمزه اسلام راوړل – 56
7. د عتبه جرګه پۀ پېغمبر – 58
8. د حضرت بلال د اسلام واقعه – 77
9. د عمار بن یاسر اسلام – 80
10. حبشې ته وړومبے هجرت – 81
11. ابوجهل او قرآن – 105
12. د حبشو نه د اصحابو واپسي – 110
13. د معاهدې د ماتولو قصه – 115
14. د طفېل دوسي قبیلې اسلام – 120
15. پۀ ابوجهل د پېغمبر رعب – 125
16. حضور او 'رکانه' پهلوان – 127
17. رسول الله ته د 'حبشو' او 'نصاراو' وفد – 129
18. د سورة الکوثر نزول – 131
19. اسريٰ او معراج – 132
20. د یتیم مال خوړل – 142
21. سود خور – 142
22. زناکار سړي – 143
23. زناکارې ښځې – 143
24. معراج او کفار – 144
25. د طائف سفر – 154

26. د پېریانو ایمان – 158
27. حضور او خزرج قبیله – 164
28. د عقبې ورومبې بېعت – 166
29. د اُسید بن حضیر او د سعد بن معاذ اسلام – 167
30. مسلمانانو ته مدینې ته د هجرت اجازت – 191
31. د حضرت عمر فاروق هجرت – 197
32. د رسول الله مدینې ته هجرت – 202
33. سراقه او حضور – 215
34. د رسول الله مدینې ته هجرت – 219
35. د حضرت علي هجرت – 222
36. قبا کښې قیام – 225
37. مسجد نبوي جوړول – 228
38. مدینې ته د مهاجرینو جمع کېدل – 232
39. د حضور پۀ مدینه کښې ورومبۍ خطبه – 234
40. د یهودو سره معاهده – 235
41. د انصارو او مهاجرینو وروروليي – 237
42. د اذان بیان – 239
43. د صرمة ابو قېس بیان – 241
44. د یهودي دښمني – 242
45. د عبدالله بن سلام اسلام – 244
46. د اُحد غزا – 247
47. د بعضې منافقانو ذکر – 249
48. مسجد 'ضرار' – 252

برق رحيم الله: زما کليوال

برق رحيم الله زما کليوال ۆ. ما نه به کله هم هېر نۀ شي چې د هغۀ د نعتونو قصې چاپېره خورې وې او ما ته دا سعادت حاصل ۆ چې ما به پۀ خوږ غږ د هغۀ ښکلي نعتونه لوستل. زۀ پۀ دې خبره فخر کوم چې ما به پۀ ډېره مينه د برق صاحب ليکلي نعتونه لوستل، او اوس هم چې کله کښېنم، هاغه نعتونه پۀ خوږ اواز وايم او زما زړۀ ته يوه تسلي او رڼا ورکوي. چې کله دا مسوده زما خدائے بخښلي يار بحر دوست محمد ته د شعري نظرثاني د پاره ورکړې شوه او زۀ ترې خبر شوم نو زۀ ډېر حېران شوم. زۀ پۀ دې کله هم حېران نۀ شوم چې برق صاحب دا منظوم سيرت وليکلو، هغه يو فطري او خدائي شاعر ۆ، او خدائي شاعر ته داسې شاعرانه کمال کول څۀ ناشوني نۀ وي – زما د پاره د حېرانتيا خبره دا ده چې برق صاحب هېڅ دنياوي يا ديني تعليم نۀ ۆ کړے. دا بس د هغۀ د پاک رسول سره مينه او د صاحبِ حق صاحب نګراني وه چې دا دومره لويه کارنامه ئې تر سره شوه. اوس دا يوازې د برق صاحب د روح او کور د پاره نۀ، بلکې زما او ټولې علاقې او د پښتونخوا د پاره د فخر مقام دے چې د 'ساقي کوثر' پۀ نامه دا سيرت ستاسو لاسونو کښې دے.

دا کتاب تاسو ته در رسولو کښې يقيناً چې زما د دواړو ملګرو، فضل معبود معاذ او بحر دوست محمد د کمپوزنګ او پروف ريډنګ کردار ډېر بنيادي دے. زۀ د خپل اړخه او د محمد آصف سليم لۀ اړخه د ښاغلي ارشاد خان پښتون هم مننه کوم چې د مسودې پۀ تيارۍ کښې کردار ادا کړے دے.

د دې کتاب چاپ کښې د کلي علاقې خلکو هم خپل وس د برکت او ثواب پۀ نيت کړے دے چې پۀ هغوي کښې د خالد خان، تجمل حسېن، محمد

عادل سلیم، ډاکټر محمد صهیب، حاجي عبدالله، فرهاد علي، شاهد علي، حاجي جان عالم مومند او محمد آصف سلیم نامې اخستل غواړم.
خو د دې نومونو سره سم، د ډهکي علاقې د ټولو پښتنو او مسلمانانو ډېره مننه او شکر ګزاري کوُم چې دا کتاب ئې ستاسو مخې ته راوړلو کښې برخه اخستې ده.
د استاذ برق رحیم الله لیکلے شوے منظوم سیرت 'ساقي کوثر' دې مونږ ټولو ته مبارک وي.

پۀ درناوي
نعیم مخلص

دیباچه

برق رحیم الله صاحب پۀ کال 1911 کښې پۀ سکرو ډهېرۍ د بختیار خان کلي کښې پېدا شوے ؤ. د پلار نوم ئې عبدالله او پۀ قبیله مومند یوسف خېل ؤ. د سکرو ډهېرۍ نه میرانۍ ښاخ کښې دېره شو. د میرانۍ نه کوزې حصارې ته پۀ کډه راغلو او د امیر نواز خان نه ئې زمکه پۀ ایجاره ونیوله. برق صاحب کساني نۀ کوله، زمیداري ئې پرېښوده او د ډهکي باجوړو کلي ته پۀ کډه راغلو او پۀ کال 1980 کښې ئې د ډهکي اډه کښې دوکانداري شروع کړه. شاعري قدرتي عطاء او استعداد دے. بعضې خلکو له الله پاک لوي لوي علمونه ورکړي وي، لېکن پۀ هغوي کښې د شعر وئیلو او لیکلو صلاحیت نۀ وي. خو داسې شاعران هم شته چې د بې تعلیمۍ او بې سوادۍ باوجود پۀ دنیا کښې د خپل شعر پۀ برکت لوے نوم او مقام لري. پۀ دغه ناخوانده خلکو کښې یو نوم د رحیم الله برق دے. برق صاحب د مدرسې او پوهنتون لارې نۀ وې لیدلې، خو د دې باوجود هغوي د خپلې ساده شاعرۍ لۀ کبله پۀ ډېرو زړونو راج کړے دے. نو مونږ دا وئیلے شو چې شاعري یو فن او هنر دے.

د هر شاعر پۀ شاعرۍ بحث کول یا څۀ لیکل زما غوندې د ناپوهه سړي کار نۀ دے. نۀ زۀ شاعر یم او نۀ د شاعرۍ پۀ پوله تلے یم، خو دومره ده چې برق صاحب سره ناست پاست یم.

هسې خو د برق صاحب شاعري ډېره زیاته ده، خو پۀ کال 1984 کښې ئې د حضور صلي الله علیه وسلم سیرت ولیکلو. د ډهکي مولانا عزیز الرحمان صاحب چې 'د ډهکي صاحب حق' پۀ نوم یادېدو، هغوي پۀ خپله د مختلف تفسیرونو نه د سیرت مجموعه پۀ نثر کښې ولیکله او برق صاحب دغه مجموعه منظومه کړه – یعني د شاعرۍ ژبه ئې ورکړه.

د سيرت کتاب چې مکمل شو نو برق صاحب پهٔ خپله يو کاتب له د ليکلو د پاره ورکړو. د څهٔ وجوهاتو پهٔ سبب کتاب د ليکلو يا کتابت نه پاتې شو. څهٔ موده پس دا نسخه مونږ ته پهٔ لاس راغله او مونږ د کتاب د مرتب کولو تابيا وکړه. خپلو ملګرو، اديبانو او شاعرانو هم مشوره راکړه چې دا کتاب چاپ کول غواړي.

برق صاحب پهٔ کال 1993 کښې وفات شو او د ډهکي پهٔ لويه مقبره کښې خاورو ته وسپارلے شو. پهٔ ګور ئې نورشه!

مونږ کهٔ ځير شو نو پهٔ دې چاپېرچل کښې درې غټې جرړه ورې ژبې عربي، فارسي او پښتو دي. هر څو کهٔ د اريائي او سماطيقي خلکو نسلي اختلاف ؤ، خو د اسلام د قبوليت نه پس دا دواړه نسلونه عرب او آرين (فارسيان او پښتانهٔ) د يو بل سره داسې واغږل شو چې يو خمير ترې جوړ شو. دغه رنګ د دوي ژبو هم د يو بل سره نهٔ بېلېدونکے ګډون وکړو. کهٔ هر څو عربي او فارسي د علم و فضل ژبې وې، نو پښتو هم د دغه ژبو سره پهٔ هر قدم سيالي لرله. کهٔ يو وخت کښې عربۍ او فارسۍ کښې د علم کار پهٔ عروج باندې ؤ، نو پښتو هم پهٔ دغه رنګ کښې رنګ وه.

پهٔ خاص توګه کهٔ مونږ مذهبي اړخ واخلو، نو د مذهب د پاره اساسي ژبه عربي ده. د دغه اساسي ژبې نه کهٔ کار پهٔ فارسۍ ژبه کښې ترجمه شوے دے نو فارسي هدفي ژبه ده. اوس کهٔ مونږ وګورو چې پښتو ژباړه براه راست د عربۍ نه شوې ده او يا د فارسۍ نه شوې ده. چونکې د دغه دواړو ژبو سره د ژورو اړيکو او نفسياتي تړون لۀ کبله، د دغه ژبو نه پهٔ اخذ شوي کار کښې هم يو اصل رنګ ښکاري او مونږ داسې محسوسوو چې دغه کار پښتو ژبې ته د عربۍ يا فارسۍ نه نهٔ دے راغلے، بلکې دغه رنګ د پښتو د خپلې لمن خپل رنګ ښکاري.

د مثال پهٔ توګه به زهٔ د عبدالقادر خټک 'ګلستان' ياد کړم چې د فارسۍ

ژبې نه ژباړلے شوے دے. دغه رنګ کۀ د قرآن پاک د فقهې او سيرت پۀ حواله سره مونږ وګورو نو څومره کار چې پۀ پښتو کښې شوے دے، نو د عربۍ رنګ پۀ کښې د پښتو د رنګورې غبږ رنګ ښکاري او عربي هم لکه د فارسۍ د پښتو سکه خور محسوسېږي.

دلته زمونږ کار د سيرت النبي صلي الله علېه وسلم پۀ حواله سره دے. پښتو ژبې ته 'سيرت النبي' د عربۍ ژبې نه ژباړلے شوے دے، خو پۀ دغه لړ کښې ځانګړے کار منظوم سيرت دے چې د ژباړې سره سره پۀ کښې د پښتني معاشرت او مقاميت خوند هم جوت ښکاري. ځکه مونږ محسوسوو چې د 'سيرت النبي' زيات واقعات زمونږ د خپل چاپېرچل واقعات دي.

پۀ 'سيرت النبي' تر دې دمه کۀ هر څو مربوط منظوم کار مخې ته نۀ دے راغلے، خو د پښتو ژبې هر يو شاعر پۀ کښې خپله برخه پۀ څۀ نا څۀ رنګ کښې ضرور اچولې ده. د بايزيد مريدانو، د اخون درويزه پېروکارو، د پښتو کلاسيک شاعرانو خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حميد بابا او علي خان او د هغوي هم عصرو او د نوي دور شاعرانو لکه احمدين طالب، حمزه شينواري، علي حېدر جوشي، عبدالله استاذ، حاجي محمد آمين او داسې نورو بلها وګړو پۀ څۀ نا څۀ شکل کښې پۀ 'سيرت النبي' طبع ازمائي کړې ده، خو چا چې د خوږ نبي صلي الله علېه وسلم ژوند ډېر پۀ ترتيب سره منظوم کړے دے، هغه د ضلع چارسده شمالي اشنغر ډهکي برق رحيم الله دے.

د برق رحيم الله بابا دا مسوده چې زما پۀ لاسونو کښې ده، د پښتو ژبې د شعرونو هغه ځانګړې مجموعه ده چې د خوږ نبي صلي الله علېه وسلم پۀ سيرت مبارک ليکلې شوې ده. دا سيرت پۀ منظوم انداز کښې ليکلے شوے دے چې پۀ پښتو ژبه کښې وړومبے کوشش دے او د پېغمبر ژوند

په کښې کړې، په کړې، په شعرونو کښې بيان شوے.
برق رحيم الله بابا ته دا خبره معلومه وه چې د خوږ نبي سيرت مبارک په شعرنو کښي ليکل يو ګران او د زړۀ چاودون کار دے، ځکه خو هغه د دغه کار شروع څۀ داسې کوي:

لويه خدايه! لوے امداد غواړم لۀ تا نه
لوے امداد را سره تۀ وکړې سبحانه!
دا تاريخ ليکم د هغه پېغمبر لوے
لوے عزت چې تا ورکړے دے بې شانه

د دې سيرت مبارک په حقله کښې محترم جان عالم استاذ ليکي چې:
"هسې خو د برق صاحب د شاعرۍ مجموعه ډېره زياته ده، خو په کال 1984 کښې ئې د حضور صلي الله علېه وسلم سيرت وليکلو. د ډهکي مولانا عزيز الرحمان صاحب چې د ډهکي د صاحب حق صاحب په نوم يادېدو، هغوي په خپله د مختلفو تفسيرونو نه د سيرت مجموعه په نثر کښې وليکله او برق صاحب دغه مجموعه منظومه کړه. عزيزالرحمان صاحب چې د ډېرو کتابونو مؤلف او مصنف دے، د برق رحيم الله بابا په منظوم سيرت ليکلو کښې هم غټ لاس لري."
دلته مونږ دا نۀ شو وئيلے چې د برق رحيم الله بابا کار صرف يو منظوم کار دے، بلکې د دۀ په کار کښې سپيځلې مينه هم برېښي، کومه مينه چې خوږ نبي سره دوي لرله.

زۀ برق رحيم الله دې ديدن ته يم لېواله
په عشق کښې مبتلا دې ما خلاص کړه لۀ جنجاله
يو تۀ مې دلدار يې، ستا مينې کړم شاعر ګله!
سرور سردار يې! سپين مخ دې جلوه ګر ګله!

مونږ كۀ د برق رحيم الله بابا منظوم سيرت وګورو نو دغه سيرت د حضور صلي الله علېه وسلم د ټول ژوند مبارک عکاسي کوي، خو د سيرت هره واقعه ځان له باب دے - لکه د معراج پۀ واقعه کښې د دغه شپې مبارکې پوره پۀ پوره تفصيل ډېر پۀ ترتيب بيان شوے دے. دغسې چې کومه واقعه بيان شوې ده، نو د واقعې نه مخکښې سرخط هم ليکلے شوے دے چې د واقعې اندازه ترې لګي.
برق رحيم الله پۀ خپله شاعرۍ کښې بعضې الفاظ داسي هم راوړي دي چې هغه خود عربۍ الفاظ دي، خو برق صاحب دغه الفاظ مفغّن کړي دي، يعني پښتو کړې ئې دي. لکه 'ملائيکه' لفظ ئې 'ملايکې' ته اړولے دے. دغه عمل د ژبې پۀ وده کښې ډېر اهميت لري او دغسې د يوې ژبې لمنه پۀ نوو لفظونو درنوي.
سيرت مبارک چونکې د ډېر علمي شخصيت مولانا عزيزالرحمان المعروف 'صاحبِ حق صاحب' پۀ نګرانۍ کښې ليکل شوے دے، نو د غلطۍ امکان ډېر کم لري. چونکې د مسلک پۀ لحاظ سره صاحب حق صاحب دېوبندي مفکوره لرله، ځکه خو برق رحيم الله بابا هم پۀ خپل منظوم سيرت کښې دغه رنګ لري او د خپلې مفکورې پۀ مخالفينو هم سخت ګزارونه کوي. دغه ګزارونه د سيرت مبارک نه علاوه، د هغوي پۀ نوره شاعرۍ کښې هم بربښي.
ځنګه چې مونږه وړاندې وئيلي دي چې پۀ برق رحيم الله صاحب د صاحب حق صيب ډېر اثر ؤ؛ د دې نه علاوه به هغه د چاپېرچل پۀ هر مذهبي پروګرام کښې هم شريک ؤ او زياتره به ئې د سټېج نظامت هم کولو. د خبرو او شعرونو وئيلو انداز ئې زړۀ راکښونکے ؤ. د خپلو شاګردانو حلقه به ترې هر وخت چاپېره وه چې زياتر پۀ کښې نعت خوانان وو، لکه کشمير خان، مزمل خان، عبدالسلام عارف، امير حمزه خان، سرتاج مومند او

جهانګير خان وغېره – څکه خو د برق رحيم الله بابا رجحان او طبع مذهبي شاعرۍ او نعت ګوئي پله مائله وه.
برق رحيم الله بابا يو عوامي وګړے هم ؤ. د شلمې پېړۍ په شپږمه لسيزه کښې چې په شمالي اشنغر کښې د مزدور کسان کوم تحريک را پورته شو چې مشري ئې محمد افضل بنګش، شېر علي باچا، سالار محمد شاه علي، ستار لالا او زيارت ګل لالا کوله، نو برق رحيم الله بابا په کښې هم لکه د سيد ابرار غر صاحب، ماسټر سلطان خلقيار، عنبر استاذ، محب ګل کاکا او وزير محمد مجبور د خپلې شاعرۍ برخه واچوله. دغه شاعري که هر څو لږه ده، خو ډېره بامقصده ده. د ژوند نبغ په نبغه نمائندګي په کښې ښکاري اوعوامي اپيل لري.
برق رحيم الله چې په کوم عصر کښې شاعري کړې ده، په دغه عصر کښې په اشنغر کښې ډېرو لويو لويو شاعرانو شاعري کوله چې په کښې غني خان، اشرف مفتون، اکرام الله ګران، اشرف غمګين، اعظم اعظم او داسې ډېر نور ستوري شامل وو، خو د غزل او نظم په اړخ د رجحان د کمي لۀ کبله هغه د ادب په اسمان لکه د دغه خلکو و نۀ پړقېدو. په دې کښې د هغوي جغرافيائي حالات، د عصري تعليم نشتوالے او غربت شامل دي. البته که د مومندو د شاعرانو چمن ته زمونږ پام شي، نو که په دغه چمن کښې د رحمان بابا، حميد بابا، معزالله خان مومند، عوض خان مومند، محمد نذير، سنګر جمال او تاج محمد مومند په شان د ډېر ارزښت وړ ګلونه شته چې برق رحيم الله په کښې لکه د ګلاب د ګل ښکاري چې په خوشبو ئې ټول ادبي چاپېرچل معطر دے. برق رحيم الله په ختټه حليمزے مومند دے.

اوس ئې په ګوتو د راتلو خبرې ګرانې شولې
مومندې سترګې مې په زړۀ باندې کسانې شولې

جان عالم استاذ راته د کشر آصف سليم ډهکي پۀ لاس د برق رحيم الله دا قلمي نسخه را ولېږله چې فضل معبود معاذ ئې د نظره تېره کړي او د املا غلطيانې ترې وباسي او زۀ پرې د ليک کار تر سره کړم. ما دغه نسخه ډېره پۀ خوند ولوستله. څو خوندور شعرونه د شعري خوبيو نه ډک ستاسو سره شريکول غواړم. د نجاشي پۀ دربار کښې د نجاشي پۀ پوښتنه جعفر طيار څۀ داسې ګويانه شو:

مونږه مخکښې وو د دې نه جاهلان
پۀ خدايانو مو نيولي وو بتان
مونږ مردارې به خوړې ګنده کارونه
قطع وه صله رحمي، کېدۀ قتلونه
ګاونډي سره به مونږه بد کولو
زورور به د کمزوري مال خوړلو
پۀ بيبيانو پاک لمنو به مو تور
يتيمان به رانه تنګ وو کور پۀ کور
پېغمبر مونږ ته را ولېږو پاک رب ښۀ
چې معلوم دے د هغۀ مونږ ته نسب ښۀ
راته ئې وښودو د يو خدا ے عبادت
مونږه خلاص شو د بتانو د لعنت
مونږه پرېښودل همه ګنده کارونه
بس د يو الله کوو عبادتونه
پېغبر وئيل زۀ اميد لرم لۀ خدايه!
چې اولاد به د دوي وخېژي نېک رايه
برقه! صبر صبر صبر دے پۀ کار
د صابرو خلکو مل وي کردګار

چې طالب د حضور ترۀ شولو وفات
بیا پۀ دۀ مصیبتونه شولو زیات
د قریشو نه شو تنګ اخر زمان
بیا طائف طرف ته دے شولو روان

د سیرت اخري شعر برق صاحب څۀ داسې لیکلے:

برقه! دا متل پښتو ژبه کښې کېږي
کږې خولې بغېر د سوکه نۀ سمېږي

دوست محمد بحر
صدر جیندي پښتوادبي جرګه شمالي
اشنغر چارسده،
څلورم اپرېل، 2018

پيدائش د حضرت محمد ﷺ

لويه خدايه! لوے امداد غواړم لۀ تا نه
لوے امداد را سره تۀ وکړې سبحانه!
دا تاريخ ليکم د هغه پېغمبر لوے
لوے عزت چې تا ورکړے دے بې شانه
عبدالله بن عبدالمطلب د دۀ پلار ؤ
چې هېڅوک ترې وړاندې نۀ وو پۀ مړانه
ډېر بهادر ؤ عبدالله پۀ هلکانه کښې
د ښکار شوق ئې ؤ زړۀ کښې لۀ پخوا نه
دے به ښکار پسې ځنګل ته تلو يوازې
خوف خطر ئې زړۀ کښې نۀ ؤ د هېچا نه
يوه ورځ څو يهوديان ويستلې تُورې
د دۀ قتل پسې لاړۀ ناګهانه
يو سړے نوم ئې وهب بن مناف
يهوديانو نه را مخکښې شو اے ځوانه!
ورته وئيل ئې دلته څۀ د پاره راغلې؟
نيت خراب لرې، تپوس کؤم لۀ تا نه
يهوديانو ورته وئېل، عبدالله وژنو
يو هلک به پېدا کېږي د دۀ شا نه
دا زمونږ واړه دينونه به موقوف کړي
سلسله مسلماني به کړي روانه
وهب ووئيل چې خدائے پېدا کوي څوک
تاسو ئې نۀ شئ بندولے پۀ اسانه

پۀ ناحقه باندې خون د چا وا نۀ خلئ
خپل ځان وساتئ د قهر د الله نه
دوي لا دا خبرې يو بل ته کولې
څو غېبي سوارۀ ښکاره شو د يو خوا نه
لۀ يهودو ئې سمدست سرونه پرې کړۀ
د ارمانه سره لاړل د دنيا نه
وهب دا تماشه وليده پۀ خپله
کور ته راغے نو بي بي ته شو ګويانه
د ځنګل قصه ئې کړله ورته تېره
يهود مړۀ کړۀ چا بغېر د عبدالله نه
مناسب دي چې دا لور هغۀ ته ورکړو
آمنه نوم چې لري پۀ مونږه ګرانه
زما خيال باندې هم دۀ سره جوړېږي
کۀ دا ليک ئې مقرر وي د اسمانه
لنډه دا يو زنانه ئې ولېږله
مُطلّب صاحب ئې خبر کړو د بيانه
مُطلّب صاحب چې خبر شو لۀ دې حاله
بې تاخير ئې غاړه کېښودله جانه!
برقه! دواړه طرفېن سره رضا شو
اوس قصه د پېدائش شوله اسانه
د نکاح پېغام ئې ولېږو وهب ته
راشه ګوره! قدرتونو د پاک رب ته
وهب لور پۀ نکاح ورکړه عبدالله ته
هغه وشي چې منظور وي پاک الله ته

پۀ شرف، حُسن، جمال چې وه معموره
عبدالله ته پۀ نکاح شوه دغه حوره
هغه نُور محمدي چې ښکارېدلو
پۀ تندي د عبدالله کښې ځلېدلو
منتقل شو بیا رِحم د آمنې ته
هر څۀ رسي خپلې خپلې نصیبې ته
پېغلې دوه سوه مکه کښې د خفګانه
د وصال پۀ ارمان لاړې د دنیا نه
د وصال نه نامحروم د عبدالله شوې
پۀ افسوس د تورو خاورو لاندې دا شوې
چې د مور رِحم کښې شو نُور د حضور
یو غیبي وشو اواز داسې ضرور
عرشه! تۀ د نُور بُرقې کړه نن پۀ سر
کرسۍ ته کړه هم پۀ سر د نُور څادر
د جنت حورو! کړئ جوړ ډول سنګار
دریچو کښې د جنت کښېنئ قرار
ملائیکو! د نُور پټکي وتړئ ډېر
کمر کش د عرش نه ودرېږئ چاپېر
داروغه د جنت! پوه شه پۀ حالونو
دروازې دې کړه بر څېر د جنتونو
مالک بند کړې دروازې د دوزخونو
ظهور وشو د الله د قدرتونو
د مور ګېډه کښې نبي رونق افروز شو
پسرلے دے، بهارونه دي نوروز شو

آمنه بي بي فرمائي پهٔ هسې شان
چې دا حمل زما دومره ؤ اسان
ما د يو زنانه دا نهٔ دے ليدلے
هېڅ څهٔ بوج تکليف پهٔ ما نهٔ دے راغلے
چې نبټه د ولادت نزدې کېدله
خوشحالي به پهٔ ما نوره زياتېدله
دومره نوره خوشحالي نهٔ وه بل چا ته
لکه څومره چې نصيب کړه الله ما ته
هره مياشت يو پېغمبر به راتلو خوا له
خوشخبري زېرے به دوي راوړلو ما له
فضائل ئې د رسول بيانول
ما پهٔ دې غوږو به دوي نه اورېدل
خدا ے به درکړي يو بچے غمونه پرېږده!
کهٔ پېدا شو، 'محمد' نوم ورله کېږده!
پېدا نهٔ ؤ پهٔ دنيا نبي حضرت
پلار ئې شام ته شو روان پهٔ تجارت
پهٔ منځ لار کښې عبدالله شو سخت بيمار
ساه ئې ورکړه لاړو دے د حق پهٔ لار
ؤ پهٔ عمر د پنځويشتو کلونو
دغه گل چې خزان يوړو د گلونو
بيا دفن شو مدينه منوره کښې
هلته ښخ شو د نيکانې مقبره کښې
برقه! مرګ خو کهٔ څوک ناست وي کهٔ ولاړ
ناگهانه حمله وکړي پهٔ انسان

د انسان زړهٔ کښې وي يو پېښه شي بله
څوک خبر دي د تقدير پهٔ چاره خپله
محدث دهلوي ليکي پهٔ دا شان
چې پېدا شو محمد آخر زمان
پهٔ سجده الله ته پرېوتو دستي
دا ئې ووې رَبِّ اِغۡفِر! اُمَّتِيۡ
د جنت پهٔ اوبو پاک لکه د ګل
اُمتي ئې پهٔ وړو شونډو وئيل
نوم پرېکړے مختون شوے قدرتي ؤ
د الله پهٔ در کښې ډېر برکتي ؤ
آمنه وائي، کور مې ډک شو د رڼا نه
چې مشرق مغرب ئې دواړه کړهٔ روښانه
بيا يو بل صحابي حال وائي اے ګله!
ما د نُور نه کعبه ډکه وليدله
ستوري داسې د اسمان نه راغلهٔ لاندې
ما وئيل جوړې را لوېږي پهٔ ما باندې
زلزله شوه د کسريٰ پهٔ محل باندې
ګټې پرېوتې څلور پنځوس ترې لاندې
بحيره طبريه فوري وچه شوله
نا اشنا علامه خلکو وليدله
يخې پخې د فارس آتش کدې شوې
چې د زرو کالو ګرمې وې، سړې شوې
نهه ورځې يا اووهٔ ورځې پهٔ شمار
پے خوړلي د خپل مور نبي روئېدار

اتۀ ورځې ثوبیه په ښۀ ادب
خدمتګاره چې وه دا د ابو لهب
تے ورکړے محمد رسول الله ته
ثوبیه بي بي د دوو کونو بادشاه ته
ابو لهب کړه دا پۀ زړي کښې ازاده
سامعینو دا خبره لرئ یاده!
دغې ښځې هم د پاک پېغمبر ترۀ ته
تے ورکړے ؤ بهادر امیر حمزه ته
پۀ عربو کښې بچي د سردارانو
پۀ ساتنه باندې ورل به دائي ګانو
پۀ ساتنه به ترې ورل خلکو ضرور
پۀ قرېشو کښې ؤ دا رنګې دستور
د طائف نه قافله د زنانه وو
ډېرې راغلې ورسره هم نارینه وو
پۀ دې طمع راغلې دوي د خپل وطنه
ماشومان چې مونږه یوسو پۀ ساتنه
یو سورلي د حلیمې بي بي مانده وه
وروستو راغله تا به وئېل جوړې پیاده وه
ټولو ونیول بچي د سردارانو
شو نصیب د حلیمې پۀ یتیمانو
برقه! ټهیک ده پۀ ظاهر یتیم یسیر ؤ
پۀ باطن کښې د تمام جهان امیر ؤ
بخت بلنده سعدیه شوه پۀ دا شان
پۀ نصیب ئې شو بادشاه د دو جهان

حليمې بي بي وئيل زما شوهره!
کۀ دې خوښه وي کؤم درته خبره
دا يتيم ماشوم به وړو سره د ځانه
څۀ چې کېږي پاک الله دے مهربانه
دے نمسے د عبدالمطلب قريش نسب دے
محمد بن عبدالله پۀ قام عرب دے
خاوند ښځه شو رضا پۀ دې ګفتار
شو مکه کښې پوره دوه ورځې ايسار
حليمه وائي زۀ چې ورغلم دننه
ما د ورايه دې ماشوم ته وکتنه
زړۀ راکښونکې يو رڼا پۀ کښې ښکاره وه
دا جلوه د مخ ئې هر طرف خوره وه
د سپين مخ نه ئې شعلې ختې د نمر
پۀ ليدو سره ئې پۀ ما وشو اثر
هر انسان به چې د دۀ مخ ته کتل
لکه وي تازه پۀ پرخه باندې ګل
زما دومره ورسره شو محبت
بې څۀ ډيل نه مې کړو غېږ کښې را اوچت
ښۀ سينې ته مې د ټکه واچولو
پۀ مزه مزه شودۀ ئې ورودلو
چې مې کيڼ طرف ته واچوو دا ښکلے
دۀ د کيڼې سينې تے نۀ دے رودلے
د کيڼ تي شودۀ ئې ورور ته پرېښودل
ماشوموالي کښې ؤ پاک نبي عادل

پهٔ دربمه ورځ شو مونږه را روان
بیا زما سورلۍ ته خلک وو حېران
بیا زما سورلۍ د باد سره خبرې
قافله به رانه پاتې شوله لرې
قافلې به راته وئېل چې پهٔ مزه څه!
منډې مه وهه! لږ ورو پهٔ اندازه څه!
ما به واګې دم پهٔ دم ورله راکښلې
دې سورلۍ ودرېدل نهٔ وو پېژندلې
زهٔ د ټولو نه وړومبۍ ورسېدمه
چې د کور کلي عالمو ولیدمه
قحط سالي وه دغه ورځو کښې پهٔ مونږه
چې وه ټوله علاقه د لوږې تنګه
دغه قحط پهٔ ابادۍ باندې بدل شو
چې قدم پهٔ کښې د پاک نبي داخل شو
حلیمه وائي زما مال کښې برکت
را پېدا کړو یو پهٔ لس باندې قدرت
چې بیزې به زما کوم طرف ته تللې
ډکې پکې به واپس کور ته راتللې
دغه خلکو به چې دا ښاروي لیدل
ښاروي خپل ئې زمونږ مال سره شړل
برقه! غرونو کښې پېدا شوې ګیاګانې
پۍ ئې زیات کړهٔ کهٔ بیزې وې کهٔ غواګانې
حلیمه وائي د حضور پهٔ برکت
ما ته کور کښې د ډیوې نهٔ ؤ حاجت

چې کوم څیز به ما تیارهٔ کښې راخستلو
د حضور د مخ پهٔ نُور به مې لیدلو
هر طرف ته به د نُور وې رڼاګانې
لکه ګېر چاپېره شمعې وې روښانې
هېڅ تیارهٔ کوټه کښې ما نهٔ وه لیدلې
چې ورتلم به رڼاګانې به وې ښکلې
چرې دهٔ ژړلي نهٔ وو پهٔ هېڅ شان
لکه ژاړي چې دا نن څهٔ ماشومان
ما لیدلي نهٔ دي کله پهٔ نظر
څهٔ د بولو خاخکي دهٔ نه پهٔ بستر
دوېمه میاشت کښې اشارې پهٔ لوڅو پوڅو
پهٔ دریمه ئې شروع کړه پهٔ خرپوسو
څلور میاشت پس به بیا اوچتېدهٔ دے
پهٔ پینځمه پهٔ دېوال پورې به تلهٔ دے
پهٔ شپږمه پهٔ اوومه کښې پاپلې
پهٔ اتمه کښې به ئې بیا منډې وهلې
پهٔ نهمه ئې د طوطي غوندې خبرې
کړې شروع پهٔ نرمو شونډو ملغلرې
پهٔ لسمه شو ګویان لکه بلبل
یوولسمه کښې ئې صفا غشي ویشتل
ځان سره به ئې لینده غشي اخستل
پهٔ طرف باندې به تللو د ځنګل
دهٔ یو څیز راخستو نهٔ بې بسم الله نه
لوے امداد به ئې غوښتو د لوے الله نه

حليمې به لرې نۀ پرېښود د کوره
نۀ به دے بې اجازته تلو د موره
يوه ورځ رضاعي خور سره ؤ تلے
د ګرمۍ پۀ وخت کښې کور ته راغے ښکلے
مور ئې ووې خپلې لور ته پۀ نرمۍ کښې
دا هلک دې ولې راوستو ګرمۍ کښې
خور ئې ووئېل د ګرمۍ دے پۀ امان ؤ
د وريځ سيورے ئې پۀ سر باندې روان ؤ
دغه وريځ به ئې پۀ سر باندې راتلله
هېڅ ګرمي مې ورور ته نۀ ور رسېدله
چې د درې کلونو شو نبي سلطان
مور نه وغوښت اجازت پۀ هسې شان
ورته ئې ووئېل اجازت کۀ راکړې ما ته
زما مورې! زۀ به ډېر شمه خوشحال
حليمې سعديې ورکړو اجازت
پۀ دې خيال چرې خفه نۀ شي حضرت
مور چې ورکړو اجازت د ګلاب ګل ته
بيزې بوتللې دۀ ورور سره ځنګل ته
برقه! تۀ به کړې شروع نوے داستان
سامعين به ورته پاتې شي حېران
پۀ ښاروو پسې روان شو دوه ګلونه
د مکې او د يمن سوچه لعلونه
دا ګلونه چې ځنګل ته شو قريب
ملائکو پۀ زمکه ښملاوۀ حبيب

جبرائيل امين سينه کړه ورله څيرې
زړۀ ئې صفا کړو د حسد، بغض د خيرې
بيا يو نيز د معرفت او نبوت
زړۀ ئې ډک شو د لوے خدا‌ے د محبت
زړۀ ئې بيا ورله پۀ ځا‌ے کړو برابر
جبرائيل ئې سينه وګنډله زر
مبارکه سينه ئې څيرې تر نامه وه
د ملائيکو اپرېشن دا علامه وه
رضاعي ورور ئې پۀ منډه راغے کور ته
دغه حال احوال ئې ووې خپلې مور ته
زما ورور يو دوه کسانو دے نيولے
د سينې پۀ سر هغوي دواړو څيرلے
مورې دغه سفېد پوش دواړه سړي دي
نۀ پوهېږم چې دوي سم کۀ خونړي دي
زۀ ترې راغلم هغه پاتې شو زما نه
ور رسېږه! ساه مې خېژي لۀ خفګانه
حليمې بي بي سره د خپل خاونده
ساه نيولي دوي روان دي عقلمنده!
دوي چې ورغلۀ ډېر ؤ تغير بشر
لکه ګل د للمې مړاوے شي پۀ نمر
ګنډ ئې ؤ موجود پۀ ښکلې سينه باندې
را روان کړو سعديې ځان سره وړاندې
حليمه وائي چې ما کور ته راوستلو
خپل خاوند راته بيا داسې ووئيلو

دې هلک کښې د غوټې څۀ اثرات دي
مور نيکۀ ئې پۀ مکه کښې لا حيات دي
دے ور ورسوه خپل نيکۀ ته زر
هسې نۀ چې ورته پېښ شي څۀ ضرر
بيا مې ببرته پۀ مکه ښار کښې داخل کړو
آمنې بي بي پۀ دواړو شونډو ښکل کړو
خورې! ولې دې واپس کړو دا ګلاب؟
راله را به کړې رښتيا رښتيا ځواب
د ځنګل قصه مې کړه ورته بيان
ما وئېل شته پۀ دې هلک باندې پېريان
هغې ووې دا هرګز نۀ شي کېدلے
هېڅ غوټه پېريان پۀ دۀ نۀ شي راتللے
دا بچے زما مالک دے د لوي شان
هېڅ اثر کولے نۀ شي پرې شېطان
ما ته هغه وخت پۀ ياد د ولادت دے
پېدائش نه دۀ کښې ډېر لوي برکت دے
دا نمسے د عبدالمطلب نومې سردار دے
کۀ ماشوم دے خو نيازبين د کردګار دے
حليمې وطن ته بيا بوتلو دوبار
يو څو مياشتې پينځۀ کاله ؤ ايسار
تے ورکړے حليمې بي بي دوه کاله
محمد باندې بې شانه وه خوشحاله
پۀ شپږم کال ئې مکې ته پاک حضرت
حليمې سعديې راوست امانت

څلور واري اپرېشن د پاک حبيب
جبرائيل امين ؤ کړے پۀ ترتيب
يو ئې شوے اپرېشن هلکانه کښې
چې د لوبو شوق ئې ورک شي پۀ سينه کښې
بيا د لسو کالو عمر کښې قريب
ملائکو سينه څيرلې د حبيب
دريم ځل ئې اپرېشن غار حرا کښې
دا د وحي د زغملو پۀ بنا کښې
څلورم ځل د معراج شپه کښې دلداره!
ملکوت نه د لاهوت د تلو د پاره
پۀ شپږم کال شهنشاه د مرسلانو
تشريف راوړلو مکې ته سامعانو
برقه! نُور د خدائے مکه کښې اوسېدلو
پۀ ورو ورو لکه د ګل به لوئېدلو
ماماګان د پېغمبر عليه سلام
مدينه کښې وو، غوږ کېږده پۀ کلام
آمنې پاک محمد سره د ځانه
غبږ کښې واخست مدينې ته شوه روانه
خيال ئې دا ؤ چې د پلار وکړي زيارت
خدائے به راولي مونږ ببرته امانت
اُم ايمن ورسره وه يو خدمتګاره
وه پۀ حق د آمنې کښې وفاداره
پوره مياشت ئې مدينه کښې تېره کړله
بيا مکې معظمې و ته راتلله

د مکې نه نیمه لار کښې شوه بیماره
څوک خبر دي د قسمت په خپله چاره
ابوه نومې یو ځاے دے وایم تا ته
هغه ځاے کښې ئې روح وسپارو الله ته
یوه وینزه، بل هغه بچے ماشوم
محمد، احمد، محمود چې لري نوم
هغه ګل پاک د وحدت د ګلستان
مور ئې مړه شوله دے پاتې شو حېران
مور ترې لاړله د حق په حقه لار
دا غوټۍ ستړګې په نم وې د انار
د دنیا د باغیچو واړه ګلان
د یو نوک د محمد نه شه قربان!
آمنه بي بي هم هلته شوه دفن
چې رضا شي هغه کار کوي څښتن
ابمن بي بي په غېږ کښې راوړو ښکلے
خپل نیکهٔ عبدالمطلب ته نازولے
د نیکهٔ عمر څلور د پاسه سل
د دې عمر سړے نهٔ ؤ هلته بل
تربیت به ئې د خپل نمسي کولو
لکه خُوږ لاس به ئې ځان سره ساتلو
آمنې نه پس دوه میاشتې او دوه کاله
وروستو دا دے وفات شوے زما لعله!
بیا خپل ترهٔ ابي طالب ئې تربیت
لهٔ نظر ئې پناه نهٔ ؤ یو ساعت

څۀ لیکل لوستل یاد نۀ وو د پېغمبر
خدائے پۀ خپله کړو عالم د بحر و بر
چې د دولسو کلونو شو حضرت
ترۀ روان کړو ځان سره پۀ تجارت
تجارت باندې کړو ځان سره روان
چې بصرې نومې یو ځائے ته شو رسان
یو عالم ؤ بحیره د عیسایانو
هغۀ وپېژند بادشاه د دوه جهانو
ډېر ادب تعظیم ئې وکړو د سرور
وې وئیل دا آخري دے پېغمبر
وریځ ئې سیورے پۀ سر چتر ده روانه
سجدې هم کړې کاڼو بوټو د هر خوا نه
عالم ووئیل د پاک پېغمبر ترۀ ته
یهودیان به دې ضرر پېښ کړي ورارۀ ته
چې لۀ ځانه سره بو نۀ ځې دا شام ته
کړه واپس ئې، نقصان پېښ نۀ شي نېک نام ته
طالب ووئېل ستا پېغام مې دے منلے
بیا مکې ته ئې واپس کړو هغه ښکلے
د پینځویشت کاله عمر چې سرور شو
تجارت پسې بیا شام ته پۀ سفر شو
خدیجه بي بي یو کونډه وه مکه کښې
د نېکۍ اواز ئې خور ؤ علاقه کښې
خدائے ورکړے ورله ډېر ؤ مال دولت
پۀ هغې مال به ئې کولو تجارت

د نېکۍ، ایمانداری او دیانت
اورېدلې ؤ د پاک نبي صفت
مال ئې ورکړو وئيل ئې خوره ګټه حلاله
زیاته ستا د نیمې کمه راکوه ما له
شام ته لاړ پۀ تجارت رسول الله بیا
یو عالم ؤ هلته نوم ئې نستورا بیا
هغۀ هم وپېژندو آخر زمان
وئېل دا خاتم الانبیاء دے د سبحان
بحيره نومې عالم چې ؤ لیدلے
دیارلس کاله پس بیا شام ته راغے ښکلے
نفع ډېره زیاته ورکړله قدرت
بیا مکې ته واپس راغے پاک حضرت

د حضرت خدیجې سره نکاح

تجارت نه پس درې میاشتې ووتلې
خدیجه شوه پۀ نکاح د رسول ښکلې
پېغمبر ؤ د پنځویشتو کلونو
نکاح وشوله د دې سوچه ګلونو
خدیجه بي بي پۀ عمر څلوېښت کاله
چې د پاک رسول الله نکاح کښې راغله
بختوره دا بي بي وه پۀ نصیب
د نکاح خطبه ئې لوسته ابي طالب

يو حمزه او ورسره نور مشران
مشران وو د قرېش د خاندان
پينځۀ سوه روپۍ مهر مقرر شو
شو يو بل ته مبارک لکه اختر شو
برقه! تۀ ليکه تاريخ د پاک حبيب
خدا ے دې ستا کړي د جنت حورې نصيب
درې زامن ورکړۀ الله د خديجې نه
ځلورم ئې ابراهيم د ماريې نه
ماشوموالي کښې وفات دي څلور واړه
دا دنيا ده د ارمانه سره لاړه
يو قاسم، طاهر، طيب، بل ابراهيم
دا زامن د محمد نبي کريم
څلور لوڼه د حضرت د باغ ګلونه
اوس د دغو درته اخلمه نومونه
زېنب، او رُقيّه، ام کلثوم
فاطمه بي بي زهره نوم ئې معلوم
لوے عزت ورله ورکړے رب بېچون
چې لقب لري بي بي جنت خاتون
دا کلثوم وه پۀ نکاح کښې د عثمان
فاطمه وه د علي مردِ مېدان
رُقيّه د عثمان مخکښې وه ټبر
دا چې مړه شوه د کلثوم شولو شوهر
زېنبه پۀ ابو العاص باندې وادۀ وه
خدا ے خبر د ے چې ژوندۍ ځومره موده وه

د پينځۀ دېرش کالو شو د رب حبيب
مومنانو دا بيان واورئ عجيب
هغه کاڼے چې 'حجرِ اسود' ئې نوم دے
ځوک چې تلي دي حاجيان ورته معلوم دے
دوباره خانه کعبه ابادېدله
د قومونو پرې جګړه ونښتله
العرض د يو بل مرګ ته شو تيار
اتفاق وکړلو ټولو پۀ يو کار
چې ورومبے کوم يو سړے باب الصفا نه
راشي دې خانه کعبې ته له ښۀ شانه
وي ثالث د فېصلې به هغه ځوان
اعتراض به پرې هېڅ نۀ وي د انسان
محمد رسول الله راوست قدرت
شو نصيب د کاڼي دۀ ته سعادت
حکم وشو چې هېڅوک و نۀ کړئ شور
يو څادر ئې کړو د خلکو منځ کښې خور
پۀ کښې کاڼے کېښودو آخر زمان
کړۀ را ټول ئې د هر قام نه مشران
يو يو پيشکے ونيوۀ مشر د قام
فېصلې دې کوي دغسې نېک نام
پۀ شريکه خلکو يوړو تر دېواله
دا شرف ورکړو خدائے پاک رسول الله له
برقه! ټول قومونه يو بل نه رضا شو
دښمني لۀ منځه ووته، پخلا شو

پېدائش نه محمد رسول الله پاک
ټول مخلوق ته رالېږلے ؤ الله پاک
بې مطلبه ګرېدلے نۀ ؤ چا ته
نۀ به تلو د بې مطلبه خلکو خوا ته
کۀ مېلې د بت پرستو کۀ اختر ؤ
لوے الله ترې نه ساتلے بختور ؤ
نېک سيرته، خوش اخلاقه، پۀ زړۀ سپين
پۀ قرېش کښې ئې لقب ؤ د امين
چې صحرا لره به لړې تلو نېک نام
کاڼو بوټو به پرې اچوۀ سلام
دا اواز به دۀ پۀ غوږو اورېدلو
بې د کاڼو بوټو هيڅ به ئې نۀ ليدلو

د نبوت زېرے

چې څلوېښت کاله ئې عمر شو روان
بيا دويم دور شروع شو د سلطان
رنګا رنګ ښکلي خوبونه ئې ليدل
دا خوبونه ټول رښتوني به ختل
د سبا صبح صادق پۀ شان ښکاره ؤ
هيڅ غلطي به پۀ کښې نۀ راتله کره ؤ
بيا د وحي څۀ اثر ورته پېدا شو
محبت ئې د خلوت زړۀ کښې پېدا شو

دے يو غار 'غارِ حرا' نومې پۀ غرۀ کښې
د مکې نه پۀ درې ميله فاصله کښې
هغه غار کښې ئې شروع کړو سکونت
پاک نبي کوۀ د يو خدائے عبادت
مسافر چې به را پېښ شو پۀ دۀ باندې
خپل خوراک به ئې هغوي ته کړلو وړاندې
چې به ختم ورسره خرڅ او خوراک شو
را روان به بيا مکې ته هغه پاک شو
اول کړو به ئې طواف د بېت الله نه
مغفرت به ئې غوښتو د پاک الله نه
خرچ خوراک به ئې ځان سره يوړو دوبار
شو روان به پۀ طرف د هغه غار
العرض چې د رمضان مياشت شوه د بره
يو جلوه د نُور وه راغله برابره
فرښته د وحي وه، وکړه يقين
فرښتو کښې نوم لري جبرائيل امين
کلک ئې ونيولم غېږ کښې هسې شان
زور ئې راکړو، وئيل ولوله دا آن
ما وئيل چې زۀ لوستل نۀ شم کولے
پرې ئې نۀ ښودم، وم غېږ کښې ئې نيولے
زور ئې راکړو راته ئې ووې دوباره بيا
ما هم هغه ځواب ورکړلو ښکاره بيا
پۀ دريم ځل ئې زور راکړو داسې ډېر
چې پوښتۍ مې شوې يو بل کښې تېر و بېر

جبرائيل ووې، لوستونکے شه ووايه!
ما وئېل ورته چې څۀ ولولم؟ وايه!

اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الَّذِيۡ خَلَقَ (1)
خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ مِنۡ عَلَقٍ (2)
اِقۡرَاۡ وَ رَبُّكَ الۡاَكۡرَمُ (3)
الَّذِيۡ عَلَّمَ بِالۡقَلَمِ (4)
عَلَّمَ الۡاِنۡسَانَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ (5)

پېغمبر وائي چې دا مې ولوستلو
وېرېدلے وم، بدن مې لړزېدلو
کور ته راغے پرې شروع وو رڅېدل
خديجې بي بي پرې واچوۀ کمبل
چې څۀ قدرې سکون راغے د حضرت
خديجې بي بي ته ئې ووې حقيقت
اے بي بي! زۀ پۀ خپل ځان و وېرېدمه
هغې ووې ورته، کړه حوصله سمه!
خديجې ووې پۀ خداے مې دے قسم
خداے به تا نۀ کړي رسوا پۀ دې عالم
تا کښې شته صله رحمي مهمان نواز يې
پۀ دې کُل واړه عربو کښې ممتاز يې
د غريبو د بې کسو مددګار يې
تل د حق پۀ مرسته تۀ د مزدورکار يې
بيا يې ور وستو ورقه بن نوفل ته
د خپله کوره خديجې بي بي هم هلته
لوے عالم ؤ د تورات او د انجيل
ډېره پوهه وه ورکړې رب جليل

د ترۀ زوي د خديجې ؤ نامور
محمد ته وائي، شولې پېغمبر
دا د وحي فرښته راغلې تا له
چې راتله به ابراهيم او هم موسٰي له
دا خپل قام به درته ډېر شي دښمنان
افسوس دا دے چې زۀ دې وخت کښې وے ځوان
چې لۀ تا سره مې کړے څۀ امداد وے
پوره شوے به زما د زړۀ مراد وے
حضور وکړه د ورقه ځينې پوښتنه
ما به ولې دوي وباسي لۀ وطنه
ورقه ووئېل چې داسې منصب غوره
چا ته ورکړے شي د لوي الله د دره
خپل وطن کښې ورته جوړ شي دښمنان
ما ليدلي داسې نور پېغمبران
ورقه سر د حضور مبارک ښکل کړو
محبت ورسره ډېر بن نوفل کړو
بيا بي بي ورته وئيل چې د ترۀ زويه!
خاندان کښې د هاشم د ټولو لويه
فرښته جبرائيل امين چې راشي تا له
د ترۀ زويه! ما خبر کړه د دې حاله
پاک رسول ورته وئيل بي بي مېرمنې!
جبرائيل کۀ ما له راغے پاک دامنې!
زۀ به تا کړمه د حاله خبردار
پېغمبر وکړو بي بي سره اقرار

د وحي احوال

پېغمبر له چې جبرائیل علیه سلام
کله راغے غوږ مې کېږده په کلام
هغې ووې خدیجې ته هسې شان
را لېږلے جبرائیل غني سبحان
دا دے اوس په دې موقع راغلے ما له
خدیجه بي بي په دې شوله خوشحاله
پاک رسول ته ئې وې زما په کیڼ پتون
اوچت کښېنه خبرؤم دې په مضمون
پېغمبر وکړو عمل په دې خبره
خدیجې وئېل اوس ئې وینې د زړۀ سره!
پاک نبي ووې اوس هم ما ته ښکارېږي
زۀ ئې وینم، دے زما نه نۀ پټېږي
بیا په بل طرف ئې کښېنوو پېغمبر
وئیل اوس راته هم ښکاري په نظر
بیا ئې غېږ کښې کښېنوو په ډېر ادب
وئیل ئې اوس ملائکه وینې د پاک رب؟
پاک حبیب ووې چې اوس هم ښکاري ما ته
زۀ جبرائیل امین ته ګورم هغه ما ته
خدیجې څادر په سر را واچولو
پېغمبر ئې بیا د حاله وپوښتلو

هغۀ وئېل اوس مې پناه شو د نظره
لکه لاړه شي رڼا د چا لۀ دره
خديجې وئېل د ترۀ زويه! شه خوشحاله!
دا د لوے خداے فرښته راغلې تا له
زړۀ مضبوط کړه! زيرے کړه زما قبول
مبارک دې شه! تۀ شوې د خداے رسول
بي بي ووئيل، قسم پۀ ذوالجلال
فرښته وه دا شېطان نۀ ؤ ارذال
پۀ نبي پاک ئې دستي راوړو ايمان
کلمه د محمد ئې کړه بيان
زنانوؤ کښې خديجة الکبُريٰ ده
پۀ اسلام کښې وړومبنۍ مؤمنه دا ده
دې وړومبے پۀ پېغمبر راوړو ايمان
پۀ ورو ورو به زياتېدل بيا مؤمنان
هغه وخت کښې کۀ څۀ رد او يا تکذيب
مشرکانو به کوۀ د پاک حبيب
تسلي به ورکوله بي بي ډېره
ګرځېدله به هر وخت ترې نه چاپېره
چې غمژن به کله کله شو روېدار
کړه بي بي به ئې د حاله خبردار
برقه! دغه دوه طوطيان د معرفت
پۀ مکه کښې را پېدا کړۀ لوي قدرت
پۀ مکه کښې د وحدت د باغ ګلونه
خداے ښکاره کړۀ د اسلام سوچه لعلونه

خديجې ته يوه ورځ ووې حضور
زۀ يو زېرے درکؤم د رب غفور
پاک الله وائي پۀ تا باندې سلام
جبرائيل امين راوړے دا پېغام
خديجې ووې، سلام پۀ رب جليل
ورسره دې وي زما پۀ جبرائيل
زېرے ورکړو پاک سرور د دې خبرې
وي جنت کښې به ستا کور د ملغلرې
داسې کور چې نۀ تکليف نۀ شور و شر
نۀ د مرګ به وي بيا هلته څۀ خطر
دې نه پس بيا زمانه شوه د فترت
چې غمژن ؤ پۀ کښې ډېر نبي حضرت
پوره درې کاله د وحي بندېدل
ډېر خفه ؤ د وحدت د چمن ګل
د فطرت زمانه چې شوله دُور
بيا د وحي نزول وشو پۀ حضور
يوه ورځ ؤ پېغمبر پۀ لار روان
چې ناګاه پرې اواز وشو لۀ اسمان
پېغمبر چې پورته وکړلو نظر
جبرائيل امين ئې وليد برابر
دے پۀ منځ کښې ؤ د زمکې او اسمان
پۀ يو ښکلې کرسۍ ناست لکه سلطان
پېغمبر ئې پۀ ليدو مرغوبه شولو
واپس راغے بيا کمبل ئې واغوستلو

يو څو ورځې پس آيت په پېغمبر
يَآيُّهَا الْمُدَّثِّرُ(1) قُمْ فَأَنْذِرْ(2)
بيا شروع شو آيتونه د قرآن
چې راتلل په محمد آخر زمان
اول نمونځ دوه دوه رکعته فرض شونه
چې به پاک پېغمبر دغه نمونځ کاونه
نارينوو کښې اول چې چا اسلام
دے راوړے په نبي خېر الانام
هغه دے شېرِ خدا علي حېدر
چې ؤ ډېر هلکوانه کښې دلاور
ؤ د لسو کالو عمر کښې نېک نام
قبول کړے ماشوموالي کښې اسلام
اول دۀ په پېغمبر ايمان راوړے
د حضور سره ئې اول نمونځ ادا کړے
دا د لوي الله نه ډېر په دۀ انعام ؤ
تربيت کښې هم د پاک خېر الانام ؤ
د اسلام راوړو نه مخکښې هم حېدر
دے به ځان سره ساتلو پېغمبر
جعفر ؤ په تربيت کښې د عباس
تربيت کښې ؤ علي د خېر الناس
دغه وخت کښې په قرېشو کښې قحطي وه
د غلې داني په کښې ډېره سختي وه
نبي ووې عباس ترۀ ته لوړه زور ده
تۀ مالدار يې، سختي ډېره دې په ورور ده

څه چې ورشو ورسره وکړو امداد
هغه يو دے پرې ګڼ شوے دے اولاد
محمد او عباس دواړه ورغلل
دوه زامن ابو طالب نه ئې راوستل
پېغمبر واخست علي د الله شېر
عباس واخستو جعفر ګل د نمېر
تر هغې پورې وو دا سوچه لعلونه
پۀ اسلام چې مشرف شو دا ګلونه

د حضرت علي اسلام قبلول

الله پاک چې محمد کړو پېغمبر
نو تصديق ئې دستي وکړلو حېدر
بيا علي او محمد دواړو نمونځونه
پټ کول د يو الله عبادتونه
يوه ورځ ئې نمونځ کولو د اخلاصه
چې پۀ دوي ابو طالب راغے د پاسه
دواړه ئې وليدل د خدائے پۀ عبادت
بيا طالب پوښتنه وکړه د حضرت
ورته ئې ووې ما خبر کړئ لۀ دې حاله
اوس چې تاسو عبادت کوو دا چا له؟
پېغمبر پاک ورته ووې کاکا جانه!
نور خدايان نشته بغېر د يو الله نه

دا خو دين د ابراهيم خليل الله دے
د نبيانو ملائيکو هم الله دے
لوے الله پېغمبري راکړې ما ته
د اسلام دعوت اول درکؤم تا ته
زما ترۀ يې، دا مې تا ته نصيحت دے
چې دې حق ته رابلم دا هدايت دے
د نيکۀ ابراهيم دين مې کړو در ياد
ترۀ پۀ دې کښې به زما کوې امداد
ورته وئېل ابو طالب پۀ خدائے سوګند دے
ستا امداد به زۀ کؤم چې څو مې ژوند دے
بيا علي نه ئې تپوس وکړو دا شان
هغۀ وئېل پلاره! زۀ هم يم مسلمان
ورته وئېل ابو طالب چې خبردار شه!
زويه! ډېر د محمد پاک تابعدار شه!
مګر زۀ د مشرانو دين پرېږدم نۀ
تا د دغه دين نه زۀ منع کؤم نۀ
برقه! ډله د ديندارو به زياتېږي
مشرکان به پۀ لوے قهر اخته کېږي
پۀ علي پسې بيا زېد ايمان راوړے
څوک چې زوي د حارث دے نوموړے
دا مريے د پېغمبر علېه سلام ؤ
قبول کړے ئې پۀ درېم نمبر اسلام ؤ
نوم حکيم بن حزام چې ئې لرلو
دۀ مريان به د شام نه راوستلو

د مریانو به ئې کولو تجارت
ؤ پۀ دغه تجارت کښې دے اوچت
دا زلمے د خدیجې بي بي ورارۀ ؤ
زېد او صف مریونه دواړه د هغۀ وو
ترور ته ئې ووې چې دې کوم یو خوښ وي وایه!
هغه ستا شو، بس د ځان سره ئې بیایه!
خدیجې پۀ کښې زېد خوښ کړو کۀ ئې ګورې
حکیم ووئېل ځان سره ئې بوځه تروري!
پېغمبر چې ولیدو باور پرې وکړه!
خدیجې بي بي ته ئې وئېل ما ته ئې حبه کړه!
خدیجې زېد وبخښو نبي اکرم ته
زما وروڼو! شهنشاه د کُل عالَم ته
پېغمبر کړو دے ازاد د غلامۍ نه
پۀ زوي ونیوو دا هلک د خوشحالۍ نه
زېد قبول کړو د علي سره اسلام
تابعدار ؤ د نبي خېر الانام
برقه! یو بي بي او دا دوه هلکان
شو د زمکې پۀ سر دوي مسلمانان
نمونځ به دواړو پېغمبر سره کولو
پۀ مکه ښار کښې ترې څوک نۀ خبرېدلو
دوي نه پس بیا ابوبکر پۀ اسلام
مشرف کړو پۀ خپل فضل ذو الاکرام
ابو بکر چې خبر شو د رسول
زر ئې کړه پېغمبري د دۀ قبول

بې لۀ ډيل ئې پۀ نبي راوړو ايمان
د صديق خطاب ورکړے دے سبحان
بيا ايمان راوړو عثمان بن عفان
ورځ پۀ ورځ به زياتېدل مسلمانان
د عثمان نه پس زبېر بن عوام
پۀ ډېر شوق باندې قبول کړلو اسلام
ورپسې عبدالرحمان بن عوف دا دے
مهربانه پرې الله، رسول الله دے
هم د سعد بن ابي وقاص واورئ حالونه
درته ښايم د وحدت د باغ ګلونه
دوي نه پس وروښو! طلحه بن عبدالله ښۀ
پۀ اسلام کښې ؤ د دوي اسلام بالا ښۀ
مخکښې ؤ د ابو بکر نوم عتيق
چې عاشق شو پۀ رسول نو شو صديق
فرمائيلي پېغمبر پۀ هسې شان
پېدا شوي ډېر مخلوق مسلمانان
خو دعوت کښې هر چا کړے څۀ تاخير دے
بې تاخيره ابو بکر بې نظير دے
د اسلام چې ورته ورسېد دعوت
پۀ ايمان راوړو کښې ئې و نۀ کړو مهلت
صداقت کښې د صديق غوندې انسان بل
نۀ پېدا دے، نۀ به شي پۀ دې جهان بل
د صديق بن قحافه غوندې مؤمن
خدائے دې مونږ ته را پېدا کړي پۀ زمين

وروسې ابو عبېده راوړو اسلام
دۀ قبول کړۀ ټول حکمونه د ګلفام
پۀ حکمونو د رسول به ئې عمل ؤ
ایمانونه د دې ټولو مکمل وو
پۀ مکه کښې اسلام ورو ورو خورېدلو
چې ځلوبښتو ته تعداد ورسېدلو
الله حکم وکړو پاک خېر الانام ته
اوس پۀ جار خلک را وبله اسلام ته
اوس دعوت ورکوه خلکو ته پۀ جار
ورته وایه د یو خدائے شئ تابعدار
مؤمنان پوره درې کاله ګرځېدل پټ
دوي نمونځونه به پۀ کندو کښې کول پټ
د کفارو نه دوي پټ کول نمونځونه
وو یو څو مسلمانان، کفار لکهونه
یو ورځ سعد ابي وقاص یو څو کسانو
نمونځ پۀ کنده کښې کوو پټ مؤمنانو
نمونځ ئې کنده کښې کوو پټ ایماندارو
پرې راوختنه یو ډله د کفارو
ردې بدې ئې ووئیلې سپکې سپورې
هلته جوړه شوه جګړه کۀ ئې ګورې
یو د اوښ ژامه پرته وه پۀ مېدان
او د سعد پۀ لاس کښې ور وسته سبحان
سعد وواهۀ مشرک پۀ هغه ژامه
تا به وئېل چې روزي ئې کړه ورله تمامه

وينې سرې ئې شوې د خولې نه را روانې
دې قصې ته کېږده غوږ کۀ مسلمان يې
وړومبۍ وينه د کافر ويستې ده سعد
تر قيامته به وي دغه غازي ياد
برقه! دغسې غازيان لۀ خدايه غواړه!
مشرکان به ئې وهل د اوښ پۀ داړه
چې مشرک له به ئې ورکړلو ګزار
ژوند به ئې ختم شو پۀ ځاے به شو قرار
پېغمبر به پۀ ښکاره تبليغ کولو
ټول مخلوق به ئې اسلام ته رابللو
پېغمبر ورته وئيل اے مشرکانو!
عبادت چې نور و نۀ کړئ د بتانو
د بتانو عبادت نه لاس پۀ سر شئ!
خداے واحد لا شريک وګنړئ! خبر شئ!
پۀ کفارو دا خبره شوله ګرانه
بيا طالب له جرګه راغله زما جانه!
اوولس تنه د قرېشو سرداران
دوي ابو طالب ته وکړو دا بيان
ستا ورارۀ کړي زمونږ خدايانو ته ښکنځل
دے کړه پوهه چې نور نۀ کړي دا وئيل
وائي نيکونو ته زمونږه ګمراهان
دے خدايان زمونږه نۀ مني خدايان
تۀ د دې ورارۀ دې مرسته کول پرېږده!
ګني مونږ به ئې کړو بې غمه غوږ پرې کېږده!

طالب وکړه دوي ته نرمه شان خبره
پۀ چل ول ئې دوي رخصت کړۀ برادره!
پېغمبر تبليغ کولو بدستور
رسوو به ئې د الله حکم حضور
پاک رسول به دين ته تل کړله بلنه
حسد بغض د کفارو زياتېدنه
کافرانو ورته خلک لمسول
لوي وارۀ به ئې نبي ته قهرول
عرض دا چې دوباره ابو طالب ته
ورغلل د نبي ترۀ هغه صاحب ته
ورته ئې ووې د ورارۀ شه لاس پۀ سر
يا زمونږه جنګ ته ځان کړه برابر
تر هغې پورې به تا سره جنګېږو
يا به تۀ او يا به مونږه تباه کېږو
دا ئې ووې پۀ غضب را پاڅېدل
د خداے دوست ته ئې پۀ بد نظر کتل
طالب ووې يو مې قام شو دښمنان
بل طرف ته مې ورارۀ دے پۀ ما ګران
پۀ نبي پسې ئې استازے ولېږلو
پۀ جواب کښې ئې ورته داسې ووئيلو
ورته وائي، اے زما ورارۀ نېک ذاته!
يو خبره د نېکۍ کوۀمه تا ته
رحم وکړه پۀ ما هم رحم پۀ ځان
دومره بوج را باندې اچوه قربان

دومره بوج چې زۀ ئې شم پۀ ولو وړلے
یا ئې زۀ شمه پۀ ځان برداشت کولے
پاک حبیب چې شو خبر لۀ دې ګفتاره
وائې ترۀ مې جوړ امداد نه شو ناچاره
پېغمبر ووې پۀ خداے مې دے سوګند
چې تر څو وي پۀ دنیا کښې زما ژوند
یا دا پورته نمر دوي ښې لاس کښې مې کېږدي
یا سپوږمۍ راته پۀ کیڼه منګول پرېږدي
پرې به نۀ ږدمه زۀ دین د الله پاک
تر هغې پورې چې زۀ یمه پۀ ژواک
یا به دین کړمه غالب د رب غفور
دا خبرې ترۀ ته وکړلې حضور
سترګې ئې ډکې شوې د اوښکو لۀ خفګانه
چې اسره ئې پاتې نۀ شوه بې الله نه
پۀ ژړا باندې د ترۀ نه شو روان
ورته ګوره چې اوس څۀ کوي سبحان
پېغمبر چې ماښې وکړله الله ته
بیا طالب ووې ورارۀ! وګوره ما ته
څه چې هر څۀ دې وي خوښه، هغه وایه
خوف خطر لۀ چا و نۀ کړې بې لۀ خدایه
محمده! تۀ زما د ورور فرزند یې
پۀ قریشو کښې هر چا نه سر بلند یې
څوک چې تا ته رسوي چرې ضرر
ستا نه مخکښې به پرې زۀ ورکوم سر

قريش پوه شو چې نۀ زور مني نۀ سوال
راځئ اوس ورسره بل کوو کمال
يو زلمے ئې وکتو ښکلے د ښکلو
زما ورونړو! عماره نوم ئې لرلو
عماره ئې ابو طالب له راوستنه
دا دې زوي شو ښکلے دے ستا لۀ ورارۀ نه
دې زلمي باندې کوه تسلي خپله
خو ورارۀ دې مونږ له راکړه بې تامله
دے به مړ کړو تۀ به خلاص شې لۀ غمونو
بيا به تړوقې څوک نۀ وائي د نيکونو
طالب ووې ستاسو دا غلط فهمي ده
تسلي کله زما پۀ دې زلمي ده
ستاسو دغه هلک زۀ به لويؤمه
خپل ورارۀ ولې پۀ تاسو قتلؤمه
طالب ووئېل قسم زما پۀ خدائے دے
دغه تاسو چې کوم سوال کوئ بې ځائے دے
دغه سوال ما ته منظور نۀ دے بالکل
نۀ به خپل ورارۀ پۀ بل کړمه بدل
مطعم بن عدي ووې، نۀ خلاف ده
دا خبره چې کوي، دوي د انصاف ده
دا قام تا سره کوي ډېره ښېګړه
بشرط دا چې خوښه ئې نۀ کړله جګړه
طالب ووئيل قسم مې پۀ خدائے خاص
ځئ چې څۀ کوئ، کوئ لاس مو دي خلاص

بیا طالب را وغوښتو هغه خپل قام
نسبیان بن هاشم مطلب عام
طالب ووئیل زما قامه نامداره!
ستاسو مرسته غواړم خپل ورارهٔ د پاره
مرسته غواړم څوک زما دي نسبیان؟
د هاشم او مُطلّب د خاندان
چې ورارهٔ زما نه قتل کړي عرب
زهٔ به نهٔ یم غېرتي بنده د رب
د طالب ملګرتیا وکړه هاشمیانو
بې لهٔ یو ابو لهب نه سامعانو
طالب ولوسته یو ښکلې قصیده بیا
چې نبي ته ئې کړهٔ خلک اماده بیا
ورپسې موسم د حج ؤ را روان
چې ولید بن مغیره کړو دا بیان
بعضې بعضې قریش جمع کړهٔ ولید
ورته داسې شیطانت وکړو پلید
د حج ورځې دي رائې به ټول عرب
یو خبره به کړو غوره د مطلب
یو خبره به هغوي ته پهٔ یو شان
ټول کوو چې پهٔ کښې نهٔ وي هېڅ نقصان
چا وئېل وایو به کاهن دے یا ساحر دے
چا وئېل وایو به مجنون دے یا شاعر دے
مغیره ووې پهٔ خداے زما سوګند دے
چې کلام د محمد کښې داسې خوند دے

ډېر مضبوط اصل لري او مېوه دار دے
هر كلام ئې د يو بل نه مزېدار دے
دا به وايو چې دا بل قسم ساحر دے
ځان ترې وساتئ! خبره كښې ئې اثر دے
چې پۀ غوږو ځوک د دۀ واوري خبرې
ورور د ورور او پلار د زوي نه ګرځي لرې
ښځه شي د خپل خاوند ځنې بېزاره
قام د قام سره بيا نۀ ځي پۀ يو لاره
چې به حج له د بهر نه څوک راتلل
مشركانو د حضرت نه وېرول
دغه شان پروپېګنډه به ئې كوله
د نبي قوفحه به دوي بيانوله
آياتونه خداے نازل كړۀ پۀ حضرت
د وليد پۀ كښې ؤ څكه قباحت
خداے را ولېږو پرې حكم د عذاب
چې وليد به وي د سور دوزخ كلاب
د طالب سره ملګرې خطره وه
د ورارۀ سودا به هر وخت ورسره وه
هسې نۀ چې عرب وكړي مصلحت
دې ورارۀ ته مې څوک پېښ نۀ كړي خفت
طالب سل شعرونه شپږ كم ولوستنه
چې خپل قام ته ئې پۀ كښې وكړله زورنه
وئيل مال او سر بچي خپل كړئ قربان
پۀ دفاع كښې د نبي آخر زمان

طالب ووئېل قسم پۀ بيت الله دے
دا ورارۀ مې پۀ قرېشو كښې بالا دے
نۀ به څوک پۀ محمد باندې غالب شي
نۀ به دۀ نه لاس پۀ سر چرې طالب شي
كۀ ضرر چا رسوۀ زما ورارۀ ته
تُورې غشي به بيا وښايم هغۀ ته
تُورې و به وينې بيا د بادرانو
هم پۀ لاس كښې د دې قام د سردارانو
پۀ حملو به درځي بيا لكه بازونه
درنه را به وړي پۀ پنجو كښې سرونه
كۀ پۀ مياشتو باندې جنګ وي كۀ كلونه
برقه! نۀ تښتي كارغانو نه بازونه
باز لۀ كاغو چرته نۀ دے وېرېدلے
نۀ ګيدړ چرې زمرے دے پرزولے
د نبي خبر عربو كښې شو خور
مدينه منوره كښې كور پۀ كور
ابو قېس پۀ مدينه كښې يو سړے ؤ
د قرېش قبيلې دا سړے زومګے ؤ
يوه ښكلې قصيده ئې ولوستله
د قرېشو پۀ باره كښې زما دلِه!
قصيده خپله كښې ئې داسې ووئيل
د رسول سره و نۀ كړئ جنګ جدل
د هغۀ خو ملګرتيا مرسته پكار ده
هره نخښه ئې د قابل او د هوښيار ده

ابو قبس وکړو صفت د پېغمبر
پهٔ قرېشو ئې هېڅ و نهٔ کړو اثر
د ساحر، شاعر، کاهن، مجنون خبرې
دوي کولې پهٔ نبي پسې لېکچرې
یوه ورځې د عربو سرداران
پهٔ حطیم کښې ناست وو دغه مشرکان
شکایت ئې پهٔ رسول باندې کولو
پېغمبر پرې ناګهانه ورغللو
اول ښکل حجر اسود کړو نازنین
بیا طواف کړو رحمت اللعالمین
پهٔ قرېشو باندې دا را تېرېدلو
پاک نبي ټولو پهٔ جمع ولیدلو
ورته ووئېلې بد بختو، سپکې سپورې
رنګ بدل د پاک حبیب شو کهٔ ئې ګورې
پهٔ دریم ځل چې پرې بیا راغلے حضور
سپکې بیا هغوي شروع کړې بدستور
ورته ودرېدو حضور نبي اکرم
وې وئیل پهٔ هغه ذات مې دے قسم
چې ساګانې ئې دي لاس کښې د انسان
چې یو ځل پهٔ تاسو ذبح کړمه ځان
داسې چپ شو او سرونه ئې ښکته کړل
تا به وئېل جوړې مارغان پرې کښېناستل
پهٔ هغو کښې چې ځوک ډېر تېز وو یارانو
کړې خوږې پستې شروع ئې سامعانو

ورته ووئېل ئې يا ابو القاسم
جاهل نۀ يې څه پۀ خپله لاره سم
سبا بيا دوي پۀ حطيم کښې وو راجمع
دوباره دې د دې حاله خبرؤمه
پۀ سبا له حضور بيا راغلے کعبې ته
اوس د دغه خلکو وګورئ حملې ته
عبدالله بن عمر بن عاص وائي
پۀ د ې ځاے کښې تاريخ داسې راته ښائي
عبدالله وائي زۀ وم هلته حاضر
پۀ سبا له چې بيا راغلے پېغمبر
دوي خبرې کړلې سپورې چې پۀ قار شي
چې زمونږ مقابلې ته دے تيار شي
دې کښې بيا راغے محبوب د رب منان
پۀ يو ځل ترې نه چاپېر شو مشرکان
ورته ئې وې بيا به کوې داسې خبرې
اوس زمونږ نه خلاصېدلے نۀ شې چرې
پېغمبر ووې هم دغه مې بيان دے
پۀ کوم دين چې تاسو يئ، دغه نقصان دے
يو سړي پۀ کښې ور واچوۀ څادر
پۀ مرئ کښې د پاک ښکلي پېغمبر
ابوبکر صديق پاڅېدو اوچت
پۀ توندئ ورغے خوا له د حضرت
پۀ ژړا ئې سترګې سرې وې د خفګانه
تاسو داسې سړے وژنئ بې نقصانه

هغه دا وائي چې رب زما الله دے
عداوت ورسره ستاسو ناروا دے
کشمکش کښې د صديق زخمي شو سر
هغوي پرېښود واپس لاړے پېغمبر
پېغمبر شولو واپس لاړے دلګير
يو څادر ئې واغوست ؤ پهٔ زړهٔ زهير
پاک نبي چې څادر واغوست څملاستنه
الٰهي پرې دا آيت را ولېږنه
دا آيت شولو نازل پهٔ پېغمبر
يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ(1) قُمْ فَاَنْذِرْ(2)
پاڅه اے څادر کښې نغښتيه ګلابه!
خلک وېروه د خدائے د لوے عذابه
دغه حکم ورته راغلے د سبحان بيا
پهٔ تبليغ پسې را ووتو سلطان بيا

د حضرت حمزه ايمان راوړل

د حمزه اسلام راوړل وو پهٔ دا رنګ
چې دهٔ کړے ؤ پهٔ پاک پېغمبر ننګ
ښکنځل کړي وو ابو جهل پېغمبر ته
هغه سرورِ سردارِ دو عالم ته
پېغمبر هغهٔ ته هيڅ نهٔ وو وئيلي
يوې وينزې وو پهٔ کور کښې اورېدلي
دغه وخت حضرت حمزه راغلے د ښکاره

ورغلے خانه کعبې ته ټک د واره
واپس بيا راغے حمزه په دغه لار
دغه وينزې کړو د حاله خبردار
ستا ورارۀ ته ابو جهل کړل ښکنځل
ما پۀ دې خپلو غوږونو واورېدل
شو واپس امير حمزه هغه ساعت
ابو جهل ته قهرولے ؤ قدرت
ودرېدو د ابو جهل سر د پاڅه
دا لينده ئې ورله سر له کړه را خلاصه
پۀ لينده ئې د ابو جهل مات کړو سر
آفرين شه پۀ حمزه غوندې بهادر
حمزه ووئېل زۀ د پاک محمد ترۀ يم
محمد چې وائي څۀ نو زۀ هغه يم
يو سړے را پاڅېدو د هغۀ د قام
ابو جهل ووې کښېنه پۀ ارام
ما د دۀ ورارۀ ته کړي وو ښکنځل
د هغې ښکنځلو ئې واخستو بدل
چې حمزه پوره اسلام باندې قائم شو
د قرېشو نه ضرر پۀ نبي کم شو
برقه! داسې د زمرو ايمان راوړل
کافران به ترې د وېرې ړچېدل
چې بهادر امير حمزه شو مسلمان
پۀ قرېشو باندې زور وکړو خفګان

د عتبه جرګه په پېغمبر

عتبه د خدای رسول لره جرګه ځي
په جرګه کښې ورله زوي د ربیعه ځي
عتبه هم ؤ د قرېشو یو سردار
د خبرو هغۀ واخستو اختیار
د قرېشو په صلاح ځي پېغمبر ته
څۀ عرضونه پېش کوي نبي سرور ته
راغلے کښېناستو په خوا کښې د حضور
څو خبرې درته کړم دا کړه منظور
پېغمبر ورته وئیل اے عتبه! وایه!
چې دې هر څۀ زړۀ کښې وي نو هغه ښایه!
عتبه ووې کۀ دولت دې وي په کار
راته ووایه چې اوس دې کړم مالدار
کۀ تۀ غواړې سرداري زمونږ د قام
په قرېشو کښې به ستا یادېږي نام
یا په تا کښې د غوټې وي څۀ اثر
ستا علاج به مونږه وکړو برابر
د خدایانو زمونږ مۀ وایه عېبونه
په ناپوهو کښې مو مۀ شمېره نیکونه
تفریقه دې زمونږ قام کښې اچولې
برناحق زمونږ خدایان سپکوې ولې؟
پېغمبر ورته وئېل تبلیغ مې کار دے
لوے الله مې نور د هر څۀ ذمه وار دے

د بهادر امیر حمزه مسلماني
مشرکانو لره دا وه نقصاني
هغوي پوه شو چې زمونږ دین خرابېږي
مؤمنان مکه کښې ورځ په ورځ زیاتېږي
عتبه ووې کۀ مطلب دې مالداري وي
یا دې خوښه د قرېشو سرداري وي
کۀ تۀ وائې د دې ملک به دې بادشاه کړو
واک اختیار به د عربو واړه ستا کړو
عتبه چې کړلو ختم خپل بیان
ورته ووئېل بادشاه د دو جهان
اوس زما خبرې تۀ واوره په غوږ
غوږ پرې کېږده نۀ به شور کوې نۀ زوږ
بسم الله ئې ووئیله په زبان
څو آیات ئې ولوستل د پاک قرآن
معنٰي دا وه چې الله رحمان رحیم دے
نازل کړے خدائے په ما قرآن کریم دے
را لېږلے خپل مخلوق ته رب قدیر دے
دا قرآن دے چې بشیر دے او نذیر دے
بعضې خلک ترې مخ اړوي په څټ دي
وائي دا زړونه پردو کښې زمونږ پټ دي
عتبه لاس دواړو خپل ملا ته اړم کړل
ډډه ناست دے آیاتونه ئې اورېدل
چې را ورسېد آیات د سجدې ته
سجده وکړه نبي مخ ئې کړو قبلې ته

پېغمبر ووئیل یا ابو الولید!
د کلام تائید کوې کهٔ به تردید
ما لوستل تا اورېدل چې پهٔ غورېونو
تهٔ څهٔ پوه شوې د قرآن پهٔ آیاتونو
عتبه پاڅېدو ملګرو ته روان شو
د قرآن پهٔ اورېدو باندې حېران شو
واپس لاړو شو پهٔ قرېشو کښې داخل
سردارانو د دهٔ مخ ته وکتل
بیا عتبه ته داسې ووې سردارانو
پهٔ تا هم وشو اثر د ساحرانو
عتبه ووې نهٔ شاعر دے نهٔ ساحر دے
نهٔ پهٔ دهٔ کښې د پېریانو څهٔ اثر دے
ترې نه کوم قول چې ما دے اورېدلے
خورم قسم کهٔ داسې بل قول وي ښکلے
دا چې څهٔ وائي نو دا عظیم خبر دے
اے قرېشو! هم زمونږ د پاره غور دے
یا به وکړي نور عرب د دهٔ علاج
یا به دے جوړ شي مالک د تخت و تاج
کهٔ بادشاه شي دغه هم ستاسو عزت دے
زما رایه د هغهٔ دا نصیحت دے
هغوي وئېل پهٔ تا ئې هم دے سحر کړے
جوړ پهٔ خپله ژبه ئې تهٔ یې راړولے
هغهٔ وئېل ما خپله رایه وښودله
اوس چې څهٔ کوئ، کوئ خوښه مو خپله

برقه! څوک چې دښمنان د پېغمبر وو
غريب نۀ وو، د قرېشو معتبر وو
غريب قام به پۀ ډېر شوق اسلام منلو
دې غټانو ظالمانو به وهلو
پخوا هم دښمنان د پېغمبر
اوس ئې هم مخالفت کړي معتبر
يوه ورځې د قرېشو سرداران
پۀ هغو کښې چې نامتو وو مشران
جرګه شوي وو دا ټول د کعبې شا ته
څوک ئې ولېږل نبي پسې اخوا ته
ورته ئې ووې چې پۀ قام کښې شريفان
جمع شوي دي تا غواړي دا زمان
پېغمبر ورلره راغلے پۀ دې نيت
کۀ څۀ لاره کړي قبول د هدايت
هغوي هم د عتبه غوندې بيان
مالداري سرداري دۀ ته کړه بيان
وئيل تۀ پۀ دې قرېشو کښې سردار شه!
خو زمونږ د دې خدايانو نه قلار شه!
پېغمبر پۀ هسې شان وفرمائيل
خدا ے پۀ ما باندې قرآن کړلو نازل
رسؤم د قرآن تاسو ته حکمونه
نۀ پۀ کار مې بادشاهي نۀ دولتونه
وېرؤم به د دوزخ نه مشرکان
مؤمنانو لره زېرے د جانان

کۀ د خدای د رسول واورئ نصیحت
هم به وګټئ دنیا هم آخرت
بیا قرېشو ورته وئېل واوره حالونه
مونږه مخکښې درته ډېر کړۀ پېشکشونه
ښه چې تۀ د خدای پۀ حقه پېغمبر یې
کړه دا غرونه د مکې د ښار نه لرې
د اوبو پۀ وجه ژوند زمونږ خراب دے
تۀ وې ما باندې نازل د رب کتاب دے
لکه شام دلته کښې کړه جاري نهرونه
یا عراق غوندې اباد کړه دا ملکونه
را ژوندي کړه تۀ زمونږه مړۀ پلاران
د قصیٰ ابن کللب شان صادقان
کۀ هغوي دې تصدیق وکړو پۀ رښتینې
پېغمبر به بیا زمونږه پۀ یقین یې
سردارانو ورته داسې ووئیل
پېغمبر پۀ هسې شان وفرمائیل
را لېږلے یم خدای زۀ د دې د پاره
زۀ به تاسو ته در ښایم حقه لاره
د خدای حکم دے پۀ ما در رسول
ستاسو کار دے قبلول نۀ قبلول
بیا قرېشو ورته ووې هسې شان
چې تۀ وائې ځان ته استازے د سبحان
نو را وغواړه ملائیکې د اسمانه
چې تصدیق د نبوت دې وکړو ځوانه!

بل د خدايه وغواړه بنګلې باغونه
د سرو زرو خزانې سوچه لعلونه
تۀ خو هم زمونږ پۀ شان ګرځې بازار کښې
ځان له رزق لټوې پۀ کوځه لار کښې
کۀ رسول يې خو چې مونږ څۀ وايو تا ته
د مکې دا غرونه واړوه بل خوا ته
د مکې د ښار نه جوړ کړه ثاني شام
بيا تۀ هله ږده پۀ ځان د رسول نام
پاک نبي وئېل زما نۀ دي دا کارونه
نۀ د خدايه غواړم زۀ هغه څيزونه
نۀ زۀ دې د پاره خدائے يم مبعوث کړے
هغه تاسو چې کوم سوال کوئ نيمګړے
را لېږلے دې د پاره يم قدير
زۀ يم تاسو له بشير او هم نذير
بيا دې قام ورته وئيل پۀ هسې شان
څه ورځه خدائے ته دې وکړه دا بيان
کۀ دا پاس اسمان پۀ مونږ کړې را ګزار
ستا ايمان راوړو نه دے زمونږ انکار
ورته ووئيل نيازبين د کردګار
کۀ خدائے وغواړي نو و به کړي دا کار
هغوي ووې زمونږ تا باندې ګمان دے
يو سړے د يمامې نوم ئې رحمان دے
هغه تا ته ښائي هر قسم بيان
دے قسم پۀ رحمان تۀ راوړه ايمان

مونږه وکړل ستا هر قسمه عذرونه
تا پرې نۀ ښودل هرګز خپل عادتونه
دے قسم کۀ بیا تبلیغ د رسالت
پرې به نۀ ږدو تا بغېر د هلاکت
بعضو ووې ملائکې لوښه د خدائے دي
دا خبرې دې د کفر او بې ځائے دي
وئېل د خدائے لوښو له کړو مونږ عبادت
وي پۀ داسې مشرکانو دې لعنت
بل یو کس پۀ کښې لا دا خبره وکړه
کۀ یو ډله ملائکې راشي پۀ زمکه
پېغمبر ترې نه را پاڅېد نا امېده
ورسره یو سړے بل ؤ غوږ پرې کېږده
عبدالله بن امیه ؤ د دۀ نوم
پۀ مکه کښې ټولو خلکو ته معلوم
زما وروښو د ترۀ زوي د پېغمبر ؤ
پۀ زړګي باندې ئې مهر د کافر ؤ
هغۀ ووې ورته، واوره محمده!
دا د قام خبره تا د پاره ښه ده
هغوي مخکښې درته ډېر کړۀ پېشکشونه
تا د هغه قام و نۀ منل سوالونه
څۀ ذاتي کارونه ئې ځان له وغوښتل
تا هغه کارونه هم و نۀ منل
بیا ئې ووې چې وغواړه ځان د پاره
د هغۀ خبرې هم شولې ناچاره

عبدالله ووې نبي ته هسې شان
خورم قسم چې پۀ تا را نۀ وړم ايمان
کۀ پۀ لاس اندرپايه ودروې اسمان ته
پۀ هغې تۀ بره لاړ شې لا مکان ته
بيا راکوز شې پۀ هغې باندې في الفور
ملائکې ځان سره راولې څلور
هغوي ستا د وېنا وکړي شهادت
دے قسم کۀ دې منمه رسالت
دا ئې ووې پېغمبر نه شو بيا ستون
انسانانو کښې پېښېږي هم ملعون
ډېر غمژن ترې محمد رسول الله لاړ
بد قسمته قام نه نُور د پاک الله لاړ
برقه! داسې بد قسمته پۀ جهان شته
اوس لا هم د پېغمبر پاک دښمنان شته
پېغمبر چې نا اميده شو روان
ابو جهل لعنتي وکړو بيان
ابو جهل لعنتي وئېل زما قامه!
زۀ به کړم د محمد روزي تمامه
چې سبا نمانځۀ له راشي د سحر
پۀ سجده باندې چې ولګوي سر
دومره ګټې به زۀ را اخلم پۀ طاقت
چې پۀ دواړه لاس ئې سر ته کړم اوچت
د دۀ سر له به ئې راخلاص کړمه پۀ زور
چې ژوندون ئې پۀ دنيا ختم کړم نور

بیا کوئ کۀ نۀ کوئ زما امداد
لاس دې وي د محمد د قام ازاد
قام وعده ورسره وکړه هسې شان
تا به پرې نۀ ږدو یوازې پۀ مېدان
کړو قسم درته پۀ خداے ابو الحکمه!
بهادر به شې کۀ دے دې کړو بې غمه
چې سبا شو ابو جهل راغے ضرور
اراده ئې وه د قتل د حضور
یو دروند ګټ ئې ځان سره راوړو پۀ ولو
نېت ئې ؤ رسول الله ته د ویشتلو
پۀ یو ګوټ کښې غلے ناست ؤ دا شېطان
چې به وژنم محمد آخر زمان
پۀ خپل وخت راغے نبي رسول الله بیا
عبادت ئې کړو شروع د لوي الله بیا
د حجرِ اسود رکن یماني
منځ کښې ودرېد محمد پاک نوراني
محمد چې پۀ سجده ځنګ پرېوتلو
ابو جهل کاڼے اوچت کړو د ویشتلو
ور روان شو د نبي قتل د پاره
لاس ئې وچ کړې اے خالق پروردګاره!
پېغمبر پاک ته لا نۀ ؤ رسېدلے
زیړ ځېلے را واپس شو دا ناولے
رنګ ئې زیړ وار خطا ؤ، رچېدلو
تا به وئېل جوړې پېریانو ونیولو

لاس ئې وچ شو هغه ګټ پورې بالکل
دې قرېشو مخامخ ورته کتل
بيا قرېشو چې دے وليد پۀ لړزان
ورله راغلۀ پۀ توندۍ بعضې کسان
دې قرېشو وئېل چې اے ابو الحکم!
دا پۀ څۀ جوړ شو پۀ تا باندې ماتم
دۀ وئېل ما چې څۀ وئيلي وو پرون
هغه وو زما پۀ زړۀ کښې اندرون
زۀ ورتلم چې کړم پوره هغه اقرار
د دې کانې به پرې وکړمه ګزار
زۀ چې کله شوم نزدې د هغۀ خوا ته
يو نا اشنا طاقتور اوښ رامخ شو ما ته
ما نۀ داسې سر ليدلے د اوښ چرته
را اوږده ئې کړه غړانګه زما سر ته
ما وئېل دارې ئې راته ښخې کړې بدن کښې
ځکه شومه علامه د ځنکدن کښې
پېغمبر ووې چې دا جبرائيل امين ؤ
د اسمان نه چې راغلے پۀ زمين ؤ
ابو جهل وئېل کۀ نزدې مې وے راغلے
جبرائيل به هغه وخت کښې وے نېولے
برق تاريخ ليکي د پاک نبي روېدار
چې راتلونکي کهول د پاره شي پکار
چې راتلونکے نسل ګوري دا شعرونه
پس د مرګه به مې وکړي ارمانونه

يو سړے نوم ئې نضر ؤ پۀ مکه کښې
کښېناستو به د قرېشو پۀ جرګه کښې
دا سړے نوم ئې نضر بن حارث
دومره بل نۀ ؤ قرېشو کښې نجس
دے قرېشو ته قصه کوي د ښېخه
وائي سخته مسئله ده درته پېښه
محمد چې ؤ هلک، واورئ زما نه
تاسو غوره به ګڼلو د هر چا نه
ډېر رښتينے او صحيح امانت ګر ؤ
د امين لقب هم دۀ ته مقرر ؤ
سپين ويښتۀ ئې اوس پۀ ږيره کښې ظاهر دي
تاسو وايئ علامې ئې د ساحر دي
نۀ ساحر دے نۀ کاهن دے نۀ شاعر دے
نۀ پۀ دۀ کښې د غوټې موټې اثر دے
اے قرېشوۀ ورته پېښ دا مشکل کار دے
لېونتوب پۀ دۀ کښې نشته دے هوښيار دے
قسم دے چې پۀ کښې يو نشته نقصان
بالکل نۀ مني زمونږه دا خدايان
دا نضر بن حارث ؤ لوے شېطان
دا حېرمې ته تلے ؤ واوره دا بيان
قصه خوان ؤ د فارس د اسفنديار
دا قصې وې يادې کړې دې کفار
پېغمبر به چې تبليغ کړو د اسلام
کړۀ بيان به ئې د الله رسول احکام

بیا نضر به هغه خلک کړۀ ایسار
کړې به دۀ ورته قصې د اسفندیار
د رستم او اسفندیار قصې ملګرو!
هغه خلک به ئې دهوکه کړۀ پۀ خبرو
بیا به ئې وې چې محمد کومه خبره
ما نه تاسو ته پېش کړې چرته غوره
هغه سپکې وائي زمونږه د خدایانو
زۀ قصې کړم د فارس د بادشاهانو
آیاتونه اتۀ راغلۀ د قرآن
پۀ بابت د عقبه نضر شېطان
یو عقبه بن ابي معیطه نضر
دواړه ولېږل قرېشو پۀ سفر
مدینې ته ئې ولېږلو پۀ جواب
ورته ووې هغوي دي اهل کتاب
معلومات هغوي ته ډېر دي د نبیانو
دوي پوهېږي پۀ حالت د رسولانو
د تورات او د انجیل دي عالمان
هغوي پېژني صحیح پېغمبران
ورته حال کړئ ور بیان د محمد
چې هغوي د دۀ تصدیق کوي کۀ رد
مدینه کښې د یهودو عالمانو
د تورات علم ئې کړے دوه کسانو
دا نضر او عقبه دواړه ورغلل
تپوسونه ئې ترې د پاک نبي کول

عالمانو نه تپوس وکړو نظر
راته وائي محمد دے پېغمبر
هغوي وئېل ترې کړئ تپوس د درې خبرو
کۀ جواب ئې پوره درکړو برادرو!
بيا ئې ومنئ چې دے نبي مرسل
شک ئې نشته پېغمبر دے مکمل
کۀ جواب ئې پوره در نۀ کړو شکمن دے
بيا به نۀ وي پېغمبر دا دروغژن دے
اول دا تپوس ترې وکړئ پۀ مزه کښې
څو زلمي تېر شوي تېره زمانه کښې
د هغوي حال به کړې مونږ ته را عيان
بيا دويم تپوس ترې وکړئ پۀ دا شان
يو سړے ؤ بل د دې زمکې پۀ سر
چې مشرق مغرب ته تلے دا بشر
د هغۀ باره کښې وايه څۀ خبر دے
بيا دريم تپوس ترې وکړئ دا هنر
ورته ووايئ چې روح څۀ شے دے ځوانه!
مونږ د دې نه تۀ خبر کړه مهربانه!
کۀ دا درې ځوابه ئې درکړۀ برابر
تابعدار ئې شئ بيا وي به پېغمبر
کۀ جواب ور سره نۀ ؤ د دې خبرې
دروغژن دے بيا ترې ګرځئ لرې لرې
برقه! بيا راغلۀ واپس دواړه مکې ته
دا خبره ئې کړه پېش خپلې جرګې ته

قرېش بيا لاړۀ حضور ته ورغلل
درې تپوسه ئې ترې وکړۀ پۀ يو ځل
حضور ووې سبا در به کړم جواب
انشاء الله ترې نه هېر کړلو وهاب
وحي بنده شوه پنځلس ورځې ټهيک
د الله نه مقرر ۀ دغه ليک
چې پينځلس ورځې بند شو جبرائيل
ډېر خفه ۀ حضور پاک دوست د جليل
بيا قرېشو کړې شروع داسې لېکچرې
هيڅ جواب ورسره نشته د خبرې
دوي نسبت ورته کوۀ د دروغژن
کړه خوره پروپېګنډه ئې پۀ وطن
پۀ پينځلس ورځې پس رسول الله له
وحي راغله د کونېنو شهنشاه له
کړو نازل سورة کهف لم يذل
وې دا درې واړه خبرې پۀ کښې حل
دا سورت چې پۀ حضور راغے دلبنده!
صداقت پېغمبري ئې شو څرګنده
چې پۀ پاک پېغمبر دا سورت نازل شو
صرف حسد عناد پۀ منځ کښې ئې حائل شو
د حضور حکم ئې بالکل نۀ منلو
نور پۀ کفر کښې لا زيات ننوتلو
چې ئې خدائے پۀ زړۀ وې مهر لګولے
د حق لار له ئې څوک نۀ شي راوستلے

يوه ورځ دا ابو جهل ووې خپله
استهزاء ئې پېغمبر پورې كوله
پېغمر وائي نورلس دي ملائكان
چې دوزخ ته به راكاږي كافران
پۀ سل كسه تاسو يو نۀ شئ نبولے
محمد داسې بكواس دے اورولے
د دۀ رد كښې آياتونه كردګار
وَ مَا جَعَلۡنَآ اَصۡحٰبَ النَّارِ
آيت راغلے پۀ نبي آخر زمان
ابو جهل ورته غوږ نۀ ږدو شېطان
محمد به چې پۀ جار قرآن لوستلو
دا قرېش به ترې نه لرې تښتېدلو
يو نيم كس به ورته پټ پټ كښېناستنه
دا قرآن ئې د حضور نه اورېدنه
ابو جهل دا قرېش وو وېرولي
ګرځېدل به د حضور نه غلي غلي
برقه! خداے نه وورېږه زورور دے
بت پرست د معتبر خوشامد ګر دے
يوه ورځ وو جمع ناست اصحابان
مشوره وكړله دوي پۀ هسې شان
دې قرېشو ته پۀ جار دے د لوستلو
دے قرآن عظيم الشان د اورولو
څوك به وكړي دغه كار اصحابانو
عبدالله بن مسعود ووې يارانو!

ذمه وار یم زۀ به وکړم دغه کار
پۀ خاطر د محمد نبي روېدار
اصحابو وې چې مونږه کښې قام دار وي
تلاوت لره به هغه کس پکار وي
چې قرېش پۀ هغۀ نۀ شي بلوشېدلے
او ضرر ورته ځوک نۀ شي رسولے
عبدالله وئېل ساتندویه زما رب دے
قرآن زۀ لولمه ستاسو څۀ مطلب دے
عبدالله سحر کعبې ته ورغللو
پۀ مقام ابراهیم کښې ودرېدلو
پۀ اوچت آواز شروع ئې کړو قرآن
تاریخ لیکي چې دا ۇ سورت رحمان
ناست قرېشو ټولو دۀ ته وکتل
عجیبه ورته ښکاره شو دا وئیل
وئېل دا ځوک دے چې هر لفظ د خولې وکاږي
مقناطیس غوندې زمونږ زړونه راکاږي
یو سړے دے چې څۀ وائي محمد هم
دا هغه دے چې مني واحد احد هم
دا قرېش ورپسې ټول را پاڅېدلو
پۀ مخ مخ ئې عبدالله صاحب وهلو
دوي وهو هغۀ وئیلو به قرآن
تر هغې چې ځومره خوښ ۇ د سبحان
اصحابو ته واپس عبدالله راغلے
دا پتنګ د محمد او الله راغلے

مبارک مخ ئې تهول ډک ؤ د زخمونو
ځار قربان شمه د دغسې ګلونو
اصحابو ورته وئېل ستا ؤ خطر
مونږ وئيل رسوي تا ته به ضرر
عبدالله وئيل د خدائے دا دښمنان
ما ته سپک ښکاري د باد بنې پۀ شان
اجازت کۀ تاسو نن راکوئ ما له
بيا پۀ جار وايم قرآن ورځم سبا له
اصحابو وئېل بس ښۀ ئې وا وربېدلو
دوباره ستا حاجت نشته د ورتللو
برقه! هغه عاشقان لاړل پناه شول
اوس کدو کربله پاتې پۀ دنيا شول
چې عاشق وي پۀ رښتيا د پېغمبر
نۀ د مال پرواه لري او نۀ د سر
ابو جهل او اخنس ابو سفيان پټ
د حضور نۀ ئې د شپې واورېد قرآن پټ
دوي د شپې د نبي کور ته کښېناستل به
آياتونه د قرآن ئې اورېدل به
چې سحر شو نو واپس به ترې راتلل
لار کښې يو ځاے شو يو بل ئې وليدل
کړو يو بل ئې پۀ راتللو ملامته
وئيل بيا به داسې و نۀ کړو غلطه
هسې نۀ پۀ مونږ شکمن شي کشران
چې زمونږ پۀ دښمن را نۀ وړي ايمان

سبا شپې له لاړهٔ بیا ځان له ځاني دوي
کلامونه اورېدل به سبحاني دوي
چې سحر شو بیا ملګري شو په لار کښې
ډېر خړ سترګي شو یو بل ته په اقرار کښې
په دریمه شپه بیا هم لاړل ځوانان
ابو جهل او اخنس ابو سفیان
مخامخ سحر وختي یو بل سره شو
ډېر خړ سترګي ملامته او خفه شو
وئېل د نن نه پس زمونږ معاهده ده
بیا به نهٔ ځو د یو بل سره وعده ده
سبا واخسته اخنس امسا په لاس
لاړل کور د ابو سفیان ته واوره بحث
تا خبرې محمد نهٔ اورېدلې
راته وایه په هغې څهٔ پوهېدلې
هغهٔ وئېل چې هر کلام ئې راته یاد
دے قسم چې ئې پوهېږم په مراد
په مطلب د ځینې نهٔ یم رسېدلے
یا به ما لا پوره نهٔ وي اورېدلے
اخنس ووئیل هم دغه حال زما دے
په څهٔ پوهه شوم او څهٔ رانه خطا دے
بیا اخنس لاړ ابو جهل کره په خپله
د هغهٔ نه ئې دا خبره وپوښتله
ابو جهل ته ئې وئېل یا ابو الحکم!
ستا څهٔ رایه ده ما پوه کړه په دې دم

ابو جهل ورته ووې واوره صاف
مونږ سره وران دي بني عبد مناف
پهٔ شرف او سردارۍ وي زمونږ جنګ
د يو بل نه مخکښې کېږو پهٔ دې ننګ
کهٔ ډوډۍ ورکوي دوي يا بخششونه
د هغو نه مونږه زيات کړو کوششونه
يا کهٔ دوي اخلي وسله ځان له د جنګ
مونږه هم اخلو وسله پهٔ دغه ننګ
اوس دوي وائي چې پهٔ مونږ کښې پېغمبر دے
پېدا کړے ئې زما قام کښې دغه شر دے
جبرائيل وحي راوړي پرې د اسمانه
دا خبره مونږ ته ډېره شوله ګرانه
هغوي وائي چې پهٔ مونږ کښې پېغمبر شته
ورسره زمونږ پهٔ دې خبره شر شته
خورم قسم پهٔ خدا ے چې را نهٔ وړم ايمان پرې
زهٔ پهٔ دې خبرو ووژنمه ځان پرې
اخنس لاړ ابو جهل پاتې شو دلګير
برقه! تا کړه پهٔ ليکلو شپه شوګير
کتاب کېږده هم قلم کېږده! دمه شه!
کټ کښې څمله سترګې پټې کړه اودهٔ شه!
مظالم بيانئوم د مشرکانو
چې کول به ئې پهٔ هغې مسلمانانو
چې پهٔ کوم قام کښې به څوک شو مسلمان
پهٔ رسول د خدا ے به ئې راوړلو ايمان

هغه قام به پۀ دۀ تهول جمع کېدلو
چې به ئې تنګ کړو پۀ وهلو ټکولو
ورته وئېل به ئې محمد نه لاس پۀ سر شه!
د اسلام نه توبه وباسه! کافر شه!
بل اوبۀ دانه غله به ئې پرې کړه بنده
چې پۀ مرګ به بیا خوشحاله ؤ لۀ ژونده
ځینو ځینو به سختي برداشت کوله
بعضې بیا به شو د حق دینه غافله

د حضرت بلال د اسلام واقعه

د بلال غوندې پۀ کښې وو صادقان
چې یو ځل پۀ محمد شو عاشقان
دے مریے د اُمیه بن خلف ؤ
زحمتونه ئې برداشت کړۀ پۀ شرف ؤ
چې ګرمي به شوه غرمه شګې به سرې شوې
د بلال صاحب د سر به خطرې شوې
پۀ غرمه کښې ئې بلال به راوستلو
پۀ سرو شګو به ئې د پاسه واچولو
یو درونډ ګټ ئې پۀ سینه ورله د پاسه
کېښودو دې ظالمانو بې وسواسه
ورته وئېل به ئې پرېږده دین د محمد
ؤ پۀ ژبه د بلال 'احد احد'

يوه ورځ بلال 'احد احد' وئيلو
ورقه بن نوفل پرې ورغللو
ورقه ووې قسم دے اے بلال!
چې خدا اے يو دے يو دے يو دے لا زوال
ورقه وئيل تاسو واوروئ ظالمانو!
دومره ظلم مۀ کوئ پۀ مظلومانو
کۀ دے مړ شي پۀ دې هسې رنګ ظلمونو
د دۀ قبر به وي ځاے د رحمتونو
بيا به غواړم زۀ د دۀ پۀ برکت
د آسمانه بارانونه د قدرت
پۀ ګاونډ به ئې پنا حاصلؤمه
هر يو سوال به زۀ د دۀ پۀ نوم کؤمه
غرض دا چې ابوبکر پرې را تېر شو
چې بلال ئې وليدو نو غم پرې ډېر شو
اُميه ته ئې وئيل د خدا ے نه نۀ وېرېږې
نۀ پۀ دې مسکين کړې رحم نۀ ترسېږې
هغۀ وئيل دا خراب کړے راته تا دے
تۀ ئې واخله چې دې دوست دے يا اشنا دے
ابوبکر وئيل زما دے يو غلام
هغه دے پۀ کفر کلک، دے پۀ اسلام
ښۀ مضبوط دے پۀ بدل د دۀ کښې واخله
دا بلال چې دې خوښ نۀ دے راکړه ما له
اُميه ورسره کړو بلال بدل
بد قسمته اُميه ؤ پۀ ازل

ابو بکر کړو آزاد د غلامۍ نه
دنیا ټوله ئې خبره نېک نامۍ نه
د اسلام پهٔ وجه شپږ نور غلامان
ازاد کړي ابو بکر سخي ځوان
دا بلال ئې هم ؤ اوم وکړئ باور
پهٔ ربنتینې باندې ؤ صدیق اکبر
یو عامر بن فهده نومې غلام
آزاد کړے ابوبکر ؤ نېک نام
دے د بدر د اُحد غزا کښې ځوانه!
شریک شوے ؤ ښکاره ئې ده مړانه
بیا پهٔ بېره معونه کښې شهید کېږي
تر قیامته پهٔ تاریخ کښې به یادېږي
زنیره نومې را یاده زنانه شوه
آزادۍ نه پس بیا دا ښځه ړنده شوه
بیا قریشو وئېل دا لات عزا ړنده کړه
بس د سترګو نه ئې خلاصه زنېره کړه
هغې ووئیل قسم پهٔ ذو الجلال
چې پهٔ لات غزا کښې نشته دا کمال
روغ رمتې سترګې خدا ے ورته واپس کړې
د قریشو دا خبرې ئې عبس کړې
یوه وه اُم عبیس زنانه بله
چې صدیق صاحب هم دغه وبخښله
نهدیه نومې یو ښځې بله لور
اوس د دې ښځو کؤم درته مذکور

د یوې ښځې دا وینزې یادېدلې
چې یو ورځ ئې چرته ژرندې له لېږلې
وئېل قسم دے زما واورئ دا خبرې
چې به تاسو زۀ ازادې نۀ کړم چرې
ابوبکر وئېل چې څۀ استثنا وکه
هغې وئېل دا تا خرابې کړلې ځکه
پېسې راکړه چې دوي خلاصې کړې زما نه
بیا ئې وبخښه پرې تۀ شه مهربانه
ابوبکر ترې نه دواړه واخستلې
هغه دواړه ئې کړې ازادې، وې بخښلې
بله وینزه ئې د عمر نه واخستله
چې هغه ئې هم وهله ټکوله
عمر دغه وخت کښې نۀ ؤ مسلمان
ترس به نۀ راتلو پۀ چا د پهلوان

د عمار بن یاسر اسلام

اوس حال واوره د عمار بن یاسر
چې ئې مور وه مسلمانه هم پدر
تودو شګو ته به ئې دواړه راویستل
مشرکانو به خواران عذابول
کۀ پۀ دوي به چرې راغے پېغمبر
ورته وئېل به ئې، خاندانه د یاسر!

کوئ صبر! د صابرو ځاے جنت دے
خداے مو ویني چې پۀ تاسو کوم زحمت دے
کوم سړے چې طاقتور به مسلمان شو
ابو جهل به پېغور له ور روان شو
ورته وئېل به ئې پلار دې ؤ لۀ تا نه غوره
تۀ ذلیل یې، غېرت نۀ لرې د سره
کۀ به څوک شو مسلمان تجارتي هم
پۀ هغۀ پسې به لاړ دا لعنتي هم
ورته وئېل چې تجارت به دې خراب کړو
یا به لوټ درله دا ټول مال او اسباب کړو
برقه! دا دوړې دبکې به دۀ کولې
ډلې ډلې به اسلام ته راوړېدلې
چې تعداد به زیاتېدو د مؤمنانو
زړۀ چاودو به د مکې د مشرکانو
پۀ حضور خو د چا لاس نۀ رسېدلو
مشرکانو به دا نور خلک وهلو

حبشې ته وړومبے هجرت

بیا حضور ووې چې اے مسلمانانو!
هجرت وکړئ د مکې د ظالمانو
پېغمبر چې ورله ورکړو اجازت
صرف یوولس تنه لاړۀ پۀ هجرت

حضور ووې د حبشو يو بادشاه دے
چې د ظلم جبر زور نه مبرا دے
شئ د ظلم نه به هلته پۀ امان
خدا ے به ژوند کړي ستاسو ښۀ پۀ اطمينان
اتئ تنه نارينه درې زنانه وې
صادقانې چې پۀ هغه زمانه وې
مهاجر به ورځ پۀ ورځې پسې تلل
درې اتياو ته پۀ شمار ورسېدل
ورو پۀ ورو د اسلام ډله زياتېدله
دوه تني جرګه قرېشو ولېږله
عبدالله بن ربيع، عمر بن عاص
پۀ جرګه قرېشو ولېږل دوي خاص
څۀ تحفې او پېشکشونه ئې کړۀ جمع
نجاشي بادشاه د پاره پۀ دې طمع
پۀ کښې وکړله ئې حصه د وزيرانو
هغه وخت کښې مناسب د حکيمانو
دواړو واخستل د ځان سره سوغات
د حبشو ملک ته ځي واوره حالات
د حبشو ملک ته دوي لاړل يارانو!
سوغاتونه ئې کړۀ تقسيم پۀ وزيرانو
ورته ئې وئېل دلته زمونږ يو څو کسان دي
چې زمونږ پۀ قام کښې دغه شودګان دي
دې بادشاه ته زمونږ وکړئ سفارش
بې تپوسه دې کړي مونږه ته واپس

اوربدلي دي د خپل دين نه غلط
نۀ ئې ستاسو دين سره شته محبت
مونږ بادشاه ته به خبره کړو اظهاره
تاسو وکړئ سفارش زمونږ د پاره
ورته ښه وکړه پۀ مينه وزيرانو
وي بادشاه ته به پېشي د اصحابانو
نجاشي بادشاه ته لاړۀ برابر
د يو نوم دے عبدالله د بل عمر
بيا دوي پېش هغه تحفې کړلې بادشاه ته
سردارانو زمونږ دا لېږلي تا ته
چې تحفې هغه بادشاه کړلې منظور
بيا شروع کړو ورته دوي دواړو مذکور
ورته وې بادشاه يو څو کسان راغلي
لا تر اوسه به تا نۀ وي پېژندلي
د خپل دين نه هغوي کړے دے انکار
د بل نوي دين کړي خلکو ته پرچار
دوي زمونږ پۀ لاس کښې راکړه تۀ واپس
چرې تاسو لره دين نۀ کړي عبس
وزيرانو ووې دا سړي څۀ وائي
بادشاه ور ئې کړه د ځان سره دې بيائي
بادشاه ووې داسې نۀ کؤم هېڅ کله
د هغوي نه زۀ تپوس کؤم پۀ خپله
دا يو قام دے زۀ ترې هم کؤم پوښتنه
چې پۀ څۀ وجه راغلي د وطنه؟

دوي پۀ ما پورې اخستې چې پناه ده
بې پوښتنې کۀ ئې سپارمه ګناه ده
پۀ هغوي پسې استازے ولېږلو
نجاشي دا مهاجر را وغوښتلو
قاصد ورغے هغوي ته ئې وئيل
بادشاه غواړي تاسو راشئ پۀ يو ځل
اصحابانو وکړه خپله مشوره بيا
چې بادشاه خپل بيان وکړلو پوره بيا
هغوي ووې چې قسم پۀ پاک اکبر دے
څۀ چې حکم کړے مونږ ته پېغمبر دے
بس هغه به ورته وايو څۀ چې کېږي
خدائے کريم دے چې هر څۀ راته ښېښېږي
اصحاب چې دې بادشاه له ورغلل
هغۀ هم خپل عالمان را وغوښتل
کتابونه ئې خوارۀ کړۀ د خپل دين
دې بادشاه ترې تپوس وکړو دغه حين
بادشاه ووې ستاسو کوم دين دے؟ ووايئ!
چې خپل دين مو پۀ کښې پرېښے راته ښايئ!
نۀ خو تاسو دې زمونږ دين کښې داخل يئ
نۀ پۀ نورو اُمتونو کښې شامل يئ
بيا جعفر جواب کښې ووئيل بادشاه ته
اے صاحبه! يو خبره کؤم تا ته
مونږه مخکښې وو د دې نه جاهلان
پۀ خدايانو مو نيولي وو بُتان

مونږ مرداري به خوړې ګنده کارونه
قطع وه صله رحمي کېدۀ قتلونه
ګاونډي سره به مونږه بد کولو
زورور به د کمزوري مال خوړلو
پۀ بي بيبيانو پاک لمنو به مو تور
يتيمان به رانه تنګ وو کور پۀ کور
پېغمبر مونږ ته را ولېږو پاک رب ښۀ
چې معلوم دے د هغۀ مونږ ته نسب ښۀ
راته ئې وښودو د يو خدائے عبادت
مونږه خلاص شو د بتانو د لعنت
مونږه پرېښودل همه ګنده کارونه
بس د يو الله کوو عبادتونه
دې قام مونږ سره را واخستل ضدونه
چې کېدے شي ترې، کوي هغه ظلمونه
مونږ اخستې اوس پۀ تا پورې پناه ده
کۀ شرې کۀ ورکوې مو، خوښه ستا ده
نجاشي وئېل محمد علېه سلام
څۀ راوړے وايه تاسو ته کلام؟
ورته ووئيل جعفر ډېر دلاور
مونږ ته حق پېغام راوړے پېغمبر
نجاشي ورته بيا داسې ووئيل
د هغې نه مونږ ته وکړه اورول
جعفر دوي ته اياتونه چې لوستل
نجاشي باچا پۀ هسې رنګ ژړل

ږیره ئې داسې شوه لمده پهٔ اوښکو باندې
چې ترې ښاښکي ښښېدل پهٔ زمکه لاندې
عالمانو دومره وژړل اخونه
چې پهٔ اوښکو ئې لامدهٔ کړل کتابونه
نجاشي وئېل دا د یو چراغ رڼا ده
چې وېنا د محمد یا د عیسیٰ ده
کړې تحفې ئې ورته واپس پهٔ هغه دم
وئېل قسم دے چې دوي چا ته نهٔ سپارم
د دربار نه ئې کړهٔ دواړه را رخصت
د عمرو، عبدالله شو خراب عزت
دوي چې دواړه د دربار راوتل
بیا عمرو ابن عاص داسې وئیل
چې باچا ته سبا کړم یوه خبره
پرې بنیاد د دوي وباسم برادره!
عبدالله وئېل دا زمونږه نسبیان دي
داسې مهٔ کړه خبر زمونږ سره کهٔ وران دي
عمر وئېل قسم پهٔ خداے داسې کؤمه
خامخا به دا باچا پرې خبرؤمه
سبا بیا دوي دواړه ورغلل باچا ته
ورته ئې ووئېل یوه خبره کؤم تا ته
باچا دوي نه تپوس وکړو پهٔ قسم
دوي بنده ګڼي عیسیٰ ابن مریم
دوي را وغواړه ترې وکړه تپوسونه
در معلوم به شي پهٔ خپله دا حالونه

بيا باچا ورپسې ولېږو قاصد
د عيسیٰ پهٔ اره ښهٔ وائي کهٔ بد؟
اصحابو جرګه وکړه هسې شان
د عيسیٰ پهٔ باب کښې څهٔ کوې بيان
مشوره ئې داسې وکړه برابر
چې څهٔ وئيلي دي الله او پېغمبر
نجاشي ته يو سړے د جنګ د پاره
را اوچت شو غوړ پرې کېږده زما ياره!
دا سړے څوک حبشي ؤ زورور
جنګ ئې جوړ کړو ورسره به ؤ لښکر
اصحاب پهٔ دې خبره شو غمژن
هسې نهٔ چرې غالب پرې شي دښمن
حق رسي څهٔ نجاشي کوي زمونږه
خدا ے خبر چې دا بل سړے به وي څنګه
نجاشيان پهٔ دريا نيل پورې وتل
پورې غاړه د درياب نه جنګېدل
اصحابو وئېل يو کس لېږو في الحال
خامخا به د جنګ راوړي حال احوال
بس زبېر بن عوام وکړو دا ننګ
زهٔ به لاړ شم حال به راوړمه د جنګ
صحابه ورله مشک ډک کړو د هوا نه
پهٔ هغو خلکو کښې دومره وه مړانه
نجاشي بادشاه ته دوي کړې دعاګانې
زبېر تلے اوس به راوړي اطلاعګانې

دوي کتل زبېر پهٔ منډه را ښکاره شو
چې د لرې نه پهٔ چغو پهٔ نعره شو
مبارک ووئيل پاک دامن
نجاشي بادشاه غالب شو پهٔ دښمن
پهٔ دې فتح شو خوشحاله اصحاب
نجاشي پهٔ هغه جنګ کښې شو کامياب
بيا مکې ته شو واپس اصحابان
پهٔ درې مياشتې پس ګلونه د رېحان
بادشاهي د نجاشي بادشاه د پلار وه
بغاوت پهٔ کښې هېڅ نهٔ ؤ پهٔ قرار وه
دا يو زوي ورله ورکړے ؤ خاوند
بل پهٔ کور کښې هغهٔ نهٔ لرو فرزند
د بل ورور ئې وو زامن دولس پهٔ شمار
د اولاد پېرزو پرې کړې وه غفار
دې قام وکړو ورته داسې مصلحت
دا بادشاه قتل کوو پهٔ څهٔ حکمت
بيا به ورور ته ورله تاج کړو ور پهٔ سر
چې د دولسو زامنو دے پدر
پلار ئې مړ د نجاشي کړو بې قصوره
هغه وشي چې څهٔ رب ته وي منظوره
تاج او تخت ئې هغه بل ته حواله کړو
د دهٔ ورور ئې بې قصوره فېصله کړو
د هغهٔ ترهٔ نجاشي چې حکمران شو
دا ورارهٔ ورته د بال بچ نه هم ګران شو

ډېر قابل او سنجيده عاقل هوښيار ؤ
دغه ترۀ ورله ورکړے ټول اختيار ؤ
نو دې قام سره پېدا شوه خطره بيا
نجاشي کۀ پۀ تخت کښېناست دوباره بيا
مونږ وژلے دے د دغه هلک پلار
کۀ بادشاه شو مونږ به ټول کاندي پۀ دار
ځئ چې ورشو ترۀ ته ئې وکړو دا خبره
يا دې مړ کړي يا دې وشړي لۀ دره
دغه قام ئې ترۀ له ورغے پۀ زور
هغۀ ووې پرون مو مړ کړو راته ورور
نن ورارۀ ولې پۀ تاسو قتلؤمه
خبر دے زۀ به ئې لۀ ملکه وشړمه
دا ورارۀ ئې خلکو راوستو بازار ته
پۀ شپږ سوه روپۍ ئې ورکړو يو تجار ته
بېګائي له وريځ ښکاره شوه پۀ اسمان
ترۀ ئې راووت کوو سوال ئې د باران
خدائے پرې تندر کړو د پاسه را ګزار
چې بادشاه پۀ هغه ځائے شولو قرار
بيا ئې زوي خلکو د تخت کړو حکمران
چې احمق ترې نه بل نۀ ؤ پۀ جهان
دغه قام پۀ پرېشانۍ کښې پرېوتل
پۀ خپل منځ کښې سره داسې ووئيل
بل هېڅوک کولے نۀ شي حکومت
نجاشي کښې شته دے دغسې لياقت

پهٔ بازار کښې مو خرڅ کړے دے پرون
څئ چې بیا ورپسې ټول وکړو لټون
سړي لاړهٔ اخستونکے ئې وموندلو
نجاشي ئې سوداګر نه راوستلو
تاج ئې کړو د سلطنت ورته پهٔ سر بیا
حواله شو ورته تخت د خپل پدر بیا
بې رشوته بې محنته الله ما له
بادشاهي د خپل پدر پهٔ لاس کښې راغله
بیا واپس راغے هم هغه سوداګر
د مریے پیسې مې راکړې برابر
یا مریے راکړئ معطل و نهٔ کړئ نور
ما نه تاسو را وستلے دے پهٔ زور
دې سړو وئېل پیسې نهٔ درکوو تا له
سوداګر ووې رپورټ وړمه باچا له
نجاشي د سوداګر واورېد بیان
را طلب ئې کړل د قام هغه کسان
ورته ئې ووې دهٔ ته ورکړئ رقم خپل
یا مریے ورکړئ کهٔ زهٔ یمه کهٔ بل
دې سړو ورته خپل وشمارو رقم
یو ټکه پهٔ کښې هېڅ نهٔ ؤ زیات و کم
برقه! هغه بادشاهان وو عادلان
اوس خو پاتې دي اسمي مسلمانان
نجاشي چې د رسول پهٔ عقیده شو
مخالف ئې د حبشو هر بنده شو

وئېل چې دے زمونږ د دین نه شو بهر
وائي دا عیسیٰ بنده دے پېغمبر
ټول حبش شولو را جمع عام و خاص
تا زمونږ د دین نه واخستلو لاس
تهٔ عیسیٰ ابن مریم ته بنده وائې
د خدائے زوے ئې نهٔ منې نو بیا خطا یې
نجاشي ته مخالف شو دغه قام
اصحابو ته ئې ولېږو پېغام
ورله ئې جوړې کړې بېړۍ مهٔ خفه کېږئ!
وئېل پهٔ دې کښې شئ سوارهٔ پهٔ کښې اوسېږئ!
کهٔ ما وخوړو شکست اصحابانو
بیا چې چرته ځئ نو ځئ د خدائے دوستانو!
کهٔ غالب شوم بیا بې غمه سکونت
تېروئ ژوند د ارام او د راحت
نجاشي بیا یو کاغذ را واخستلو
پهٔ هغهٔ کاغذ ئې داسې ولیکلو

أَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنَّ مُحَمَّدً عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُه
وَأَشْهَدُ اَنَّ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُه
وَكَلِمَتُ اَلْقَاهَا اِلٰى مَرْيَم.....

دا مکتوبه یې د قُبا پهٔ ښۍ اوږه کښې کېښوده.

بیا حبشو ته را ووتو پهٔ خپله
یو خبره ئې ورته داسې ووئیله
ولې تاسو کښې زیات نهٔ یمه حقدار؟
یا اخلاقو کښې خراب یمه بې کار؟

هغوي ووې چې په مونږ کښې زيات حقدار يې!
په اخلاقو باندې هم ډېر حسن دار يې!
ولې بيا کوئ زما مخالفت؟
ما به پوهه کړې په دغه حقيقت
هغوي وئېل تهٔ کړې خلاف د مشرانو
تهٔ عيسيٰ شمارې د خدائے په بندګانو
نجاشي ووې چې ستاسو څهٔ رنګ خوي دے
هغوي ووئيل عيسيٰ د الله زوي دے
نجاشي هغه مکتوب د پاسه لاس
کېښودو وئيل ئې حبشو واورئ بحث
زهٔ شهادت کړم چې عيسيٰ علېه سلام
زياتي کړے نهٔ دے دې نه څهٔ کلام
ټول حبش ئې کړهٔ رضا په دې خبره
جنګ جګړه په کښې و نهٔ شوه د سره
چې حضور ته دا واقعه ورسېدله
نجاشي سره ئې مينه زياته شوله
نجاشي چې شو وفات واورئ کلام
جنازه ئې وکړه پاک خېر الانام
ورله ئې وغوښته دعا د مغفرت
وي په داسې بادشاهانو دے رحمت
دوه کسي وفد قرېشو ؤ لېږلے
د حبشو نه مايوسه ؤ راغلے
يو طرف ته په دوي دغه ؤ خفګان
بل طرف ته چې عمر شو مسلمان

چې حمزه پهٔ حضور راوړلو ایمان
هلته شو مسلمانان پهٔ اطمینان
چې عمر فاروق ایمان راوړو مکه کښې
نمونځ پهٔ جار وکړو هغهٔ خانه کعبه کښې
د حبشو د هجرت نه پهٔ آخر
ایمان راوړلو عمر پهٔ پېغمبر
عبدالله بن مسعود نه دے کلام
د عمر اسلام وه فتح د اسلام
د عامر مور فرمائي پهٔ هسې شان
چې عمر مشرف نهٔ ؤ پهٔ ایمان
عامر تلے ؤ بهر چرته د کوره
عمر راغے د الله قدرت ته ګوره!
ما ته ئې ووې جوړې تاسو یئ روان
نن پهٔ تاسو مې راځي دغه ګمان
ورته ما ووې قسم دے د خدائے نورې
زمکه شته ورله به لاړ شو ته به ئې ګورې
تاسو دلته مونږه ډېر کړو پهٔ ازار
خدائے به مونږ لره پېدا کړي چرته لار
عمر ووئیل چې ځئ خدائے مو شه مل!
هر سړي ته ور رسېږي نصیب خپل
ما چې دا نرمي عمر کښې ولیدله
ورنه طمع د اسلام مې ونښتله
چې عامر راغے هغه مې کړو خبر
ډېر نرمي خفګان پهٔ مونږه کړو عمر

عامر ووې مورې کړه دې خاطر جمع!
د عمر نه د اسلام لرې څهٔ طمع؟
دې وئېل او زما پهٔ خدائے شته دے باور
يقين شته چې مسلمان به شي عمر
عامر وئېل د خطاب زوے به ايمان راوړي
عمر خدائے خبر اسلام ته کهٔ را واوړي
دے مايوس ؤ د عمر سختئ پهٔ وجه
دا خبره ئې څکه وکړه کجه وجه
د حضرت عمر د خور واوره خبر
دا بي بي وه د سعيد صاحب ټبر
فاطمه د هغې نوم واوره بيان
خاوند ښځه دواړه وو مسلمانان
عاشقان وو د عمر نه پهٔ روېدار پټ
بل نعيم ؤ مسلمان د دهٔ قامدار پټ
اوښي خور ته به ئې قرآن ښودو خباب پټ
دوي کلام به يادوهٔ د پاک وهاب پټ
يوه ورځ تُوره پهٔ غاړه کړه عمر
نيت ئې دا ؤ چې کړم قتل پېغمبر
لبوني غوندې پهٔ لار باندې اوتر تلو
دا پهٔ مرګ پسې د ښکلي پېغمر تلو
ورته سي ډې شوې وه پهٔ هسې شان
پهٔ يو کور کښې دي نبي او اصحابان
د صفا سره يو کور کښې دي را جمع
عمر قتل له ورتللو پهٔ دې طمع

پېغمبر سره صدیق، حمزه، حېدر وو
ځلوبښت تنه ښځې نر دا بختور وو
عمر دوي پسې ورتلو نیت ئې خراب
خو نعیم مخې له ور وستو وهاب
نعیم ووئیل عمره! څهٔ دې خیال دے
چې ګډ وډ پهٔ لار روان یې بد دې حال دے
ورته ووئیل عمر واوره بیان
پېدا شوي دي یو څو تنه سابیان
دوي کوي زمونږ خدایانو ته ښکنځل
کړي زمونږ د مشرانو سپکول
اراده مې کړې ده پهٔ هسې شان
دے ژوندون د محمد مونږ له نقصان
نن مې تُوره اچولې ده پهٔ څنګ
محمد به کړم پهٔ سرو وینو کښې رنګ
نعیم ووې نفس دهوکه درکوي تا له
بني عبد به دې پرې نهٔ ږدي سبا له
خبر نهٔ یې د محمد د خاندانه
تا به پربږدي هغوي داسې پهٔ اسانه؟
اول ځان د اوښې خور پهٔ حال خبر کړه!
بیا د مرګ تکل وروستے د پېغمبر کړه!
اوښے خور دې دواړه دي مسلمانان
ورشه واوره ترې قرآن عظیم الشان
چې عمر د هغهٔ خبره واورېدله
اراده ئې هغه دم شوله بدله

اوښي خور پسې روان شو بې اختياره
رنګ ئې زيړ شونډې ئې وچې وې د قاره
چې د اوښي کور ته دے ورسېدلو
پۀ سورة طٰهٰ هغوي مشغولېدلو
د قرآن ښودو استاد ئې ؤ خباب
د عمر پۀ راتلو پوهه شو جناب
عمر دوي ته دروازه ووډبوله
د عمر اواز ؤ زيات د عزرائيله
خور ئې پټې کړلې پاڼې د قرآن
خباب پټ شو چرته ګوټ کښې هغه آن
عمر ووې ګنګوسي مې اورېدل
رښتيا وايئ چې دا تاسو څۀ وئيل
هغوي وئېل چې تا هېڅ نۀ دي اورېدلي
اورېدلي دي او نۀ تا پېژندلي
عمر وئېل زۀ خبر شوے يم وختي
پۀ سعيد ئې حمله وکړه سمدستي
خور ئې پاڅېده خاوند ئې بچ کولو
عمر وکړله شروع پرې د وهلو
سر ئې مات شو وينې شوې پرې را رواني
هغې ووې خدا ے دې پوهه کړه نادان يې
خپلې خور ورته وئيل وروره عمره!
سر زمونږ شه صدقه د پېغمبره
پۀ رسول باندې راوړے مونږ ايمان
څۀ چې کړې هغه کوه نشته خفګان

چې عمر د خور سرې وينې وليدلې
پښېمانه شو توبې ئې وويستلې
بيا ئې خور ته دا خبره ووئيله
هغه پاڼه چې وختي تاسو لوستله
ما له هغه کاغذ راکړه خپلې خورې!
زۀ ئې ګورمه پربږده خبرې نورې
هغې ووې دا کلام به کړې نقصان
ګناهګاره به پرې زۀ شم د سبحان
هغۀ ووئيل قسم پۀ لات عزا دے
چې زۀ ئې وګورم واپس امانت ستا دے
خور ئې پوه شوه چې عمر راوړي اسلام
اوس به دے قدر کوي د پاک کلام
ورته ئې ووئيل چې څوک پليت نجس وي
هغه کس لره پۀ کار غسل اودس وي
عمر هلته وکړو غسل پۀ اخلاص
صحيفه ورله خور ورکړله پۀ لاس
عمر ټکي د قرآن چې ولوستلو
دا بې شکه دروند کلام دے د وئيلو
د عمر خبرې واورېدې خباب
بيا را ووت وئېل قسم دے پۀ وهاب
خباب وئېل خدا ے د رسول پۀ دعا خاص کړې
معلومېږي چې د کفر نه ئې خلاص کړې
د دوه کسو دعا کړې وه حضور
هغه ستا پۀ حق کښې خدا ے کړله منظور

عمر ووئيل خباب ته هسې شان
ما ته وښايه نبي آخر زمان
زۀ ورځم چې كلمه كړي را بيانه
غلطي ډېره زياته شوې ده زما نه
خباب ووې د صفا خوا كښې يو كور دے
د قرآن د تعليم دغه كور كښې زور دے
عمر تُوره كړه پۀ غاړه شو روان
برقه! لوي خداے پۀ عمر شو مهربان
هغه كور ته چې عمر ورسېدلو
اصحابو ئې اواز وپېژندلو
اصحابو د ور وتكو كښې كتنه
د عمر تُوره پۀ غاړه وه راتنه
يو سړي ووې حضور ته چې كار وران دے
چې عمر تُوره پۀ غاړه را روان دے
حمزه ووې اواز ورکړئ نيت ئې څۀ دے
چې راغلے دے پۀ څۀ رنګ اراده دے
كه ښۀ نۀ وي اراده ئې وي بدله
چې پۀ خپله تُوره قتل شي پۀ خپله
پاک رسول ووې چې وركړئ اجازت
اوس پۀ خپله به معلوم شي د دۀ نيت
تُوره ئې ترخ كښې وه عمر راغے دننه
حضور پاڅېد د ګرېوانه ئې ونيونه
جټكه ئې وركړه وئېل پۀ څۀ پسې راغلے
حال دې وايه نيت خراب لرې كۀ ښكلے؟

عمر وئېل په خدائے رسول ایمان راوړمه
مسلمان شوم، بس د کفر نه وځمه
پېغمبر کلیمه کړله ور بیان
عمر ډېر په صدق شولو مسلمان
یو عمر چې مسلمان شو په مکه کښې
ښکاره نمونځ وکړو هغوي خانه کعبه کښې
برقه! خدائے دې د عمر غوندې عادل
په اسلام کښې را پېدا کړي مونږ ته بل
پېغمبر ووئیل الله اکبر
ټول شو پوهه چې اسلام راوړو عمر
عمر وئېل څوک به خبر رسوي زر
خلکو وئېل دا دے جمیل بن معمر
عمر لاړ داسې ئې ووئیل جمیل ته
دا خبر یوسه زما هر یو بخیل ته
ورته وایه چې عمر راوړو اسلام
تۀ ئې ډېر پروپېګنډه‌س د قرېش قام
زر خبر کړه د قرېشو سرداران
ورته وایه چې عمر شو مسلمان
په اسلام کښې داخل شوے دے عمر
ځه په منډه مشرکان کړه ټول خبر
دغه وخت کښې جمیل نۀ ؤ مسلمان
مشرکانو کښې ؤ دے خبر رسان
جمیل ځان پسې ځادر وروستو راکښلو
د سیلۍ په شان په منډه منډه تللو

ودرېدلو د کعبې پهٔ دروازه کښې
قرېش ټول دننه ناست وو پهٔ کعبه کښې
يو اوچت اواز ئې وکړو برابر
وئېل عمر صابي شوے شئ خبر!
عمر دهٔ پسې روان ؤ وروستو غلے
دې جميل بخيل عمر نهٔ ؤ ليدلے
عمر وئېل دا دروغ وائي بې ايمان
زهٔ خدائے يو منم نور نشته دے خدايان
محمد علېه سلام د خدائے رسول دے
دغه دين ما ته پهٔ سر سترګو قبول دے
پهٔ عمر پسې را پاڅېدل پهٔ جمع
هغه ځائے کښې شوه جګړه جوړه سمه
پهٔ جګړه عمر ستړے کړلو ځان
اخر کښېناست ترې چاپېر وو مشرکان
عمر وئېل چې لږ دمه شم يو درنګ
بيا به کړم دې مردارانو سره جنګ
دغه وخت کښې د قرېشو يو سردار
يمني څادر پهٔ سر قميص ګلدار
هغهٔ ووې دا پهٔ څهٔ باندې دے شر؟
دوي وئيل چې صحابي شوے دے عمر
هغهٔ وئېل بس کړئ چې و نهٔ شي بدي هم
د دهٔ قام دے بهادر بني عدي هم
عبدالله زوي د عمر کوي بيان
داسې لاړل بيا پهٔ تېښته مشرکان

لکه کوز کړي ځوک ځادر د چا د سر نه
ټول خوارۀ شو هغه دم زما پدر نه
د هجرت نه پس زوي ووې بابا جانه!
مشرکان چې چا شړلي وو لۀ تا نه
خدائے دې ورکړي د هغې د خېر بدل
عبدالله عمر ته داسې ووئيل
عمر ووې خدائے دې خېر نۀ ورکوينه
دا ؤ عاص بن وائل زيات لۀ لعينه
مسلمان شو وړومبۍ شپۀ وه د عمر
دۀ وئېل ځوک دے سخت دښمن د پېغمبر
چې هغه کړم د خپل دين نه خبردار
چا وئېل دا خو ابو جهل دے مردار
عمر ورغلے هغۀ پسې يارانو!
ځار قربان شمه د داسې بهادرانو
ورپسې لاړو عمر ګل د نمبر
ابو جهل وئېل ورارۀ راغلې پۀ خېر!
څۀ دي وايه چې راغلے يې تۀ ما له؟
عمر وئېل يو خوشخبري درکوم تا له
ما راوړے محمد باندې ايمان دے
تۀ خبر شه! زما تا ته دا اعلان دے
ور کړو بند ابو جهل ځان پسې د قهره
وئيل تا دې خدائے قبيحه کړي بې کاره
برقه! دغسې بهادر چې مسلمان شي
امريکه روس به ترې دواړه پۀ لړزان شي

اصحاب شو پۀ حبش كښې پۀ امان
بل حمزه او عمر شو مسلمانان
اوس اسلام پۀ قبائيلو كښې خورېږي
ابو جهل وئېل د دې به څۀ چل کېږي
ټول را جمع شو جرګې ته مشركان
برخلاف وو د هاشم د خاندان
مطلب بن هاشم سره پۀ ژوند
نكاحونه به زمونږ د دوي وي بند
نه پۀ دوي څۀ اخستل نۀ خرڅول
دا بندېز پرې مقرر شو مكمل
فېصله پۀ هسې شان ئې وليكله
اوېزان ئې د كعبې پۀ منځ كښې كړله
د ليكونكي نوم منصور بن عكرمه ؤ
دے د خداے قهر غضب ته ور څېلمه ؤ
ورته وكړه بد دعا نبي سرور
ګوتې شلې شوې د دغه غټ مضر
بني عبد الهاشم شولو يوه ډله
خو بغېر ابو لهب غوندې سنګدله
شو ملګرے د قرېش ابو لهب
اخته شوے د الله پۀ لوے غضب
چې ملګري څوک د پاک نبي سره شو
د دوه غرونو منځ كښې كنده كښې دېره شو
د دوه غرونو منځ كښې دوي شولو قېديان
پوره درې كاله وو دلته بنديوان

'شعب ابي طالب' د کندې نوم دے
ډېرو خلکو ته اوس هغه ځاے معلوم دے
دغه کنده کښې وو درې کاله قېديان
پېغمبر سره وو ټول اصحابان
هېڅ غله دانه به نۀ ور رسېدله
چا پۀ پټه خپلولي سره پالله
يوه ورځ وه چې حکيم بن حزام
دے خوريے د خديجې واوره کلام
يو غلام له ئې غنم د ترور د پاره
ورکړۀ دا مې ترور له تۀ يوسه نامداره!
غلام واخستل غنم هلته ئې وړلو
ابو جهل کافر لار کښې ونيولو
ابو جهل وئېل قسم نۀ دې پرېږدم
خامخا دې پۀ مکه کښې شرمؤم
دا تۀ وړې بني هاشمو له طعام
پۀ دوي راغے بحتري بن هشام
ورته وئېل ابو البحتري پۀ هسې شان
سړے پرېږده! مړوي دې خپل خپلوان
ابو جهل ترې انکار وکړو بالکل
دواړه ونښتل نو لاس ئې واچول
يو هډوکے ؤ د اوښ د ژامې وروره!
ابو جهل ئې پرې وواهۀ پۀ زوره
سر ئې کړو پۀ دې هډوکي ورله مات
ابو جهل ئې پرې وټکوۀ زيات

حمزه دغه واقعه چې وليدله
سر نه سره د ابو جهل وينه بهېدله
دوي هېڅ ځوک نۀ خبرول د جنګ د حاله
دا پۀ دې چې پېغمبر به شي خوشحاله
خپل دعوت جاري ساتلو پېغمبر
د هېچا ئې نۀ کولو خوف خطر
د الله حکمونه دۀ بيانول
د قرېشو پرې هېڅ لاس نۀ رسېدل
ښه دا وه چې دښمني به ئې پالله
سپکه سپوره به ئې پشي شا وئيله
ترونه ټول د پاک نبي ډله پره وو
خو بغېر د ابو لهب نه چې سپېرۀ وو
آياتونه د قرآن نازلېدل
خدائے به بعضې کفار خاص ذکر کول
چې قرآن کښې بد وئيلي پۀ چا رب ؤ
يو پۀ کښې د حضور ترۀ ابو لهب ؤ
بله ښځه نوم لري اُمِّ جميل
پۀ هغې کښې رذالت ؤ د رذيل
د حضور لار کښې ئې غنې اچولې
ضررناکه علت ناکه وه ناولې
دا خباب اصحابي چې يو اينګر ؤ
ډېر پۀ تُورو جوړولو کښې ماهر ؤ
هغۀ عاص لره وې تُورې جوړې کړې
دې مشرک باندې قرضې وې اوړېدلې

خباب وکړه تقاضهترې د غوښتلو
دغه عاص بن وئيل ورته وئيلو
اے خبابه! ستا صاحب کوي دا قال
ملاوېږي آخرت کښې به خپل مال
خباب ووې بالکل ټهيک ده دا خبره
ولې دې کښې تۀ څۀ شک ګڼې مضره!
عاص وئيل بيا به قيامت ته ګورې ما ته
دغه ستا حق به هم هلته درکړم تا ته
اے خبابه! دے قسم واوره خبره
نۀ يې تۀ، نۀ ستا ملګري مونږ نه غوره
ستاسو برخې نه زمونږ برخه ده زياته
پۀ جنت کښې به ستا قرض درکړم تا ته

نو دا اياتونه نازل شو

اَفَرَءَيۡتَ الَّذِىۡ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا

اُميه بن خلف به چې پېغمبر عليه السلام وليدو نو ښکنځل به ئې کول او اشارې به ئې کولې او پۀ پټه به ئې عيب د هغۀ بيانولو – نو دا سورت نازل شو:

وَيۡلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِۭ .....

ابوجهل او قرآن

ابو جهل حضور ته داسې ووئيل
تۀ کوې زمونږ خدايانو ته ښکنځل

تهٔ زمونږه د خدايانو وائې بده
زهٔ به ستا خدا ے ته ښکنځل کړم محمده!

دا آيات نازل شو:

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ .....

پېغمبر به چې قرآن چرته لوستلو
ټول مخلوق ئې د خدا ے دين ته رابللو
چې به پاڅېد پېغمبر د هغه ځايه
دا نضر به هلته کښېناستو بد رايه
د رستم اسفنديار او د پارس
دا قصې به دهٔ شروع کړلې عبث
دهٔ به وخوړ قسم داسې بې ايمانه
د نبي خبرې ښې نهٔ دي زما نه
محمد د پخوانو قصې کوينه
د هغهٔ ټولې قصې ما ته ياد دينه
يو ورځ زېد بن مغيره او پاک حضور
ناست وو زېد او پاک رسول دوست د غفور
جماعت کښې وو دواړه ناست ښهٔ پهٔ قرار
دغه وخت کښې نضر هم راغے مردار
دغه وخت کښې قرېش هم ورسره نور
دا نضر بن حارث راغے مخ تور
څهٔ خبرې ورته وکړې پېغمبر
د جوابه لاجوابه شو نضر

نو بيا ورته حضور دا آياتونه ولوستل:

اِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ .....

عبدالله بن زبعدي راغے يارانو!
دے وليد مغيره وليد سامعانو!
وليد ووې د نضر بن حارث نه
پۀ جواب کښې څۀ جوړ نۀ شو دغه کس نه
محمد وئېل تاسو هم ستاسو خدايان
وي خشاک به د دوزخ دا دوزخيان
عبدالله بن زبعدي ووې قسم دے
زۀ به ئې پړ کړم، ولې تاسو سره غم دے
دے خو وائي عبادت چې څوک د چا کړي
هغه ټول به د جهنم د اور خشاک وي
څوک عزېر عليه سلام او څوک عيسيٰ ته
څوک ملائکو ته سجدې کوي څوک چا ته
دغه ټول به د دوزخ وي خشاکونه
مونږ هغوي لره کوو عبادتونه
پېغمبر وفرمائيل پۀ هسې شان
عبادت نۀ غواړي چا نه ملائکان
نۀ عزېر او نۀ عيسيٰ وئيلي دا دي
سجدې چې ګڼې مونږه ته روا دي
دا خو تاسو ته ښودل کوي شېطان
پۀ اور سوزي به شېطان او مشرکان

اِنَّ الَّذِيۡنَ سَبَقَتۡ لَهُمۡ مِنَّا الۡحُسۡنٰى

بيا وليد بن مغيره وئېل زۀ سردار يم
د قريش قبيلې مشر او نامدار يم

د ثقيف قبيلې مشر او سردار
ابو مسعود دے هر سړے ترې خبردار
قرآن ځنګ پۀ محمد بيا نازلېږي
چې وليد ابو مسعود ترې پاتې کېږي

دا آياتونه نازل شو:

وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ.....

يو اُبیؔ بن خلف بل عقبه بن ابي معيط
دوستانه ئې وه خو دواړه وو پليت
عقبه يو ورځ پۀ مجلس کښې د حضور
چرته ناست ؤ دا خبره ده ضرور
دا اُبیؔ ترې خبر شوے زما وروره!
را روان شولو عقبه پسې د کوره
ورته ئې ووې تا ډېر زيات کړي دي بد
اورېدلے دي کلام د محمد
واپس ورشه! کۀ زما اشنائي غواړې
د نبي پۀ مخ به تۀ ور توکې لاړې
عقبه د خداے دښمن وکړو دا کار
هغه لاړې را واپس کړې کردګار
د دۀ مخ ور باندې وسوزېد پۀ خپله
معجزه د رسول خلکو وليدله
خلف بيا يو وروست هډوکے مېده کړلو
د نبي مخې ته دۀ ورپوک وهلو
محمد ته ئې وئېل دا به خداے ژوندے کړي
د دۀ غوښې دا هډوکي به پۀ ځاے کړي

پېغمبر وئېل او دا تول به را پاڅي بيا
د الله سره به ئې هم کېږي پېښي بيا
مشرکان به همه اور کښې داخلېږي
د لوے خداے نه به يو کس نۀ پاتې کېږي

نو دا آياتونه نازل شو:

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ.....

پاک رسول طواف کوۀ خانه کعبې نه
مسلمانه ځان! خبر کړه اوس د دې نه
اسود، وليد، اُميه، عاص بن وائل
پېغمبر د خداے ته داسې ووئيل
مونږ به ستا د خداے شروع کړو عبادت
تۀ زمونږه د خدايانو کړه خدمت
پۀ دې کار کښې به شريک شو تول پۀ خوښه
چې کوم غوره وي نو اخلو به ترې برخه

نو الله دا سورت نازل کړو:

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ(1) لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ(2)

وېرول چې پۀ ذقوم خداے کافران
دا به ستاسو خوراکه وي پۀ نېران
پۀ دوزخ کښې چې کفار عذابوينه
خوراکه به ئې ذقوم وي دوي به ئې خورينه
ابو جهل وئېل ذقوم خو يو مېوه ده
دا اعليٰ قسم کهجوره ده خوږه ده
چې د کوچو پۀ شان خوند دے پۀ کښې ښکلے
محمد ترې خلک هسې وېرولے

دا آيات نازل شو:

اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوۡمِ۝ طَعَامُ الۡاَثِيۡمِ۝

د حبشو نه د اصحابو واپسي

چا خبر كړۀ د حبشو اصحابان
چې مكه كښې خلك شو مسلمانان
د حبشو نه واپس راتلل مكې ته
مسلمانه! غوږ دې ونيسه قصې ته
چې مكې ته را نزدې شو د زړۀ سره
دوي خبر شو چې دروغ ده دا خبره
څوك مكې ښار ته دننه شو پۀ خپله
چا پناه پۀ مشركانو واخستله
درې ديرش تنه وو پۀ شمار اصحابان
د حبشو نه واپس شو دا كسان
چې پناه د مشركانو كښې درون وو
پۀ هغې كښې يو عثمان بن مظعون ؤ
عثمان ؤ داخل پناه كښې د وليد
مشركانو پرې كولے نۀ شو بريد
ابو سلمىٰ وه طلب سره پناه كښې
دروغ نشته دے د برق پۀ دې وېنا كښې
عثمان زړۀ كښې وئيل زما ژوند پۀ امان دے
د هغۀ نورو اصحابو له نقصان دے

عثمان وئيل وليده! ستا ذمه واري
ما واپس کړه خدا ے مې شته دے اعتباري
وليد وئيل چا څۀ تکليف در رسولے؟
کۀ څۀ وي نو واوره ما ته شې وئيلے
عثمان وئيل خدا ے پورې غواړمه پناه زۀ
دغه ستا پناه واپس سپارم پۀ تا زۀ
وليد وئيل، ښه ده پۀ جار وکړه اعلان
چې خبر شي مشران او کشران
دواړه لاړل بيا جماعت له پۀ تلوار
وليد ووې، تاسو ټول شئ خبردار!
دا زما پناه کښې نور نۀ دے داخل
عثمان ووې چې رښتيا وائي بالکل
د قريشو هلته ناست ؤ يو محفل
بيا لبيد پۀ کښې شعرونه ووئيل

د لبيد شعر:

وَكُلُّ شَيْءٍ مَاخَلَا اللهَ بَاطِل
وَكُلُّ نَعِيْمٍ لَا مُحَالَةَ زَائِل

عثمان ووې چې دروغ دې وکړو قال
د جنت نعمت له هيڅ نشته زوال
لبيد ووې ما خو دا نۀ ؤ ليدلے
دا عادت تاسو کښې کله نه راغلے؟
يو سړي ووئيل دا ډېر بې وقوف دے
زمونږ دين ئې پرېښے بل دين کښې مصروف دے

عثمان دغې ته جواب وګرځولو
سړے پاڅېد، پۀ سپېره ئې ووهلو
د عثمان سترګه زخمي شوه بختور ؤ
زخمي ځکه شو عاشق د پېغمبر ؤ
وليد ووې، تۀ وتې زما پناه نه
سترګه ځکه ستا زخمي شوله عثمانه!
عثمان وې، زۀ يم د هغه چا پناه کښې
چې ترې هېڅوک طاقتور نشته دنيا کښې
دا يوه څۀ، کۀ دا بله مې ړنده شي
د خدائے لار کښې دا به هم زما فائده شي
ابو سلمٰي د ابو طالب ؤ پۀ پناه کښې
دروغ نشته دے ذره پۀ دې وېنا کښې
د مخذوم قبيلې خلکو وئېل طالبه!
يو خبره درته کړو هاشم نسبه!
خپل ورارۀ له دې ورکړے دے امان
اوس زمونږ د قبيلې ساتې کسان
طالب ووې، دا خوريے دے زما خپل
کۀ د خپل خورئي و نۀ کړمه ساتل
بيا ورارۀ به کړمه څۀ رنګ پۀ امان
نوم به نېک شي د هاشم د خاندان
دې کښې بيا ابو لهب را پاڅېدلو
دۀ قرېشو ته هم داسې ووئيلو
کوئ تاسو د دې مشر سره زياته
ورته وائې تا پناه ورکړې چا ته؟

يا خو کښېنئ د طالب نه پۀ قلار
يا به زۀ ورسره ودرېږم پۀ جار
هغوي وې، مونږ کړې واپس خپلې خبرې
خدائے دې مونږ نه تا خفه نۀ کړي هېچرې
چې طالب د لهب واورېدو گفتار
طمع ئې وشوه چې به شي زمونږ پۀ کار
ورته ولوستل طالب ښکلي اشعار
د حضور دښمنې پرې نۀ ښوه مردار
برقه! نۀ ؤ ابو لهب غوندې کفار بل
ياد دښمن د پاک نبي خير الابرار بل
ابو بکر چې ډېر تنګ شو پۀ مکه کښې
دا خبره ئې ځان له خوښه کړه پۀ زړۀ کښې
د حضور سره ئې وکړو مصلحت
هغۀ اذن ورته وکړو د هجرت
د دوه ورځو پۀ مزل د مکې لرې
د صديق د صداقت واوره خبرې
يو سردار ابن دغنه د مکې ښار
د صديق سره ملګرے شو پۀ لار
دغنه ووې ابوبکر ته دا شان
راته ووايه چې تۀ چرته يې روان؟
ابوبکر ورته ووئيل سرداره!
د خپل قام د لاسه ډېر يم نا قلاره
دغنه ووې شه داخل زما پناه کښې
بيا د هېچا به څۀ کار نۀ وي پۀ تا کښې

بیا چې څۀ کوې کوه خوښه دې خپله
ابوبکر دا خبره ومنله
شو واپس ابن دغنه سره مکې ته
اوس به ګورې د کفارو دړکې ته
چې مکې ته دواړه راغلۀ برابر
دغنه ولګېد قرېش ئې کړۀ خبر
دغنه وئېل چې ابو بکر له پناه ده
دې سړي لره پناه ورکړې ما ده
د صدیق د کوځې مخکښې جماعت ؤ
دغه ځاے بس د صدیق د عبادت ؤ
د نمانځۀ نه پس به دۀ قران لوستلو
د قرآن لوستو سره به ئې ژړلو
نرم دله د صدیق غوندې انسان بل
نۀ پېدا دے نۀ به شي پۀ دې جهان بل
د قرآن چې ئې لوستل به آیاتونه
ورته ناست به وو هلکان ښځې مریونه
چې قرېشو دغه حال ولیدو خپله
یوه ډله بیا دغنه له ورغلله
ورته ئې وې تۀ ابوبکر کړه خبر
دے دې نۀ لولي قرآن دلته بهر
دۀ ته دلته ښځې نر را جمع کېږي
دا فتنه به مونږ ته خامخا جوړېږي
دغنه ورغے صدیق ته ئې ووئیل
پۀ خپل کور دننه کړه عبادت خپل

چې دې خوښه وي، دننه هغه وايه!
نور به منع شې بهر د هغه ځايه
ما پناه درکړې وه د خدای د پاره
ته ضرر رسوې خلکو ته په لاره
ابو بکر وئېل واپس ده پناه تا ته
ما سپارلے دے ځان هغه لوے الله ته
دغنه لاړو، ټول قرېش ئې کړۀ خبر
ابو بکر مې پناه نه شو بهر
پس لۀ دې نه زما نشته دے پرې کار
اے قرېشو! تاسو ټول شئ خبردار
يوه ورځ کعبې ته تلو صديق اکبر
يو بولا خاوره ور واچوله په سر
صديق وئېل، خدايه زما په حال خبر يې!
تۀ صابر يې! تۀ صابر يې! تۀ صابر يې!

د معاهدې ماتولو قصه

دوه خېلونه مُطلِّب او بل هاشم
چې قرېشو دوي قېد کړي وو محکم
د دوه غرونو منځ کښې دوي وو بنديوان
د حضور پاک سره دا اصحابان
نۀ به چا څۀ ورکول نۀ اخستل
قرېش قام کړي وو خپل منځ کښې ليکل

يو سړے پۀ نوم هشام بن عمر ؤ
دا سړے ډېر پۀ مکه کښې معتبر ؤ
د حضور د نيکۀ دوست ؤ د هاشم
دۀ به بار کړل پۀ اوښ باندې غنم
دا غله به ئې قېديانو لره وړله
پټ د شپې به ئې هغوي له رسوله
چې به کندې ته قريب ورسېدلو
نو د اوښ د خولې مهار به ئې وويستلو
پۀ چوکه به ئې څو ګزاره ووهنه
چې قېديانو ته به زر ورسېدنه
د قېديانو سره دا قسم امداد
پۀ تاريخ کښې څکه نوم دے د دۀ ياد
يوه ورځ زهير له راغے دا هشام
هسې رنګ ئې ورته وکړلو کلام
ماماګانو ته دې نۀ ګوري، قېديان دي
اچولي چې قرېشو پۀ زندان دي
ابو جهل پرې بند کړي نکاحونه
د غلې دانې پرې ډېر دي تکليفونه
کۀ دا وے د ابو جهل پۀ ماماګانو
دا برداشت ئې کړے نۀ وے د قېديانو
زهير وئېل زۀ خو يو کس يم انصاف داره
څو ملګري دي پۀ کار زما د پاره
هشام ووې يو دې زۀ ملګرے شومه
راته وايه! نور به هم پېدا کؤمه

مطعم بن عدي پسې هشام
ورته ئې ووې تپوس نۀ کوې د قام
قام دې وګوره! د لوړې هلاکېږي
د قرېشو ملګرتيا دې څنګ خوښېږي
مطعم بن عدي ووې هشامه
زۀ يو کس يم غلے ناست يم د ناکامه
هشام ووې دوېم ملګرے به دې زۀ يم
تۀ يقين لره! د ټولو نه به ښۀ يم
مطعم وئېل کۀ درې تنه برابر شو
بيا به هله پۀ قرېشو باندې ورشو
بيا هشام وئېل زهير بن اُميه هم
دغه دے قوي ملګرے راسره هم
څلورم ؤ بختري بن هشام
هشام يوړلو هغۀ لره پېغام
بل زمعه بن اسد ئې شو ملاتړ
کۀ خدا ے کاندي ابو جهل به کړي پړ
دا پينځۀ واړه د شپې حطم العجون کښې
اتفاق وکړلو دوي پۀ ځا ے موزون کښې
ټولو وکړله جرګه لرې مظمونه
د قرېشو معاهده به ماتؤنه
زهير ووې چې اول شروع زما ده
څۀ چې کېږي، ښۀ به وي د خدا ے رضا ده
سبا بيا خانه کعبه کښې عالَمونه
شو يو ځا ے هر چا کول خپل مجلسونه

زهير هم راغے ښائسته جامې پۀ غاړه
بېت الله نه ئې طواف وکړو هسکه غاړه
بيا ئې مخ کړو هغه خلکو ته راستون
نور پۀ خړو سترګو نۀ تېروم ژوندون
وئېل قسم پۀ خدا ے، تر هغې نۀ کښېنم زۀ
يو ځل دا عهد نامه به ماتؤم زۀ
ابو جهل پۀ يو ګوټ کښې ناست ؤ غلے
دے را ووتو زهير ته قهر نيولے
وئېل ئې دا عهد قربشو دے ليکلے
دے قسم کۀ ما نه ئې څوک شي ماتولے
زمعه ووې، دروغژنه! دروغ وائې
د دروغو ليکل خلکو ته ور ښائې
مونږ پۀ دې ليکلو مخکښې وو ناراض
دروغژنه! ګرځوې پۀ بډه پياز
ابو جهل ته بختري وئېل ستا ليکل
نۀ ئې اوس منو نۀ مخکښې مونږ منل
وئېل قسم کۀ ستا پۀ عهد مونږ رضا يو
نا رضا يو، نا رضا يو، نا رضا يو
مطعم ووئيل، رښتيا مو ووئيل
غواړو دا عهد نامه اوس ماتول
مونږ د دې عهد نامې نه يو بېزار
کۀ نادان وو خو اوس مونږه شو هوښيار
ابو جهل وئېل جرګه مو کړې پټه
ځکه ما ته مو خبره وکړه رټه

يو طرف ؤ پنج تني تحريک روان
بل طرف ته حضور وکړو دا بيان
حضور ترۀ ابو طالب ته ووئيل
ترۀ! وېنو خوړلي دي هغه ليکل
پۀ کښې پاتې دے فقط د الله نوم
نور ليکل به پۀ کښې څوک نۀ کړي معلوم
نور ليکل کاغذ نه ټول وېنو خوړلي
طالب ووې، دا ستا خدائے تا ته وئيلي
پېغمبر ووې او زۀ يم خبر کړے
جبرئيل د خدائے پېغام ما له راوړے
طالب راوست پېغمبر علېه السلام
کړو را جمع د قرېشو هغه قام
ورته ئې ووئيل، ورارۀ مې داسې وائي
دا کاغذ به کړو برڅېره کۀ رښتيا وي
کۀ صحيح چرې وئيل مې د ورارۀ وي
ختمه شوې به بس دا معاهده وي
کۀ دروغ وائي درته کړم به ئې حواله زۀ
دا لۀ تاسو سره کړمه فېصله زۀ
قام راضي شو فېصله شوه مکمله
بيا هغه عهد نامه ئې پرانستله
چې ئې وکتل نۀ خط نۀ کتابت ؤ
صرف نوم پۀ کښې يو پاتې د قدرت ؤ
وو خلاف د ابو جهل پينځۀ کسان
خپل تحريک کښې شو قوي دا بهادران

شکریه کښې طالب ولوستل شعرونه
اصحاب ور باندې ډېر خوشحاله شونه
طالب شپږ ویشت شعره وئېلے وو فقط
برقه! تهٔ خو ئې موړ نهٔ شوې پهٔ صفت

د طفېل دوسي قبیلې اسلام

یو طفېل نومې سړے د رنګه ښکلے
چرته لرې نه مکې ته ؤ راغلے
عقلمند ؤ دا سړے شریف هوښیار
یو شاعر ؤ بل پهٔ قام کښې ؤ سردار
د مکې قرېش ټول شو ورته را جمع
تهٔ شاعر یې، زمونږ تا نه کېږي طمع
دې سړي راته مشکل پېښ کړے ډېر
تفرقه ئې پېدا کړې ده چاپېر
بس د دهٔ خبرې سحر دے د خوند
پلار د زوي او ورور د ورور ښځه خاوند
پهٔ خبرو دے جدا کړي یو تر بله
څوک چې ئې واورې اندازه ئې وي بدله
هسې نهٔ چې پهٔ تا هم وکړي څهٔ چل
تهٔ او قام دغه خپل دین نهٔ کړئ بدل
ما پهٔ غوږو کښې مالوچ کېښودهٔ کلک
دې سړو مې زړهٔ کښې واچولو شک

عبادت له جماعت ته ورغلمه
پېغمبر سره پۀ خوا کښې ودرېدمه
ما ترې داسې ښکلے واورېدو کلام
زړۀ راښکونکے زړۀ مې ورکړلو انعام
بيا مې هلته کړۀ مالوچ د غوږو لرې
زۀ شاعر يم چې د دۀ واورم خبرې
نمونځ چې ختم کړو نبي واورئ بيان
کور ته تلو، زۀ ورپسې شومه روان
کوم ساعت چې دے پۀ کور شو ور دننه
دغه وخت کښې ترې ما وکړله پوښتنه
ما وئېل، ما ته خپل کار وښايه سروره!
هغۀ پېش راته اسلام کړو برادره!
را ته ئې ولوستو د لوے الله قرآن
ما قبول کړو دين د پاک آخر زمان
ورته و مې وئېل د دوه کونو سلطانه!
واپس کېږم، خو دعا غواړم لۀ تا نه
پۀ دعا کښې داسې نخښه راکړه ما له
چې اسلام ته رابلم خلک سبا له
چې حضور وکړه دعا ما ته پۀ خپله
پۀ تندي کښې مې يو نخښه ښکاره شوله
چې خپل کلي ته واپس ورسېدمه
د خپل قام پۀ يو ډهېرۍ ور کوزېدمه
ترې نه لاندې د اوبو ؤ يو تالاب
ورته خلک جمع شوي بې حساب

يو رڼا مې پهٔ تندي کښې ښکارېدله
ما وئېل خدايه! دا بل ځائے ته کړې بدله
کرورې ته منتقل هغه رڼا شوه
پهٔ درگاه د رب منظور زما دعا شوه
هغه نور زما چابک کښې ځلېدلو
د فانوس پهٔ شانې هر چا به ليدلو
زهٔ چې کور ته راغلم، راغے زما پلار
ما وئېل پلاره! زهٔ لهٔ تا نه شوم بېزار
پلار مې وئېل، زما نه څهٔ شوي دي بد
ما وئېل، زهٔ يمه پهٔ دين د محمد
پهٔ جواب کښې راته ووې زما پلار
زويه! زهٔ هم د محمد يم تابعدار
ما وئېل لاړ شه، غسل وکړه ځان صفا کړه!
کلمه بيان د پاک رسول الله کړه!
کلمه ئې کړه بيان د پېغمبر
دواړه شو مسلمانان مادر پدر
بيا به ما خپل قام اسلام ته رابللو
د هغوي مسلمانۍ وخت اخستلو
خو زهٔ بيا حضور ته لاړم پهٔ شتاب
ما وئېل دے زما د قام عمل خراب
حضور وکړله دعا هغه ساعت
وئېل خدايه! ورته وکړه هدايت
ما ته ئې ووئيل واپس لاړ شه خپل قام ته
پهٔ نرمۍ باندې قام وبله اسلام ته

ما نرمي کړله د قام سره اختياره
رابلل به مې د دين اسلام د پاره
تر هغې چې مدينې ته پۀ هجرت
تلے نۀ ؤ زمونږ پاک نبي حضرت
مدينې ته زمونږ تلل وو پۀ دا شان
را سره وو د قبيلې مسلمانان
د دُوسي قبيلې خلک ما سره وو
دا صحيح مسلمانان دين کښې کره وو
تقريباً چې اتيا کوره وو پۀ شمار
شو ملګري پۀ خبر کښې روېدار
پېغمبر پۀ هغه مال غنيمت کښې
برابر حصه ئې راکړه پۀ دولت کښې
طفېل وائي زۀ حضور سره پۀ خپله
تر هغې وم چې مکه فتح کېدله
بيا مې وغوښت اجازت د پاک روېدار
ما وې پاتې دے يو بت زما د پلار
چې زما پۀ لاس ئې خدا ے وسوزوينه
هغه بت چې ذو الکفېن نامه لرينه
پسې لاړو هغه بت ئې سوزولو
طفېل دا رنګې شعرونه ووئيلو

'يَا ذُالْكَفَّيْنِ لَسْت مِنْ عِبَادِكَا
مِيْلَادُنَا اَقْدَامُ مِنْ مِيْلَادُكَا
اِنِّي حَشَشْتُ النَّارِ فِىْ فوَادِكَا'

برقه! څوک چې بُت پرست دي، نامراد کا

تر هغې ورسره ؤ طفېل بهادر
چې وصال وشو د خدا ے د پېغمبر
بیا مرتد مې قبیلې شوې د عرب
پۀ غزا پسې ور ووت دوست د رب
نجد فتح یمامې ته شو روان
طفېل وائي خوب مې ولید هسې شان
خوب مې ولید خرېلے شوے زما سر
یو مارغۀ مې د خولې ووتو بهر
کړي یو ښځه مې دننه شرم ګاه کښې
زوي مې ګوري ډېر کوشش وکړي پۀ دا کښې
را و نۀ رسېږي پاتې شي بهر
د هغۀ زوي چې نامه لري عمر
دي ملګرو وئېل پۀ خوب نۀ شې ظهیر
طفېل وئېل، ما ئې ویستلے دے تعبیر
سر خرېل سر پرېوتل مارغۀ د خولې نه
روح وتل دي چې خبر مو کړم د دې نه
شرم ګاه د زنانه خېټه د زمکې
ور دننه به شم زۀ باور پرې وکړې
زما زوے به هم کوشش د شهادت
الٰهي به ئې کړي پاتې امانت
یمامه کښې شو شهید شاعر طفېل
خزان توې کړل څۀ ګلونه د رامبېل
زوي زخمي شو د هغۀ غزا کښې سخت
الله جوړ کړو لا پوره ئې نۀ ؤ وخت

د عمر فاروق چې راغے خلافت
د يرموک غزا کښې بياموند شهادت

پۀ ابوجهل د پېغمبر رعب

يو سړے ؤ د الاش، واوره بيان
دۀ مکې ته راوستلي وو اوښان
پۀ مکه کښې دۀ پۀ خلکو خرڅول
دا اوښان ترې ابو جهل واخستل
بيا ئې نۀ ورکوۀ قيمت د هغه مال
دې سړي ته به ئې کولو ټېل متال
دا سړے غريب چې تنګ شو زما ګُله!
جماعت کښې د قرېش وه يو ډله
راغے ودرېد د هغې ډلې پۀ سر
دۀ وئېل ورونړو! زۀ يم دلته مسافر
ما له واخلئ ابو جهل نه رقم
چې د زړۀ نه مې پۀ ډډه شي دا غم
مسافر يم، څم وطن ته يم روان
اے قرېشو! راسره وکړئ دا احسان
يو طرف ته ناست محمد رسول الله ؤ
مشرکان شو پۀ خندا مطلب ئې دا ؤ
ورته ئې ووې څه! هغۀ سړي له ورشه!
دے به وکړي وصولي درله خبر شه!

مسافر ورغے زر د حضور خوا له
وئېل ئې دې سړو را ولېږلم تا له
کۀ دې دا قرض وصول کړو ما له ساز
خداے دې کړه ټوله مکه کښې سرفراز
مشرکانو خو کوله مسخره بیا
پېغمبر شولو روان هغۀ سره بیا
پېغمر ورسره پاڅېدو روان شو
د دې ډلې هر سړے ورته حېران شو
یو مخبر ورپسې وروستو تللو
چې پۀ کور د ابو جهل ودرېدلو
حضور دۀ ته دروازه وټکوله
ابو جهل ووې څوک یې؟ راغلې څۀ له؟
محمد ووې چې زۀ یمه راغلے
ابو جهل وارخطا شو زیړ زبېخلے
چې را ووت، رنګ ئې زیړ ؤ تښتېدلے
تۀ به وائې ګنې تبې ؤ نېولے
ورتۀ ئې ووې دې سړي له ورکړه مال
دا غریب دې دومره ولې کړو اتال
ابو جهل کور ته ننوت في الحاله
روپۍ ئې راوړې دې سړي ته ئې ووې واله!
مخبر راغے، ټول قریش ئې کړۀ خبر
ابو الحکم قرض ورکړو داسې زر
ورپسې هغه سړے راغے دلبر
وئیل خداے دې محمد له ورکړي خېر

يو ظالم نه ئې مال قرض کړو وصول
اے قرېشو! دے پۀ حقه دے رسول
قرېش ناست وو لا خبره نۀ وه خلاصه
ابو جهل باندې ورغے د پاسه
دې قرېشو ورته وئېل تۀ شې هلاک
د دښمن پۀ خولۀ دې ورکړو قرض پاک
ابو جهل وئېل تباه شئ تاسو خپله
دۀ چې ما ته دروازه وډبوله
زۀ د رعب نه ومه ډک پۀ راوتلو
راوتو سره يو اوښ مې وليدلو
دغه اوښ ؤ د دۀ سر باندې ولاړ
پۀ ليدو سره ئې روح زما نه لاړ
يو غټ سر دارې اوږدې لکه بشونه
د غړانګې به ئې څۀ وايم حالونه
کۀ د قرض نه مې کړے وے انکار
هغه دم مې ؤ خوړلو ته تيار
ما د وېرې نه ورکړے دے دولت
ګنې دغه اوښ خوړمه امانت

حضور او رکانه پهلوان

رکانه ؤ د قرېشو پهلوان
پۀ صحرا کښې ملاقي شو د سلطان

ركانه ته نبي ووې پهلوانه!
درته وايم و وېرېږه د الله نه
اسلام ومنه! دعوت دركؤم تا له
خداے رضا كړه! هم به زۀ شمه خوشحاله
ركانه وئېل، ستا به شمه تابعدار
كۀ څۀ حق راته معلوم شو ستا د كار
پېغمبر وئېل كۀ زۀ تا وپرځؤمه
بيا لوئي به د لوے خداے شي در معلومه
ركانه وئېل او كۀ زۀ دې كړم ګزار
تا به ومنم رسول د كردګار
پېغمبر ووې راپاڅه! راشه ما له
ركانه چې يو ذره نۀ شې اتاله
پېغمبر سره ئې واچولو لاس
ركانه ئې كړلو زمكې له راخلاص
ركانه ووئيل بيا راشه دوبار
پېغمبر ورته وئيل ځان كړه تيار
دوباره چې لاس ور واچو پېغمبر
را ارتاو ئې كړو پۀ زمكه برابر
ركانه وئېل، عجيبه غونده كنبې كار دے
ته چې ما را پرځوې، دا څۀ اسرار دے؟
پېغمبر ورته بيا داسې ووئيل
كۀ در ونبايم يو كار عجيبه بل
دغه اونه كۀ لۀ دغه ځايه راشي
دلته ودرېږي، يقين به دې پېدا شي؟

رکانه ووې، منم دغه خبره
کۀ رښتیا دغسې وشي پېغمبره!
پېغمبر هغه شجر را وبللو
رکانه پۀ خپلو سترګو ولیدلو
پېغمبر اونې ته کړلو دا کلام
ځه! واپس ودرېږه بیا پۀ خپل مقام
رکانه راغے خپل قام ئې کړو خبر
وئېل ئې قامه! محمد دے لوے ساحر
دے مغلوبه کړئ پۀ نورو ساحرانو
معجزې نۀ کړو اثر پۀ خنزیرانو
معجزې به ئې ښکاره ورته ښودلې
برقه دغه بې غېرتو نۀ منلې

رسول الله ته د 'حبشو' او 'نصاراو' وفد

یو د شلو تنو وفد نصاره بیا
جماعت کښې کښېناستل حضور سره بیا
تپوسونه د حضور نه دوي کول
جوابونه پېغمبر به ورکول
چې هغوي پرې خپل یقین کړلو تمام
پېغمبر ورته بیا پېش کړلو اسلام
د قرآن ئې ورته ووې آیاتونه
د هغوي پۀ مخ راتلې اوښکې رودونه

ایمان راوړو، دوي حق دین کړلو قبول
بس پوره تصدیق ئې وکړو د حضور
وئیل، مونږ چې خپل کتلي کتابونه
هغه ټول تا کښې موجود دي صفتونه
دا سړي چې پېغمبر نه شو را ښېل
ورله مخې لره راغے ابو جهل
ابو جهل ورته وئېل چې خدا ے مو خوار کړه!
دین مو پرېښودو، قبول مو بله لار کړه
دې سړو ووې، عبس مهٔ کړه وئیل
مونږ به خپل خېر لټوو تاسو به خپل

پهٔ دې کښې دا ایات نازل شو:

اَلَّذِیۡنَ اٰتَیۡنٰھُمُ الۡکِتٰبَ مِنۡ قَبۡلِہٖ.....

چې به ساز د پاک رسول ؤ پرې محفل
ورسره دا عاجزان به کښېناستل
لکه وو خباب، عمار، صهیب، یاسر
فکیه غوندې ناداره او ناچار
د مکې قرېشو دوي پورې خندل به
چې دا خوار او عاجزان هغوي لیدل به
دوي به وئېل کهٔ د خدا ے خوښه دغه لار وے
اول مونږه به د دغې حصه دار وے
کهٔ خدا ے دغه دین او لار وے خوښه کړې
دا اختیار به ئې وے مونږ لره راکړے

نو خدا ے دا آیاتونه نازل کړل:

وَلَا تَطۡرُدِ الَّذِیۡنَ یَدۡعُوۡنَ رَبَّھُمۡ.....

يو غلام سره حضور به كښېناستلو
مبيعه نوم جَبَر به يادېدلو
دا سړے غلام د ابن خضري ؤ
پېغمبر سره تعلق ئې دائمي ؤ
دې قرېشو وې قسم دے زمونږ وينه
چې كوي زدكړه د جبر نصراني نه

دا آيات نازل شو:
وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ اَنَّهُمۡ يَقُوۡلُوۡنَ.....

د سورة الكوثر نزول

يو سړے ؤ نوم ئې عاص بن وائل
د حضور په رسالت نۀ ؤ قائل
چې به چا ياد كړلو نوم د پېغمبر
دۀ به وئېل مړو! هغه خو دے ابتر
كۀ وفات شو وائي څوك به ئې پاتې شينه
پس د مرګه به ئې څوك نوم نۀ يادوينه

دا آيت نازل شو: اِنَّآ اَعۡطَيۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ

الله ووې چې وركړے ما ډېر خېر
پېغمبر به كله شي د چا نه هېر
لوے اسرار وي په كلام د لوے قدرت كښې
وي يو حوض به د اوبو ډک په جنت كښې
دا اوبۀ به وي په شان د اوبو سپينې
په لذت به وي د شهدو نه رنګينې

لوښي دومره لکه وي د اسمان ستوري
داسې نۀ چې به يو تږے بل ته ګوري
تقسيمېږي به پۀ لاس د پاک حبيب
دا پياله چې خداے د چا کړله نصيب
د هغې نه بيا پس نۀ به ويني تنده
اُمتيان به شي خبر د هغې خونده
پۀ اُمت کښې شمار د پاک رسول الله يم
شکر وباسمه چې برق رحيم الله يم
کوم يو کار چې کړي خالق پروردګار
د انسان عقل هغې کښې نۀ کړي کار

اسرىٰ او معراج

چې ډېر عقل استعمال کړلو شېطان
د خپل دره ځکه ورټو سبحان
پۀ يو شپه کښې معراج کړے دے حضور
دې کښې عقل کارول نۀ دي ضرور
لاړو بيت المقدس ته د مکې نه
پۀ کښې هېڅ نۀ ؤ زياتے د يوې شپې نه
بيا هغې نه آسمانونو ته ختل
دې کښې مۀ کوه د عقل چلول
د نبي د رسالت دولسم کال ؤ
چې معراج لره بللے ذوالجلال ؤ

دغه شپه اووۀ ويشتمه د رجب وه
امتحان او ابتلاء پۀ دۀ د رب وه
بل طرف د الله پاک د لوے قدرت
وه شاندار مظاهره د سلطنت
عقلمندو اخستل ترې عبرتونه
پۀ نېکانو ورېدل به رحمتونه
بېت المقدس ته تلل د پاک نبي حضرت
زما ورونړو! د قرآن نه دي ثابت
آسمانونو ته د هغه ځايه تلل
ثابتېږي کۀ حديث دې وکتل
د مسلم او بخاري نه دا بيان دے
محمد کړے وصال پۀ لامکان دے
عقيده ايمان زمونږ پۀ دې لرل دي
کېفيت ئې نور پۀ خداے باندې سپارل دي
د انسان عقل قياس نه کۀ بهر دي
طريقې منل پۀ مونږ د پېغمبر دي
کۀ چا دا لفظ د خولې نه وے ويستلے
عقل نۀ مني، زۀ ئې هم نۀ شم منلے
د ايمان برخې نه دے به وي محروم
بشرط دا، چې وي بالغ نۀ وي ماشوم
څوارلسم صدۍ کښې ؤ يو نام نهاد
مفکر او مُجدد به کړم در ياد
د مسلم او بخاري شريف حديث
نۀ ئې مني د يو سړي عقل ناقص

وائي پۀ دې حديث مې نشته دے باور
دا د عقل تجربې نه دي بهر
ثلورم جلد د 'تفهيم القرآن' وروره!
درې سوه اووۀ دېرشمه صفحه ګوره!
کۀ حق وايم نو ملګرے مې دې خدا ے شي
کۀ دروغ وايم دا هر سړے کتے شي
يوه ښځه د ترۀ لور وه د روېدار
اُم هاني نومې بنده واوره ګفتار
د دې کور کښې ؤ اودۀ د رب نيازبين
دغه شپه وه چې راتلو جبرائيل امين
جبرائيل وخوځوۀ د کوټې چت
چې را ويښ ئې کړلو پاک نبي حضرت
بېت الله شريف ته ئې بوتلو برابر
پۀ حطيم کښې ئې داخل کړو پېغمبر
اپرېشن ئې د سينې جبرائيل امين
هلته وکړو پۀ دې ښۀ وکړئ يقين
جبرائيل ورله سينه څيرې کړه ښکلې
وينه نۀ وه ترې يو څاڅکے بهېدلې
مبارک زړۀ ئې د سينې را وويستنه
د زمزم پۀ اوبو پاک ئې ووينځنه
د سرو زرو لوښي راغلۀ د جنت
چې ټول ډک وو د ايمان او د حکمت
پۀ سينه کښې ورله هر څۀ کېښودل
جبرائيل پۀ خپلو لاسو وګنډل

جبرائيل بيا را روان كړو پېغمبر
د براق خوا له ئې راوست برابر
چې دے وكړي سېل صفا د آسمانونو
وينې نخښې نخښانې د قدرتونو
سورېدو ته د براق چې شو قريب
سركشي غوندې براق وكړه عجيب
پۀ مقدار كښې دے د خر نه لږ اوچت
د قچر نه لږ وړوكے پۀ قامت
اوږدوالي كښې د دواړو نه لږ غور ۀ
مخښكينو پښو كښې د دې براق وزر وو
دۀ چې وكړه سركشي د الوتو نه
جبرائيل ونيوو دستي د څټ وېښتو نه
جبرائيل وئېل حيا نۀ لرې د سره
تا چې وكړه سركشي د پېغمبره
براق شو خولې او ودرېد پۀ قرار
بيا پرې سور شولو د دوو كونو سردار
دې براق به قدم هلته كېښودنه
چې د سترګو پۀ نظر به ښكارېدنه
دوي چې بيت المقدس ته شو رسان
ابراهيمؑ، موسٰيؑ، عيسيٰؑ پېغمبران
حضور پاك وركړو هغوي ته امامت
لوښي پېش كړے شو بيا دۀ ته د جنت
د شودو شراب بل لوښي كښې ګبين
شودۀ وڅښكل رحمت اللعالمين

جبرائیل ووې تا بیاموند هدایت
هدایت به دې نصیب شي د اُمت
پۀ هغې حلقې براق تړلے ونه
چې نبیانو به تړل پورې اسونه
د نمانځۀ نه پس بیا پورته شو روان
جبرائیل او زمونږ پاک نبي سلطان
څوک وائي وو د جبرائیل پۀ وزر تلل
څوک وائي وو اندرپایه باندې ختل
پۀ هر شان چې وي خو رب بللے وونه
پېغمبر کتلي دي ټول آسمانونه
چې وړومبي آسمان ته لاړو پېغمبر
ورسره جبرائیل امین د دۀ رهبر
یو دربان ته اواز وکړو جبرائیل
د هغې ملائکې نوم ؤ اسماعیل
ملائکې وئېل تۀ څوک یې څۀ دې کار دے؟
جبرائیل وئېل یو زۀ بل نبي روېدار دے
پۀ وړومبي آسمان کښې دولس دروازې وې
پهره دارې پرې ولاړې ملائکې وې
یو پۀ دې کښې 'باب الحفظه' دروازه وه
اسماعیل نومې دربان ئې ملائکه وه
دولس زره ملائکې د دې ماتحت
ما پۀ دې تاریخ لیکلو تېر کړو وخت
د هغې یوې یوې بیا دولس زره
ما نه واوره ده ربښتینې دا خبره

چې نبي به دا الفاظ بیانول
کلمه او دا آیات به ئې لوستل

وَمَا یَعۡلَمُ جُنُوۡدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ....

دا د خدای لښکرې دي ډېرې بې شانه
معلومات ئې چا ته نشته بې الله نه
اسماعیل ووې دا خدای دے رابللے
جبرائیله! څوک چې تا سره راغلے
جبرائیل وئېل او بللے پاک الله دے
اے دربانه! محمد رسول الله دے
دربان ووې مبارک دې شه راتلل
زر ئې لر کړه دروازه نشته معطل
هلته ئې ولیدو آدم علېه سلام
پاک رسول په نیکۀ واچوۀ سلام
د سلام جواب واپس ورکړو بابا بیا
پۀ خبر راغلے ورته هم کړلو ادا بیا
پۀ خبر راغلې اے زما صالحه زویه!
اے د لوے خدای پېغمبره بنده لویه!
چې دویم آسمان ته لاړ دوست د منان
وې لیدل یحيٰ، عیسيٰ پېغمبران
پېغمبر پۀ هغوي واچوۀ سلام
هغوي واخستو سلام پۀ احترام
ورته ئې وې صالحه وروره پېغمبره!
پۀ خبر راغلې د همه نبیانو غوره!

پۀ دریم آسمان داخل شو دروازه کښې
سوال جواب وشو هم دغه اندازه کښې
د یوسف سره ئې وشو ملاقات
زما ورونړو! د سردار کائنات
څلورم کښې د ادریس علیه السلام
ملاقي شو ورسره خیر الانام
د هارون علیه السلام پینځم اسمان کښې
دا نومونه شته د ټولو پۀ قرآن کښې
پۀ شپږم آسمان موسيٰ سره سرور
ملاقي شو د کونینو معتبر
د علیک سلیک نه پس او د دعا نه
د موسيٰ سترګې شوې ډکې د ژړا نه
دا موسيٰ پیغمبر څکه پۀ ژړا شو
چې شفقت ئې خپل اُمت باندې پیدا شو
د ژړا تپوس چې وشو د موسيٰ نه
هغۀ وئیل پۀ عمر کم دي دوي زما نه
لیکن زیات به دوي جنت کښې داخلیږي
اُمتیان به زما وروستو پاتې کیږي
بیا اووم آسمان ته لاړ نبي کریم
هلته ناست بیت المعمور کښې ابراهیم
ډډه دۀ بیت المعمور ته وه وهلې
هر کلے ئې پیغمبر ته ووې ښکلې
اویا زره ملائکې روزانه تل
راځي دوي بیت المعمور ته پۀ یو ځل

دوباره د هغوي نۀ راځي نمبر بيا
تر قيامته پورې واورئ دا خبر بيا
بيا زۀ بوتلے شومه سدرة المنتهيٰ ته
د معراج قصه د بېخه کؤم تا ته
پاڼې وې د هاتي غوږ نه غټې غټې
د چاټی غوندې مېوې وې پۀ کښې چټې
څلور نهره د هغې نه وو روان
چې دوه پټ وو دا نهرونه دوه عيان
ظاهر هغه يو فُرات او بل دے نيل
باطن هغه دي کوثر او سل سبيل
بيا درې لوښي د شراب، شودۀ، ګبين
شودۀ خوښ کړۀ رحمت اللعالمين
ورته ووئېل شو د لورې د قدرت
دا فطرت دے چې هم ستا، ستا د اُمت
پېغمبر وائي پۀ ما فرض شو نمونځونه
دغه ځاے کښې پنځوس، وايمه حالونه
چې واپس شوم نو موسيٰ عليه سلام
هغۀ وکړو راته دا رنګې کلام
وئيل ورشه د الله نه وکړه سوال
چې کمے درته وکاندي ذوالجلال
بيا واپس د هغه ځايه شومه جانه!
ما وئېل خدايه! ته پۀ ما شې مهربانه
د پينځۀ نمونځو معافي وکړه ما ته
واپسي چې بېرته راغلمه موسيٰ ته

هغهٔ بيا زما نه وکړله پوښتنه
ما دا حال د معافۍ دهٔ ته ووايه
بيا موسىٰ کليم الله ووئيل ما ته
وروره! لاړ شه واپسي وايه الله ته
ورته وايه! آساني غواړم لهٔ تا نه
اُمتيان زما کمزوري دي بې شانه
ورته ما وئيلې خدايه! تهٔ پوهېږې
زما حال باندې خالقه! وترسېږې
راته معاف کړه تهٔ پينځهٔ نمونځونه نور
واپس راغلمه موسىٰ لره في الفور
دغه شان نهه کرته تلم راتلم
چې پينځهٔ نمونځونه پاتې شو کُلهم
الله وئېل کهٔ چا کول دغه نمونځونه
ورکوٶم به د پنځوسو ثوابونه
موسىٰ ووې لاړ شه بيا تر ذوالجلاله
ما وئيل چې حيا ډېره راځي ما له
د الله نه ډېر پهٔ دې باندې رضا يم
موسىٰ وروره! تابعدار بس د الله يم
برقه! ګوره ورته دا ئې اُمتيان دي
قاديانيان دي، پروېزيان، څوک مرزايان دي
فرمائيلي هسې شان دي پېغمبر
زهٔ وړومبي آسمان ته لاړم برابر
ملائکې به هر کلي لره راتللې
پهٔ دعا به ما سره ملاوېدلې

وې پۀ زېرې پۀ دعا وخندېدلې
پۀ ليدو به زما دوې خوشحالېدلې
يوه بله ملائکه واورئ کلام
دې د نورو پۀ شان هم دعا سلام
خو د نورو پۀ شان نۀ وه خندېدلې
ما جبرائيل نه تپوس وکړو چې دا ولې؟
پېغمبر ووې جبرائيل ووئيل ما ته
تر قيامته به دا و نۀ خاندي چا ته
د دوزخ دغه خازنه ملائکه ده
مطلب دا د دوزخونو داروغه ده
نبي ووې کۀ دوزخ وښايې ما ته
زۀ ئې ګورم جبرائيله! وايم تا ته
داروغه ته حکم وکړو جبرائيل
پرده لر کړه يو ذره و نۀ کړې ډيل
مالک لرې د دوزخ نه چې پرده کړه
غرغرې شوې، هر طرف ته ئې حمله کړه
پېغمبر جبرائيل ته وکړو دا کلام
چې دا اور دې کړي خازن پۀ خپل مقام
جبرائيل ووې مالکه! خبردار شه!
مالک اور ته حکم ورکړو چې قرار شه!
برقه! اور د دوزخ اور خوري داسې اور دے
دغه اور لره ورکړے الله زور دے
الٰهي! د دغې اور نه امان راکړې!
پۀ جنت کښې خوشحالي نصيب زما کړې!

د يتيم مال خوړل

فرمائيلي دي حضور پۀ هسې رنګ
چې ما ځينې سړي وليدۀ بد رنګ
د اوښانو پۀ شان ژامې غټې شونډان
پۀ عذاب باندې اخته وو د سبحان
دوي د اور سکروټې خولې ته اچولې
او د بولو پۀ لار ښکته ترې وتلې
ما جبرائيل نۀ کړو تپوس د دې کسانو
هغۀ وئيل دوي به خوړ مال د يتيمانو

سود خور

بيا حضور وفرمائيل پۀ هسې شان
ما پۀ خپله وليدل ځينې کسان
داسې غټې خېټې ئې لرلې
چې ما چرته پۀ خپل ژوند نۀ وې ليدلې
دوي د ځايه خوځېدے نۀ شو هېڅ شان
دوزخيان پرې ور ختل ترې اوښان
د هغوي د پښو د لاندې شو پائمال
خوځېدے نۀ شو پراتۀ وو پۀ بد حال
ما جبرائيل ته ووې څوک دغه سپېرۀ دي
هغۀ ووې پېغمبره! سود خوارۀ دي

زناکار سړي

پېغمبر پهٔ هسې شان وفرمائيل
بيا مې ځينې خلک داسې وليدل
ښې ښرې غوښې او پاکې مزېدارې
هغه پرېږدي خوري بد بويه او مردارې
ما جبرائيل ته ووې دا دے څهٔ اسرار
هغهٔ وئېل حبيبه! دا دي زناکار
د حلال نکاح صحيح پاکې بيبيانې
دوي به پرېښودې، کتې ئې کنجرانې

زناکارې ښځې

بيا حضور پهٔ هسې شان دي فرمائيلي
پهٔ دوزخ کښې زنانه مې وليدلې
دغه ښځې د سينو نه اوېزان وې
چې پهٔ سرو لمبو کښې بندې د نيران وې
ما جبرائيل ته ووې دا پهٔ څهٔ ګناه کښې
هغهٔ ووې دا اخته وې پهٔ زنا کښې
لوے عذاب دې پرې نازل شي د اکبره
چې بچے نهٔ وي پېدا د خپل شوهره
دا کوي ورته د خپل خاوند نسبت
وې پهٔ دغه زنانوو دې وي لعنت

برقه! اوس د زنانوو حيا غواړي
شي خبر به كانټيننټل ته كۀ لاړې

معراج او كفار

د معراج نه چې واپس شو پاک حبيب
ځي طوا نومې يو ځاے ته شو قريب
وئېل جبرائيل ته پېغمبر علېه سلام
چې تصديق به زما وكړي دا خپل قام
كۀ به وكړي د معراج ځينې انكار
جبرائيله! ما پۀ دې كړه خبردار
جبرائيل وئېل ابو بكر به تصديق
وكړي ځكه چې لقب لري صديق
د معراج نه چې واپس شو پېغمبر
ځان له ناست ؤ چې شپه تېره شوه سحر
ابو جهل راغے كړه ئې مسخره بيا
پېغمبر ته ئې وئېل څۀ شته نوي تازه بيا
پېغمبر وئېل هو! زۀ بيت المقدس ته
بېګاه تلے وم كۀ څۀ وائې اولس ته
ابوجهل وئيل لاړې راغلې هم
نبي وئېل او شته د خداے فضل و كرم
ابو جهل وئېل تۀ به مخكښې د دې قام
داسې ووې چې دا تا وكړو كلام

پېغمبر وئېل هو! زۀ يمه ذمه وار
ورشه راوله دا قام کړه خبردار
ابو جهل کړو آواز راشئ ځوانانو!
چې خبرې واورئ نن د لېونيانو
ورله راغلۀ هغه خلک ټول پۀ جمع
پېغمبر ورته خبره وکړه سمه
ابو جهل وئېل د دوي مخکښې وايه حال
پاک رسول ورته بيا وکړو هغه قال
چې د تلو راتلو خبر ئې اورېدلو
مشرکانو پسې لاس وپړقولو
مؤمنان پۀ کښې څۀ هم شو مرتدان
چې ئې واورېد دا ناشونے شان بيان
يو سړے لاړ ابوبکر له پۀ منډه
دا قصه ئې ورته تېره کړله غونډه
هغۀ وئېل کۀ محمد وي دا وئيلي
شک ئې نشته ما بې شکه دا منلي
هغۀ ووې چې د عقل نه بهر
دا ناشونے کار منې د پېغمبر
ابو بکر وئېل کۀ عقل نه وي لرې
زۀ منم د پېغمبر ټولې خبرې
د صديق خطاب ملاو شو ورته زر
دۀ پۀ عقل رد و نۀ کړو د سرور
بعضې خلک پۀ کښې ناست دا سې مخلص وو
چې هغوي ليدلے بيت المقدس ؤ

هغوي وئېل مونږ ته ئې صفت کړه را عيان
چې زمونږ وشي يقين ستا په بيان
پېغمبر وائي چې زۀ شومه پرېشانه
الله ما ته دا خبره کړه اسانه
هغه ببت خدا ے را اوچت کړو په قدرت
د عقيل کور سره ئې کېښود په حکمت
کومې نخښې به چې دوي ما ته ښودلې
ما ليدلې ورته ما بيانولې
هغوي ووې څۀ چې وائې نو دا ټهيک دي
معلومېږي چې په زړۀ باندې ئې ليک دي
بيا دوي وئېل قافله تلې زمونږ شام ته
عرض ئې وکړو پاک نبي خېر الانام ته
د هغې قافلې حال کړه را بيان
تا په لاره کښې ليدلي دي اوښان
پېغمبر وئېل او يو ځا ے نومې روحا کښې
چې يو اوښ ترې نه ورک شو ے ؤ صحرا کښې
دوي د اوښې په طلب کښې ګرځېدنه
زۀ وم تږ ے ما يو جام را واخستنه
بيا مې لوښے تش هم هلته کېښودنه
چې دوي راشي نو بيا وکړئ ترې پوښتنه
د اوبو څښنو او د پيو دا دستور
د عربو په وطن کښې ؤ مشهور
چا څوک نۀ منع کول د دې نعمته
حرام نۀ وو دا بغېر د اجازته

اخوا نورې قافلې مې وليدلې
چې ئې اوښې وې زما نه تربېدلې
فلانے ئې وغرځو نو لاس ئې شولو مات
دوي چې راشي ترې نه وکړئ تحقيقات
بيا عربو وئېل زمونږ د سوداګرو
حال ووايه چې څو تنه برابر وو
پېغمبر وئېل ما ئې کړے د دوي شمېر
پۀ تنعيم نومې ځاے شوم د دوي نه تېر
خروره نومې يو ځاے مې وليدل
خداے پۀ دغه وخت کښې ما ته وښودل
وو فلانے او فلانے دومره وو اوښان
يو برګ اوښ ئې ؤ پۀ مخکښې را روان
نمر ختو سره به دوي را ورسېږي
مشرکانو وئېل لا دا به رښتيا کېږي
مشرکان د نمر ختو نه مخکښې تلل
پۀ کدا نومې مقام کښې کښېناستل
مشرکانو وئېل چې دے به دروغژن کړو
پۀ دا خپل وئيلو ډېر به ئې غمژن کړو
دوي کتل چې نمر د غرۀ نه وکړه څيره
قافله وه را روانه هواګيره
برګے اوښ ئې ؤ پۀ مخکښې را روان
بيا کفارو قبول هم نۀ کړو ايمان
مستقيم پۀ حق ولاړ خېر الانام
اذيت او تکليفونه به ئې د قام

دغه ټول برداشت کول به پېغمبر
کۀ ئې قام به رسوۀ ورته ضرر
زيات خندا کوونکي وو پينځۀ کسان
چې د لوے خداے او رسول وو دښمنان
چې پۀ قام کښې به اشراف ګڼلے دا شو
بد دعا د پېغمبر باندې تباه شو
يو اسود بن مطلب واوره بيان
د اسد قبيلې ؤ دغه شېطان
پېغمبر وې خدايه ړوند ئې کړې پۀ سترګو
چې هېڅ نۀ وينې پۀ دواړو سترګو غبرګو
دويم تن ؤ د زهره قبيلې ګله!
چې اسود نامه هم دې سړي لرله
دوېم اسود بن عبد الغيوث وکړئ يقين
درېم وليد بن مغيره زوي د لعين
څلورم عاص بن وائل به يادېدنه
پۀ مکه کښې غټ ابليس نۀ ؤ د دۀ نه
پينځم حارث بن طلال واورئ قيص
خزائمه قبيله وه د خبيث
دوي چې زياتې کړې شروع استهزاګانې
لوے الله ورکړلې لويې سزاګانې
استهزاګانې چې د حد نه زياتې شولې
دا آيت شولو نازل پۀ نبي ښکلے

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ.

الله ووې زۀ کافي يم دوي د پاره
هېڅ څۀ فکر سودا و نۀ کړې روېداره
دې پينځۀ تنو طواف کړو بېت الله نه
اوس د دې سړو قصه واوره زما نه
جبرائيل راغلے پۀ خوا کښې د حضرت
ودرېدو ګوره کارونه د قدرت
دا اسود بن مطلب ئې پۀ خوا تلنه
جبرائيل پۀ يو شنه پاڼه وويشتنه
سترګې ئې ولګېدې ړوند هغه زمان شو
لاړ د دۀ د خداګانو تېر دوران شو
دوېم پرې راغلے بيا اسود بن عبد يغوث
اشاره ئې وکړه خېټې ته ناموث
د شناس پۀ شانې دا وپړسېدنه
تا به وئېل جوړې شوتل ئې وخوړنه
د دۀ ګېډه هسې شان وپړسېدنه
چې ډک پک شو ساه ترې لاړه وختله
درېم وليد بن مغيره نه شئ خبر
لوے دښمن ؤ د الله او پېغمبر
د دۀ پښه کښې پخوانے ؤ لږ پرهار
چې ناسور ترې جوړ شو دے شولو مردار
څلورم نمبر د عاص بن وائل
حرامتوب کښې ؤ بچے د عزازيل
جبرائيل خوا کښې ولاړ د خېر الناس
د خپړ ته اشاره وکړه د عاص

عاص طائف ته چرته تللو پۀ سفر
يو ازغے ئې شو خپړ کښې برابر
خدا ے چې وژني څوک نو څۀ ورته بهانه کړي
څوک ازغي نه مړ شي څوک مړ پۀ رينه کړي
د حارث بن طلال واوره بيان
د جبرائيل پۀ خوا کښې دے ؤ را روان
جبرائيل اشاره وکړه د دۀ سر ته
سمدستي ئې شوه د خوم نه ګېډه ارته
ګندګي به ترې پۀ خولې بيا راوتله
لنډه دا چې آخر ساه ترې وختله
برقه! دغه د حضور پاک دښمنان
پۀ رنګ رنګ مرض خشاک شو د نيران
د حضور چې ګاونډيان وو ضرريان
دغه ټول وو بس پۀ شمار پينځۀ کسان
يو پۀ دوي کښې ضرر ناک ابو لهب ؤ
عقبه، عدي، اصدا دښمن د رب ؤ
بل حکم بن عاص واوره بيان
پۀ آخره باندې بيا شو مسلمان
چې حضور نبي اکرم به نمونځ کولو
د ځاروو پۀ پېږوانونو به ئې ويشتلو
چې کټوۍ به د حضور کره وه باندې
دوي به يوړه مرداري ځان سره وړاندې
بې غېرتو به کړه هلته ور ګزاره
وايه دا عمل به څوک وکړي ناکاره

پېغمبر به پهٔ لرګي را واخستله
دروازه کښې به ئې هغوي ته وښودله
ورته وئېل ئې اے بني عبد مناف!
دا څهٔ کار دے پهٔ ګاونډ کښې د انصاف؟
پېغمبر به دا تکليف برداشت کولو
د ډېر صبر زغم نه کار ئې اخستلو
خديجه، ابو طالب چې شو وفات
پهٔ نبي مصيبتونه شولو زيات
مخکښې درې کاله هجرت نه وايم تا ته
سفر وکړو د دنيا نه لاړل بقا ته
بيا کفار شو پهٔ دوي باندې زړور
رسولو به ئې رسول پاک ته ضرر
يوه ورځ ؤ حضور کور ته را روان
ؤ پهٔ لار کښې يو بدبخته شان انسان
پېغمبر ته ئې پهٔ سر خاورې واچولې
داسې سختې به نبي برداشت کولې
کور ته راغلے لوے رسول پهٔ الله ګران
زمونږ پلار مور دې د دهٔ نه وي قربان
لور بي بي ئې پهٔ ژړا را پاڅېدله
د حضور د سر نه ئې خاوره وونځله
رنې اوښکې ئې د سترګو څڅېدلې
د بابا پهٔ درد دردمنده دغه ښکلې
لور بي بي ته پېغمبر وفرمائيل
پهٔ ژړا ستا به الله شي زما مل

چې مې تړۀ ابو طالب شولو وفات
اوس قرېشو ما ته جوړ کړو ضرر زيات
سخت بيمار شو ترۀ د پاک نبي سلطان
ورله راغلۀ د قرېشو مشران
عتبه، شيبه، اُميه، ابو سفيان
ورسره بل ابو جهل غټ شېطان
ووې دوي ابو طالب ته تۀ سردار يې!
معلومېږي اوس روان د حق پۀ لار يې!
دښمني زمونږ سره ستا د ورارۀ ده
دا خبره پۀ عربو کښې ښکاره ده
مونږ د صلحې درکړو تا لره اختيار
کۀ زمونږ ومني دے به شي سردار
چې زمونږه د خدايانو نه قلار شي
د هاشم پۀ خاندان کښې به سردار شي
طالب ولېږو سړے راغے روبدار
ورته ئې وکړلو د دوي د خولې ګفتار
ورته ئې وئېل دا مشران راغلي تا له
ځۀ جواب ورکړه چې پاڅېږي خوشحاله
پېغمبر وئېل کۀ مني زما فرمان
د عرب عجم به دوي شي مالکان
ابو جهل وئېل ستا پۀ پلار مې دے قسم
دا خبرې کۀ رښتيا وي زۀ ئې منم
نبي ووئېل کليمه وواېئ! غوږ کېږدئ!
يو خداے ومنئ! دا نور دينونه پرېږدئ!

پېغمبر چې وکړو دا رنګا ګفتار
په خندا پۀ ټوقو سر شو دا کفار
څۀ کسانو پۀ کښې لاس وپړقول
ځينو لاس پۀ تندو هسې کېښودل
ابو جهل وئېل عجيبه کوې خبره
چې ستا يو خدا ے کړو د دې خدايانو غوره
ټول خوارۀ شول وئېل څۀ نۀ مني بالکل
اوس دينونه خپل را ټينګ کړئ مکمل
طالب ووې وراړۀ څۀ دې ووئيل؟
تا خو دوي نه څۀ زياتي و نۀ غوښتل
ترۀ نه دا طمع پېدا شوه د رسول
ګينې دا به کړي اوس دين زما قبول
پېغمبر ووې اے ترۀ زما نېک ذاته!
پټ پۀ غوږ کښې کلمه ووايه ما ته
چې يو ځل ستا کلمه پۀ غوږ زما شي
شفاعت لره موقع به پۀ لاس راشي
پۀ قيامت کښې به زاري وکړم الله ته
کۀ يو ځل تا کلمه ووئيله ما ته
طالب ووې چې قسم زما پۀ خدا ے دے
کوم عرض چې تۀ کوې دغه پۀ ځا ے دے
وراړۀ! دغه دې منم چې سخت دے اور
خو د اور نه ما ته سخت ښکاري پېغور
چې طالب د حضور ترۀ شولو وفات
بيا پۀ دۀ مصيبتونه شولو زيات

د قرېشو نه شو تنګ اخر زمان
بيا طائف طرف ته دے شولو روان

د طائف سفر

دۀ خو وئيلې چې اسلام به کړي قبول
پۀ دې طمع باندې ورغلے رسول
د طائف خلکو له لاړ خېر الانام
چې تبليغ به ورته وکړم د اسلام
د ثقيف قبيلې وو درې مشران
دعوت ورکړو محمد آخر زمان
دغه درې واړه خپل ورونه يادېدل
پېغمبر سره درې واړه کښېناستل
د يو نوم عبد ياليل د بل مسعود
درېم حبيب ؤ لوے دښمن د رب حبيب
پېغمبر خو وئېل چې بيا به مومي خېر
دوي ناکاره جوابونه ورکړۀ ډېر
يو وئيل کۀ چرې تۀ هم پېغمبر يې
زۀ به کړم خانه کعبې نه غلاف څيرې
بل وئيل چې څوک موندلے نۀ شو رب
چې ورکړے وے هغوي له دا منصب
درېم وئيل قسم دے زۀ هډو خبرې
تا سره و نۀ کړم تۀ کۀ پېغمبر يې

پېغمبر ترې نا امیده شو روان
ورپسې کړۀ ټول مریونه هلکان
مشرانو ورته دا ولمسول
چا به چغې ویستې چا کول ښکنځل
عرض دا چې ډېر مخلوق ورپسې شونه
پاک نبي ئې ډېر پۀ کاڼو وویشتنه
داسې وینه ئې شوه زخمونو نه روانه
چې د وینو ئې پښې شولې پرېمانه
پۀ یو باغ کښې ترې حضور ننوتلو
چې مجبور شو د پناه پۀ اخستلو
دغه باغ د ربیعه او د شیبه ؤ
دواړه وروڼه وو سکه کۀ ناسکه وو
هغه خلک بیا رسول نه شو واپس
راوتلے چې ؤ دۀ پسې اولس
پېغمبر چې لږ دمه شو پۀ قرار
خپل فریاد ئې لوے الله ته کړو اظهار
د الله شان او جلال پۀ جوش کښې شولو
جبرائیل امین ئې زر را ولېږلو
جبرائیل پۀ نبي وکړلو سلام
وئیل تا سره چې څۀ وکړۀ دې قام
ګفتګو الله پۀ خپله اورېدلې
ستا خدمت کښې فرښته ده رالېږلې
دا د غرونو اختیار منده ده لۀ خدایه
څۀ چې حکم ورته کړې نو وفرمایه!

بیا هغې ملائکې وکړو سلام
ډېر په مینه په نبي خېر الانام
ملائکې وئېل دا دوه غرونه راولم
او تر منځ ئې دا مردار چخښي کړم
کۀ نه بل قسم سزا غواړې چې ورکړم
یا رسوله! چې خدمت دې برابر کړم
رالېږلې زۀ الله غني غفار یم
پېغمبره! ستا د حکم تابعدار یم
پېغبر وئېل زۀ امید لرم لۀ خدایه
چې اولاد به د دوي وخېژي نېک رایه
برقه! صبر، صبر – صبر دے پۀ کار
د صابرو خلکو مل وي کردګار
پۀ کوم باغ کښې چې پناه نبي سلطان
یو دوه ورونړه د دې باغ وو مالکان
ربیعه او شیبه وو د دوي نومونه
اوس د دغو درته وایمه حالونه
چې دا زور ظلم د خلکو ئې ولیدلو
یو غلام ئې ؤ چې ځان ته ئې وبللو
پۀ تالي کښې ئې ورته واچول انګور
وئیل دا هغه مېلمه ته کړه حضور
رکېبۍ غلام نبي ته کېښودله
کلمه ترې نبي مخکښې ولوستله
کلمه چې واورېدله دې غلام
وئېل د دې ګَلو خو نۀ دے دا کلام

دې کلام کښې داسې خوند دے مزېدار
اورېدو سره په زړۀ کښې کوي لار
پېغمبر وئېل څۀ دې نوم دے کوم دې کلے؟
غلام وئېل نينوئي ښار نه يم راغلے
دۀ وئېل نوم مې دے عداس د هغه ښار يم
زۀ د دې سړو غلام او تابعدار يم
دين زما دے نصراني اے مېلمه وروره!
څۀ زياتي خبره دې کښې نشته نوره
بيا حضور ورته وئيل عاقل هوښيار يې
د يونس ابن متي د هغې ښار يې
عداس ووې يونس تا څۀ پېژندلو
پېغمبر وئېل هغه ورور زما کېدلو
هغه هم ؤ پېغمبر، زۀ پېغمبر يم
هدايت لره دې قام ته مقرر يم
عداس زر په پېغمبر را غورځېدلو
مبارک سر د رسول ئې چپولو
لاس او پښې او قدمونه ئې ښکلول
دې شيبه او عتبه ورته کتل
د حضور په ښکلولو شو دے پاک
مالکانو ورته وئېل تۀ شې هلاک!
دې سړي له لاس او پښې دې ښکلولو
دا په څۀ وجه تا داسې کار کولو
غلام ووې چې دې ځوان يوه خبره
علم نشته چا ته بې د پېغمبره

ما دے وپېژند چې دا دے پېغمبر
بل د زمکې پۀ سر نشته دۀ نه غوره
دې سړو ورته وئيل خوار شې عداسه!
د خپل دين نه چې وا نۀ وړې پښې وباسه
دا ستا خپل دين دے د دغه دين نه غوره
چرې وا نۀ ورې د دې سړي خبره
د طائف نه نا اميده پېغمبر
واپس راغلے پاک نبي خېر البشر
پۀ نخليٰ نومې مقام ورسېدلو
نيمه شپۀ وه پۀ نمانځۀ بيا ودرېدلو

د پېريانو ايمان

پۀ دۀ پښن شوه چې يوه ډله د پېريانو
پېغمبر قرآن لوستو باندې ګويان ؤ
دوي چې واورېد د رسول پاک نه قرآن
سمدستي پېريانو راوړو پرې ايمان
پۀ پېريانو کښې هم خور شولو اسلام
ډېر خوشحاله شو نبي خېر الانام
چې مکې ته شو واپس نبي حضرت
قام ئې هغسې کوۀ مخالفت
خو بغېر د يو څو کسو مؤمنانو
پۀ عربو کښې کمزوري دا کسان وو

قبائل به چې څوک حج لره راتلل
پېغمبر پاک به اسلام ته رابلل
ورته وئېل ئې لا شريکه يو الله دے
پېغمبر ئې محمد رسول الله دے
زما قامه! دا بې شماره خدايان پرېږدئ!
بس يو خدائے او پېغمبر ته غاړه کېږدئ!
خېر و شر پۀ لاس کښې دے د رب منان
پۀ خدايانو باندې مۀ نيسئ بتان!
پېغمبر د خدائے احکام بيانول
ټول مخلوق به ئې اسلام ته رابلل
عباد وائي، يو سړے ؤ د دۀ شا ته
کږې سترګې، رنګ ئې سپين ؤ وايم تا ته
سر ئې خپل دوه کمڅۍ کړے ؤ اے وروره!
عدني کپړې اغوستې ورته ګوره!
چې نبي کله فارغ شو د بيانه
دې سړي خلکو ته وکړله شېطانه
ورته وئېل ئې د دۀ مۀ منئ خبرې
چې دا خپل زاړۀ خدايان پرې نۀ ږدئ چرې
هسې وائي دا سړے د حضور ترۀ ؤ
هغه وخت عبدالعزا نوم د هغۀ ؤ
چې بيا شو ابو لهب باندې مشهور
دے د خپل ورارۀ دښمن ؤ د حضور
حضور پاک د حج موسم ته به کتل
قبيلې قبيلې خلک به راتلل

دۀ به هرې قبيلې لره دعوت
ورکولو د يو خدای د عبادت
د کلب قبيلې ځای ته ورغللو
هغو هم د دۀ دعوت و نۀ منلو
بيا حنيف يو قبيلې ته پاک حضرت
ډېر قبيح وکړو هغوي مخالفت
پاک نبي بن عامر يو قبيلې له
د اسلام دعوت هم ورکړلو هغې له
يو سړی هغې کښې نوم ئې بخيره ؤ
چې پۀ عقل پۀ خبرو هم پوره ؤ
قام ته ئې ووې کۀ د دۀ ملګري شونه
دا قرېش به مونږ د دۀ پۀ وجه خورونه
بخيره وې ځوانه! ستا به شو لښکر
کۀ مونږ شو چرې قرېشو باندې بر
کۀ مونږ فتح کړۀ دا ستا مخالفين
د يوې خبرې تۀ راکړه يقين
ستا نه پس به وي زمونږه حکومت
بس پۀ دې خبره تۀ وکړه دستخط
پېغمبر وئېل دا اختيار دے د سبحان
چې رضا شي هغه کس کړي حکمران
زۀ د خدای حکم خو نۀ شم بدلولے
نۀ د خپله ځانه څۀ شمه وئيلے
هغوي وئېل غشي دې مونږه کښې ښخېږي
حکومت دې بيا د نورو خلکو کېږي

څه! زمونږه څۀ حاجت نشته دې کار ته
دا جواب ئې ورکړو پاک نبي روېدار ته
ۀ يو قام بني عامر حج له راغلي
چې يو مشر دوي نه پاتې ۀ پۀ کلي
ډېر ضعيف ۀ چې وو ګران ورته راتلل
چې واپس به شو حاجيان به ئې پوښتل
چې واپس لاړۀ حاجيان پۀ دغه کال
دغه خپل مشر ته ئې ووې داسې حال
د قرېشو يو زلمے مونږ له راتلۀ به
د يو خداے تبليغ ئې مونږه ته کاوۀ به
دۀ به وئېل چې د يو خداے شئ تابعدار
زۀ رسول يم پۀ ما وکړئ اعتبار
کۀ زما امداد مو وکړو پۀ اخلاص
خداے به تاسو ټول د کفر نه کړي خلاص
دې بوډا لاسونه کېښودۀ پۀ سر
وئېل عامره! دا سړے دے پېغمبر
پۀ اولاد کښې چې څوک وي د اسماعيل
دروغ نۀ وائي هغوي پۀ رب جليل
دې بوډا وکړو تصديق د پېغمبر
برقه! داسې مشر ډېر وي بختور
څوک چې حج او يا عمرې له به راتلل
حضور پاک به دين اسلام ته رابلل
يو سړے نوم ئې سويد بن صامت ۀ
چې راغلے يا د حج عمرې پۀ نيت ۀ

پۀ خپل قام کښې معتبر شريف انسان ؤ
هم پۀ متهو ؤ مضبوط لوي پهلوان ؤ
يو سړي سره پۀ څۀ باندې شو وران
شرط ئې کېښودو پۀ منځ کښې سل اوښان
فېصله ئې يو کاهنې له يوړله
فېصله هغې د سويد حق کښې وکړله
دوي جوړه دواړه پۀ لار باندې راتللو
خو چې سويد نه دا سړے جدا کېدلو
سويد وئېل راکړه د اوښانو ضمانت
کور ته نۀ شې رانه تللے امانت
دې سړي وئيل سبا ئې در لېږمه
سويد وئيلې چې والله کۀ دې پرېږدمه
دې سړي ته ئې ور واچولو لاس
سم د واره ئې کړو زمکې ته را خلاص
لاس تړلے ئې کړو ځان سره روان
چې سبا ئې قام را ولېږل اوښان
سويد هله دغه سړے بيا پرېښودلو
چې اوښان ئې ترې سل واړه واخستلو
يوه ورځ هم دغه سويد مکې ته جانه!
ؤ راغلے دا قصه واوره زما نه
ترې خبر شو پاک نبي آخر زمان
ورپسې لاړو بادشاه د دو جهان
ورته ئې وکړله بلنه د اسلام
هغۀ وئېل ما سره شته دے يو کلام

کۀ د دې کلام نه زيات لۀ تا سره وي
زۀ به ئې ومنم چې ښکلے او پوره وي
پېغمبر وئېل تۀ خو ئې ما ته کړه بيان
سويد ښکاره کړل حکمتونه د لقمان
پېغمبر وئېل کۀ د دغې نه هم غوره
درته واوروم بيا به ومنې خبره
سويد وئېل او واوروه ما ته دا زمان
پېغمبر پاک ورته ولوستو قرآن
د قرآن نه دۀ و نۀ کړلو انکار
تاريخ ليکي دا سړے ؤ ايماندار
واپس لاړو خزرج قام ته دغه ځوان
هغوي قتل کړو او مړ شو مسلمان
عبد الاشهل قبيلې نه يوه ډله
د انس پۀ مشرئ کښې چې راتلله
يو پۀ دوي کښې ؤ اياس بن معــاز
خبرؤم دې سراسر پۀ دغه راز
دوي قرېشو نه امداد حاصلولو
د خزرجو مخالف به جنګېدلو
پېغمبر چې شو د دوي نه خبردار
ورغلے دغې جرګې له پۀ تلوار
ورته ئې وئېل چې تاسو څۀ له يئ راغلي
د هغې نه کۀ زۀ نور درکړمه ښکلي
دې جرګې ورته وئيل چې هغه څۀ دي؟
مونږ ته ئې واوروه کۀ مونږ د پاره ښۀ دي

پېغمبر ورته وئيل راوړئ اسلام
زۀ رسول يم د خدائے ومنئ کلام
ورته ئې وکړو د قرآن پاک تلاوت
د اياس ورسره ډېر شو محبت
اياس وئېل چې مونږه څۀ له يو راغلي
دے قسم چې د هغې نه دي دا ښکلي
انس موتړے کاڼي زر را واخستل
د اياس غريب پۀ مخ ئې وويشتل
اياس چپ شو هېڅ ئې و نۀ وئيل زياتي
ترې نه پاڅېد پېغمبر لويه هستي
د خزرجو جنګ کښې قتل شو اياس
خلکو وئېل دا مسلمان ؤ پۀ اخلاص

حضوراو خزرج قبيله

الله وغوښتل چې دين اسلام ظاهر شي
پېغمبر دې هم غالب پۀ بحر و بر شي
نو د حج موسم کښې څو کسه انصار
پۀ عقبه کښې ملاقي شول د روېدار
حضور دوي نه هلته وکړلو پرسان
تاسو څوک يئ؟ د يهودو يئ دوستان
هغوي وئېل هو! قبيله خزرج لرونه
د يهودو او زمونږه وي جنګونه

پېغمبر وفرمائيل پهٔ هسې شان
چې ما ومنئ نبي آخر زمان
ورته ئې ولوستو کلام د پاک وهاب
نازل شوے دے پهٔ ما داسې کتاب
آياتونه د قرآن چې ئې واورېدل
دې انصارو بيا يو بل ته وکتل
ووې دوي د يهود قام هغه کسان
هسې نۀ مخکښې هغوي راوړي ايمان
کۀ يهود شولو د دوي سره ملګري
مونږ به وخوري لکه باز چې خوري تنزري
چې هغوي پرې وېرولو هغه دا دے
دا بې شکه محمد رسول الله دے
کلمه طيبه ورته کړه دوي بيان
ټول پهٔ جمع باندې شو مسلمانان
ټولو ووې پهٔ نبي باندې سلام
وئېل زمونږ نه وروستو پاتې دے يو قام
دښمني ده پهٔ کښې ډېره يا رسوله!
کۀ اسلام ته دوي بلنه کړه قبوله
مونږ چې لاړ شو ورته پېش به کړو اسلام
خدا ے غفور دے کۀ دوي ومني کلام
پېغمبره! کۀ دوي شي مسلمانان
دا کېدے شي چې غالب شي پهٔ جهان

د عقبې اول بيعت

تاريخ ليکي چې شپږ تنه وو په شمار
مدينې ته واپس لاړۀ دا انصار
مدينې ته بختور شو د دوي پل
هغه خلک ئې اسلام ته رابلل
مدينه کښې پاتې نۀ شو داسې کور
چې په کښې د رسول ذکر نۀ ؤ زور
کال پس بيا د حج موسم راغے دوبار
دولس تنه راغلۀ حج لره انصار
د حضور سره ئې وشو ملاقات
پۀ عقبه کښې درته وايمه حالات
پېغمبر سره چې دوي وکړو بيعت
جهاد فرض نۀ ؤ دې وخت کښې پۀ حضرت
تاريخ ليکي چې دا بيعتِ ثانيه ؤ
بس وړومبے بيعت انصارو سره دا ؤ
پېغمبر وئيل شريک مۀ منئ الله له
نۀ به غلا ته نزدې کېږئ نۀ زنا له
پۀ نيک کار کښې خدائے نه مۀ کړئ بغاوت
پۀ دې لوظ به الله درکړي جنت
کۀ پۀ دې کښې بې وفا شوئ لۀ ښتنه
واک د خدائے دے کۀ عذاب کړي کۀ بخښنه
د حضور نه دوي رخصت واخست پۀ خبر
ورسره ئې کړو مصعب بن عمېر

بیا مصعب ته هدایت وکړو حضور
چې قرآن به لولې دوي ته تهٔ ضرور
ورکوه ورته تعلیم د دین اسلام
یادوه ورته د لوے الله کلام
معلم پهٔ مدینه منوره ؤ
د اسعد بن زراره سره دېره ؤ
دهٔ به جمع ورکوله دغه قام ته
د خزرجو حاجت نهٔ ؤ بل امام ته
برقه! ښهٔ مسلمانان وو دغه قام
خو د قام سرے یې خوښ نهٔ ؤ امام

د اُسید بن حضیر او سعد بن معاذ اسلام

مدینه کښې چې مصعب د چا سره ؤ
دا سړے نوم ئې اسعد بن زراره ؤ
دې اسعد به دے د ځان سره ساتلو
پهٔ تبلیغ پسې به دواړه ګرځېدلو
یوه ورځ عبدالاشهل بني ظفر
قبیلو ته دواړه لاړهٔ برابر
یو اسعد بن زراره او بل مصعب
اوس به ګورې قدرتونه د پاک رب
دغه کلو کښې یو دوه وو سرداران
چې دا دواړه د خپل قام وو مشران

د یو نوم ؤ پۀ کښې سعد بن معاذ
د ظفر پۀ قبیله کښې ؤ ممتاز
د دې بل نوم ؤ اسید بن حضیر
دا مصعب او اسعد ورغلۀ پۀ خبر
دا اسعد او اسید دواړه وو تروزیان
دغه وخت کښې یو مشرک بل مسلمان
دا اسعد مصعب وو دوه مسلمانان
پۀ یو باغ کښې کښېناستل واوره بیان
دغه باغ بئیر مرق به یادېدلو
چې به څوک مسلمانان وو نو ورتللو
سعد ور ولېږو اسید هغه ساعت
دا سړي د دغه باغ نه کړه رخصت
کۀ تروزے مې ورسره نۀ پېژندلے
زۀ به خپله دغه باغ ته وے ورغلے
دا ناپوهه کسان دوي دهوکه کوینه
زر ئې وشړه چې مخه باندې ځینه
اسید واخستو د ځان سره خپل شل
چې ور ورسېدو و ئې کړل ښکنځل
وئېل ئې ځئ دلته کښې چا یئ رابللي
تاسو ډېر پۀ دې خبرو تېربستلي
مصعب وئېل کښېنه زمونږ واوره خبرې
کۀ دې خوښې نۀ شوې مونږه به شو لرې
کۀ دې خوښې شوې نو غوږ به ورته کېږدئ
دا ښکنځل منځل عبث وئیل به پرېږدئ

اسيد ووې چې انصاف دې ووائېنه
شل ئې ښخ کړو ورته خوا کښې کښېناستنه
مصعب وکړه د اسلام ورته بلنه
د هغې نه پس قرآن ئې ولوستونه
دواړو ووې چې مونږ دۀ ته وکتل
د اسلام چمک ئې مخ کښې ځلېدل
دۀ وئېل ثوک چې پۀ اسلام کښې داخلېږي
طريقه ئې څۀ ده؟ وايئ څۀ به کېږي؟
هغوي وئېل اول پۀ غسل کړئ بدن پاک
بيا پۀ غاړه به کړئ ځان ته اغوستن پاک
کلمه د شهادت به کړئ بيان
پۀ يو خدائے او پۀ رسول راوړئ ايمان
بيا به نمونځ وکړئ توبه استغفار شئ
پۀ کره مسلمانانو کښې به شمار شئ
اسيد دغه طريقه وکړه مؤمن شو
کۀ پۀ زړۀ باندې خيرن ؤ هغه سپين شو
هغۀ ووې يو سړے دے زۀ ورځمه
هغه تاسو لره دلته رالېږمه
کۀ تابع شو د الله او د رسول
دا باقي خلک به کړي اسلام قبول
چې واپس شو سعد دۀ ته وکتل
د مخ رنګ ئې د پخوا نه ؤ بدل
سعد وئېل قسم دے راغلے دغه ځوان
خو چې تلو نو مخ ئې نۀ دے هغه شان

سعد وئېل چې څۀ دې وکړل، راغلې څۀ له؟
دۀ وئېل ما پۀ کښې غلطي و نۀ ليدله
خبر شوے يمه زۀ د يو اسراره
حارثه ځي د اسعد قتل د پاره
پۀ دې وجه چې ستا زوے دے د ترور
د ابن حارثه ځي ورپسې زور
د تروړزي پۀ قتل تا ذليل کوينه
ما خبر کړې چې څۀ وي هغه به وينه
دے چې ورغلے دوي ناست پۀ اطمينان وو
هېڅ څۀ خوف خطر ئې نۀ ؤ پۀ امان وو
ورته سر شو دے پۀ بدو ردو وئيلو
کۀ مې خپل نۀ وے دا بل مې نۀ پرېښولو
مصعب پوهه شو چې دا سردار د قام دے
دۀ ته هم دعوت پۀ کار څۀ د اسلام دے
مصعب ووې ګرانه لږ شه پۀ ارام
تۀ زمونږ د خولې نه هم واوره کلام
کۀ دې خوښ شولو خو و به منې ورورره!
کۀ دې خوښ نۀ شولو ځه تر خپله کوره
سعد ووې د انصاف ده دا خبره
شل ئې ښخ کړو ورته کښېناست برادره!
دين اسلام ئې ورته پېش کړو هغه آن
ورته ئې ولوستو د لوي الله قرآن
داسې پاک شو د قرآن پۀ اورېدلو
لکه بوټے چې تازه ښکاري پۀ ګلو

سعد ووې زۀ پۀ خدائے او پۀ قرآن
پۀ نبي رسول الله راوړم ایمان
طریقه څۀ ده چې زۀ مسلمانېږم
چې د کفر نه اسلام کښې داخلېږم
هغوي ووې غسل وکړه دا ساعت
بیا به ووې کلمه د شهادت
جامې پاکې واغونده پۀ دا زمان
دوه رکعته نمونځ ادا کړه د سبحان
هم پۀ دغه شان سعد بن معاذ
کلمه ووې ادا ئې کړو نماز
چې سعد او اسید شو مسلمانان
ښځې نر پرې د خپل قام شو عاشقان
سعد اسید چې واپسي قام ته راتلل
قام د ورایه د دوي مخ ته وکتل
قام وئیل قسم پۀ خدائے دی بدل شکلونه
نۀ پوهېږو چې د کوم باغ دي ګلونه
سعد وئېل عبدالاشهلو! واورئ ما نه
یوه لار به درته وښایم اسانه
اول ووایئ چې څنګ درته ښکارېږم؟
چې مو بدي شم کۀ ښۀ درته ښکارېږم؟
هغوي وئېل تۀ یې لائق د صفتونو
یو سردار یې، بل اشرف یې پۀ خویونو
سعد وئېل بند شومه ستاسو د خبرو
دي حرام پۀ ما د ښځو او د نرو

ترهغې پورې چې شئ مسلمانان
پهٔ يو خداے او پهٔ رسول راوړئ ايمان
تاريخ ليکي چې نزدې شو غرهٔ ته نمر
ايمان راوړو عبدالاشهلو ښځو نر
مازيګره پورې ټول مسلمانان شو
بيا مصعب او اسيد دواړه ترې روان شو
انصار ټول مسلمانان شو اماني
پهٔ هر کور کښې شوله زور مسلماني
د مصعب اسيد پهٔ شانې تبليغيان
پهٔ يو ورځ کړي هزارها مسلمانان
برقه! اوس خو برېستن وتړې پهٔ ولو
ښخ وباسي د شړشمو د غندلو
چې مصعب اسعد واپس ورسېدل
بيا ئې هم خلک اسلام ته رابلل
صرف څلور قامه بې دينه پاتې شونه
دوي تابع د ابو قېس يو شاعر وونه
دا يو قام بن اُميه بل خطمه ؤ
درېم وائل او څلورم واقف ؤ
يو شاعر د دوي قائد ؤ واوره قيس
پهٔ نامه به يادېدو ابو قيس
د هجرت نه پس بيا دے شو مسلمان
دغه وخته پورې دوي وو مشرکان
بيا مصعب بن عمېر راغے مکې ته
چې طواف لره به تلو خانه کعبې ته

کال پس بیا د حج موسم وۀ را روان
راغلۀ حج لره انصار مسلمانان
ورسره راغلۀ د قام ځۀ مشرکان هم
چې ملګري وو د دوي دغه کسان هم
ؤ براء بن معروب پۀ کښې سردار
مدینې نه چې را وواتۀ پۀ لار
برا ووئیل ملګرو هوښیارانو!
خپله رایه درته ښایم عاقلانو!
پۀ نمانځۀ کښې به مخ کوم خانه کعبې ته
غورږ به کېږدمه اوس ستاسو فېصلې ته
هغوي وئېل رسول کریم کۀ مخ کړو شام ته
مونږ به شام ته مخ کوو غوږ کړه کلام ته
مونږه نۀ کړو د هغۀ مخالفت
هغه کار به کړو چې ځۀ کول حضرت
لنډه دا چې مکې ته ورغلل
یو سړي سره ملاو شو کښېناستل
دغه وخت دوي پېغمبر نۀ پېژندلو
د نبي سره ئې خیال ؤ د لیدلو
دې سړي نه ئې وکړلو باس خاص
هغۀ وئېل چې تاسو پېژنئ عباس
هغوي وئېل مونږ ځو ځو ځله دے لیدلے
مدینې ته تجارت لره راغلے
دې سړي ورته وئیل چې شئ خبر
د عباس سره به ناست وي پېغمبر

جماعت ته چې شئ تاسو ور دننه
د عباس نه د حضور وکړئ پوښتنه
دوي هم داسې جماعت له ورغلل
د حضور سره پۀ خوا کښې کښېناستل
حضور ووئیل عباس ته کاکا جانه!
سړے پېژنې تپوس کؤم لۀ تا نه
عباس ووې یو برا بن معرور دے
چې خپل قام ته سردارانو کښې منظور دے
بل یو کعب بن مالک تا ته حاضر دے
حضور ووئیل چې دا هغه شاعر دے
برا وکړله پوښتنه د حضوره
چې قبله به مونږ ته کومه وي منظوره
ما خو وئېل نمونځ به کؤمه بېت الله ته
داسې ووئیل براء رسول الله ته
پېغمبر وئېل کۀ پۀ صبر ثوک پوهېږي
بیا به دغه وي قبله نمونځ ورته کېږي
کعب صاحب وائي چې حج له شو روان
پېغمبر سره مو وکړو دا بیان
ملاقات له مو نېټه کړه مقرر
عقبه کښې خو وروستۍ شپه د اختر
د اختر پۀ وروستۍ شپه باندې راتللو
د خپل قام نه د شپې پټ را پاڅېدلو
یو سړے زمونږه مشر ؤ سردار
بس هغه مو کړو د حاله خبردار

نوم د دۀ ؤ عبدالله بن عمر
دا سړے کړو مونږ د دې رازه خبر
ورته وئيل مونږه چې تۀ يې شريف انسان
مونږه نۀ غواړو چې سوزې پۀ نيران
دا ښه نۀ ده چې پۀ شرک کښې شې معزول
راځه مونږ سره کړه دين اسلام قبول
دې سردار زمونږ وېنا کړله قبوله
دۀ وئيل زۀ هم درسره ځم تر رسوله
کعب صاحب وائي مونږ د شپې اودۀ شو واړه
رانه درېمه حصه شپه تېره شوه لاړه
مونږ د خپل خپل ځايه پټ را پاڅېدلو
د حضور د ملاقات د پاره تللو
پۀ عقبه کښې جمع شو درې اويا تنه
د حضور د راتلو لار ته مو کتنه
نارينه وو ټول پۀ کښې دوه زنانه وې
د الله رسول پۀ مينه ديوانه وې
مونږ به لارې ته کتل ټول عام و خاص
حضور راغے ورسره ترۀ ؤ عباس
دغه وخت لا عباس نۀ ؤ مسلمان
فېصلې له د ورارۀ ؤ را روان
چې مضبوطه او صحيح فېصله وشي
عباس ووې چې زما زړۀ به پرې ښۀ شي
وړومبے وکړې عباس مونږ سره خبرې
پۀ خبرو کښې لذت ؤ د شکرې

عباس ووې محمد ورارۀ زما دے
اے خزرج قامه! د هر عېب نه صفا دے
قرېشي هاشمي تاسو ته معلوم دے
هر دښمن ئې د جوابه نه محروم دے
پۀ خپل قام کښې د دۀ دلته ډېر عزت دے
قام د دۀ پۀ شا ولاړ عظیم طاقت دے
تحفظ ئې مونږ کوو د هر دښمنه
مونږ دا نۀ غواړو چې لاړ شي د وطنه
خامخا غواړي دے تاسو له درتلل
پناه تاسو پورې غواړي اخستل
کۀ یقین لرئ چې ټینګه به وعده کړو
چې څۀ وایو، دا لوظونه به پوره کړو
کۀ سبا ئې ذلیل کوئ سپارئ دښمن ته
دلته ښۀ دے چې لاړ نۀ شي بل وطن ته
دې سرو وئېل مونږ د دۀ نه واورېدل
اے رسوله! راته تۀ وکړه وئیل
حضور وکړلې خبرې هغه آن
ورته ئې ولوستو د خدائے عظیم قرآن
بیا ئې ووې زۀ کؤم ستاسو بېعت
پۀ امداد کښې به زما کوئ همت
څنګ د خپلو زنانوو د اولاد
دغه شانې به زما کوئ امداد
نو براء بن معرور بیا د حضور
لاس ئې ورکړلو بیعت ئې کړو منظور

دهٔ وئېل مونږ به کوو ستا داسې امداد
لکه څنګه چې کوي څوک د اولاد
اے رسوله! زمونږ دا عهد بېعت
لازمي ګڼو پهٔ ځان خپل حفاظت
ستا نه وړاندې به دښمن سره جنګېږو
مونږ جنګجويه مسلح خلک يادېږو
دا ميراث د پلار نيکهٔ دے مونږ ته پاتې
همېشه دښمن زمونږ نه کړې ماتې
دغه وخت ابوالهيشم وئېل پېغمبره!
معافي غواړم زهٔ کؤم يوه خبره
هغه قام کښې تعلقات زمونږ رشتې دي
د پخوا نه خپلولۍ زمونږ پهٔ کښې دي
تعلقات او خپلولۍ به مو ختمېږي
غلبه فتح به تا ته نصيب کېږي
کهٔ غالب کړې خدائے تهٔ پهٔ دې اولس
مونږ پرې نهٔ ږدې بيا خپل قام ته شې واپس
پېغمبر شولو مسکے وې فرمائيل
وينه ستا بخښل زما وينه بخښل
پېغمبر وئېل خپل دښمن به راته ښائې
زهٔ به ستاسو يم او تاسو به زما يې
پېغمبر وئېل چې د چا سره جنګېږئ
زهٔ به هم ورسره جنګ کړم کهٔ پوهېږئ
کهٔ د چا سره مو صلح کړه اختيار
زما صلح ورسره به وي اقرار

بيا حضور وئېل دولس تنه مشران
چې د قام پهٔ معاملو وي ماهران
نهه تنه د خزرجو د نسب
درې د 'اوس' قبيلې شولو منتخب
جرګه جوړه شوه پوره دولس کسان دا
پېغمبر لره ئې ورکړهٔ مشران دا
يو پهٔ کښې مشر عباس بن عباد
پهٔ خزرج قام کښې ؤ دغه سړے ياد
بيا عباس بن عباده وکړو بيان
هلته ناست وو د خزرج قام مشران
عباس ووې تاسو واورئ زما قامه!
هسې نهٔ سبا را پورې شي بدنامه
هغهٔ ووې دې سړي سره بېعت خپل
چې کوئ نو اول وګورئ طاقت خپل
دهٔ د پاره تور او سپين سره جنګېږو
مال عيال او مشران به هلاکېږو
کهٔ اشراف ستاسو شو قتل بعضې بعضې
هسې نهٔ بيا محمد پرېږدئ يوازې
بيا ذلت دے د دنيا او آخرت
اوس ئې پرېږدوئ چې نهٔ شو ملامت
کهٔ پهٔ ځان باندې مو وي چرې باور
چې به کړو وفادارې لوظونه سر
بېعت وکړئ خېريت ور پهٔ کښې ډېر دے
د دنيا او آخرت د پاره خېر دے

هغوي وئېل کۀ زمونږ قتل مشران شي
خو د پاک رسول الله نه دې قربان شي
دوي وئېل يا رسول الله! د رب نيازبينه!
قرباني چې ورکړو څۀ عوض به وينه
پېغمبر پاک ورته ووې چې جنت
بس دې قام وئېل چې لاس راکړه د بېعت
لاس ور اوږد کړۀ پۀ خپله خېر الناس
براء بن مغرور ورکړلو لاس
بېعت وشو د خزرج او د سلطان
د عقبيٰ د سر نه غږ وکړو شېطان
زبردسته چغه وويسته خناس
چې خبر ئې کړل د کلو عام و خاص
وې وئېل ستاسو جنګ د پاره پاک حضور
جرګه وکړه خزرج قام سره ضرور
پېغمبر وفرمائيل پۀ هسې شان
دا د چغې والا دے کاذب شېطان
پېغمبر وئېل تۀ وهه چغې کوکار
اے ابليسه! زۀ به تا ته شم وزګار
پېغمبر هغه جرګې ته ووئيل
اوس د دې ځايه پۀ کار دي ستاسو تلل
خپل خپل ځاے ته هر څوک ورسوئ ځان
چرې پوه نۀ شي پۀ تاسو مشرکان
عباس وئېل پۀ هغه خداے مې دے سوګند
چې ئې ستا پېغمبري کړله څرګند

کۀ تا اذن د جنګ راکړلو یو وار
پۀ قرېشو مونږ حملې ته یو تیار
مونږ تر میانه پۀ دې ورځو ویستې تُورې
چې پۀ ډېرو درله میاندې کړو مونږ بورې
پېغمبر وئېل حکم نشته د الله نه
زۀ به څۀ رنګ حکم درکړمه د ځانه
اصحابان د هغه ځایه نه خوارۀ شو
لاړۀ دوي خپلو ځایونو ته اودۀ شو
وائي مونږ د خوبه پاڅېدو سحر
یوه ډله قرېش راغلۀ برابر
دا قرېش زمونږ دېرو ته وو راغلي
مونږ ته ئې وئېل چې داسې مونږ دي اورېدلي
دے زمونږ صاحب سره مو پۀ دې نیت
مونږ د جنګ د پاره کړے دے بېعت
مونږ لۀ تاسو سره جنګ نۀ خوښوونه
نۀ لۀ تاسو سره مونږه جنګ کوونه
بعضې مونږ سره دېرو کښې مشرکانو
د دې راز نه نا خبره عاجزانو
هغوي وخوړل دوي ته قسمونه
نۀ مونږ کړے دے بېعت نۀ ئې کوونه
وائي کعب بن مالک پۀ هسې شان
چې پۀ مونږ کښې چا راوړے ؤ ایمان
دغه عهد چې مونږ کړے ؤ بالکل
هغو ټولو به یو بل ته وکتل

قرېش پاڅېدل خو دوي کښېږ يو سړے ؤ
حارث نوم زوي د هشام پۀ کښېږ ډولے ؤ
پښې نوې ئې پۀ پښو وې مزېدارې
پۀ ډېر قېنج مکېز روان شولو پۀ لارې
کعب صاحب وائي ما تري وويسته خبره
خپل ملګري ته مې وئېل ابو جابره!
تۀ خو هم زمونږ د قام يو لوے سردار يې
ځان له نوې پښې واخله مزېدارې
ښنګ چې دي پۀ پښو د دې قرېشي ځوان
هغۀ واورېدو زمونږه دا بيان
پښې ئې زر د خپلو پښو نه وويستلې
نو زما طرف ته دۀ وغورځولې
وئېل قسم پۀ خدا ے چې دا به اوس پۀ پښو کړې
دغه ستا شوې زۀ لۀ تا نه يم پۀ تلو کښې
جابر وئېل ما ته پښې راکړه في الحال
حارث وئېل قسم دے ما نيولے فال
کعب جابر ته وئېل قسم دے چې نېک فال دے
دا پښې به واپس نۀ کړم دا مې خيال دے
دغه ډله د قرېش روانه شوله
عبدالله ابن ابي ابن سلول له ورغلله
بيا هغۀ ته ئې وئيل خبره دا ده
هغۀ وئيل دا ډېره لويه واقعه ده
زما قام به داسې و نۀ کړي کارونه
چې زۀ نۀ يم خبر دوي کوي لوظونه

د منٰي نه خلک کلو ته شو ستون
خو قرېشو کړو شروع پسې لتون
قرېش پوه شولو يقين ئې وشو خاص
چې بېعت کړے انصارو خېر الناس
دوي خوارهٔ شو بيا انصار ئې لټول
د هغوي نه ئې دوه تنه وموندل
يو سعد بن عباده ئې وموندلو
الاخر نمسے ئې يو ځاے کښې ونيولو
بل منذر بن عمرو واورئ بيان
دهٔ قرېشو نه پهٔ منډه خلاص کړو ځان
چې خوښ کړي حضور دولس مشران وو
پهٔ هغو کښې شامل دا دواړه کسان وو
منذر وتښتېدو دوي نهٔ کړلو ګېر
د سعد بن عباده نه شو چاپېر
پهٔ رسۍ ئې ورله وتړل لاسونه
د مرۍ سره يو ځاے واورئ حالونه
لاس تړلے ئې مکې ته راوستلو
ظالمانو به وهلو ټکولو
لوے لوے سر ئې ؤ د وېښتو نه ئې نبوهٔ دے
کاڼو لوټو او پهٔ غنو کښې ئې راښکهٔ دے
سعد وائي دوي راښکلو پهٔ مېدان
دې کښې راغلهٔ يو څو تنه مشران
دوي کښې ؤ يو لوړ سړے د رنګه سپين
ډېر ښائسته مخ ئې روڼ وکړئ يقين

ما پهٔ زړهٔ کښې وئېل کهٔ ما ته خبر رسېږي
شايد دې سړي د لاسه به ښهٔ کېږي
زړهٔ مې ښهٔ شو پهٔ ورو ورو چې راغے خوا ته
ډېره سخته يو څپېړه ئې راکړه ما ته
ما پهٔ زړهٔ کښې وئېل قسم دے د خېر طمع
د دې خلکو نه به نوره نهٔ کوُمه
دې نه پس زما د خېر طمع خوره شوه
راته پاتې صرف د لوے الله اسره شوه
دغه خلکو زهٔ راښکلمه د سر بيا
رحم راغللو پهٔ ما د يو بشر بيا
هغهٔ وئېل ما ته هلاک شې تهٔ نادانه!
دې قرېشو کښې څوک نهٔ پېژنې ځوانه!
ما وئېل پېژنم زما پهٔ کښې دوستان وو
جبېر زوے د مطعم سوداګران وو
بل حارث د حرب زوے دے واوره ګله!
دې سړي له به پناه ما ورکوله
جبېر ډېر وار زمونږ کلو ته راغلے
زور زياتے ظلم پرې چا نهٔ شو کولے
د وران کارو نه به ما دوي بچ کولو
بل حارث وُ پهٔ پناه کښې مې ساتلو
بيا سړے لاړ شو زما نه پهٔ رخصت کښې
دا سړي ئې وليدل پهٔ جماعت کښې
دغه دواړه سړي دهٔ کړلو خبر
زما حال ئې ورته ووې برابر

جماعت خانه کعبه سره دې خوا ته
دا خبره د بنیاد نه کړمه تا ته
دغه ځاے کښې به قرېش جمع کېدل
دۀ حارث او جبېر دواړه ولیدل
ورته ئې وئېل ستاسو یو دوست حزرجي ځوان دے
د قرېشو پۀ ابطح کښې بندېوان دے
ډېر وهل ټکول خوري د بل د لاسه
دوست مو مري او تاسو ګرځئ بې وسواسه
هغو وئېل څوک دے تۀ نوم ئې کړه را یاد
دۀ وئېل نوم ئې دے سعد بن عباد
هغوي ووې چې رښتیا دي ووئیلو
زمونږ مال د تجارت به دۀ ساتلو
دغه کلو کښې پۀ مونږ چا ظلم زور
کوے نۀ شو کۀ تربور ؤ کۀ ئې ورور
دغه دواړه سړي شولو ور روان
د قرېشو نه ئې را خلاص کړو دغه ځوان
سعد لاړو شو داخل پۀ مدینه کښې
د نبي عشق ئې پروت ؤ پۀ سینه کښې
چې سعد ئې پۀ څپېړه ؤ وهلے
نوم سهېل د عمر زوے ؤ دا ناولے
چا چې رحم کړے ؤ واورئ بیان
نوم ئې ؤ ابو البختري زوي د هشام
برقه! هغه سر ببري عاشقان
د سعد بن عباده غوندې ځوانان

مدينې ته چې دا درې اويا کسان
راغلۀ دوي مشرف شوي پۀ ايمان
دوي پۀ لاس د پېغمبر کړے بېعت ؤ
ټول مشغول به د يو خدائے پۀ عبادت وو
بعضې دوي نه دلته پاتې مشران
چې پۀ شرک کښې مبتلا وو مشرکان
يو پۀ کښې د جموح زوے نوم ئې عمر ؤ
دے پۀ خپل قام کښې سردار او معتبر ؤ
قبيله بني سلمه دا ئې سردار ؤ
د لرګي بُت ئې جوړ کړے مزېدار ؤ
زوي ئې ؤ مسلمان نوم ئې معاذ
پلار نه مخکښې پۀ اسلام ؤ سرفراز
د حضور پۀ لاس ئې کړے ؤ بېعت
د خپل سر او مال نه تېر ؤ پۀ حضرت
د خپل پلار د بُت نامه ئې وه منات
اوس د دې بُت درته وايمه حالات
چې اشراف به څوک پۀ قام کښې يادېدل
ځان له ځان له بُتان ټولو به ساتل
يو معاذ د عمر زوے ؤ مسلمان
بل معاذ د جبل زوے دواړه ځوانان
نور زلمي ورسره هم ايمان والا وو
د اسلام پۀ ننګ يو موټے يوه خولۀ وو
عقبه کښې پېغمبر ته چې حاضر وو
هر زلمے پۀ کښې د يو بل نه بهادر ؤ

هغه بُت پسې د شپې دواړه ورغلل
يو ډوغل کښې چې به بول خلکو کول
پۀ هغې ډوغل کښې ئې بُت کړو ورګزار
چې د سر نه شو تر پښو پورې مردار
چې سحر عمر د خوبه پاڅېدنه
پۀ خپل بُت پسې دے سر شو پۀ کتنه
د لوے بولو پۀ ډوغل کښې ئې وموندنه
عمر راوړو پۀ اوبو ئې ووينځنه
عمر وئېل تاسو هلاک شئ پۀ دستیٰ کښې
زما خدائے مو غورځولے پليتیٰ کښې
ښۀ ئې ښائسته کړو خوشبوئي ئې کړه پرې پورې
بلې شپې له ئې ګزار کړو کۀ ئې ګورې
عمر بيا پۀ هغه ګند کښې وموندلو
د ناکامه به غريب صفا کولو
بيا ئې پاک کړو دۀ پرې عطر وشيندل
وئېل قسم دے کۀ ما غلۀ وپېژندل
زۀ به دا کسان ذليل کړمه ډېر زيات
ځکه دوي ډېر بې عزته کړو منات
عرض دا چې درې ځلور شپې دغه کار
پۀ ګندګیٰ کښې به دا بُت پروت ؤ مردار
بلې شپې له عمر تُوره وويستله
دې منات ته ئې پۀ ځنګ کښې واچوله
ورته ئې ووې ما څوک و نۀ پېژندل
پۀ دې تُوره حفاظت به کوې خپل

دغه شپه عمر اوده چې شو یارانو!
خپل عمل وکړو ظلمو مسلمانانو
خو د بُت د غاړې ئې وویستو تلوار
دوي یو سپے چرته کښې وکتو مردار
دغه سپے او بُت ئې دواړه وتړل
یو ژور کوهي ته ئې بیا وغورځول
دا کوهے د قبیلې بني سلمه ؤ
چې د خلکو گندگۍ نه پېمانه ؤ
بیا سحر عمر د خوبه پاڅېدنه
پۀ زړو ډوغلو دے وگرځېدنه
بُت ئې بیاموندو دا شو حال زبون
بیا ئې نور پسې شروع کړلو لټون
د گندگۍ ځایونه دۀ به لټولو
آخر دا پۀ دې کوهي ور وختلو
دۀ خپل خداے ولید گندگۍ کښې اوړېدلے
یو مړ سپے ورسره هم جوړه تړلے
دې موقع کښې ؤ د قام یو مسلمان
ورته ئې وکړله بلنه د ایمان
ورته ئې ووې د بُتانو توبه گار شه!
اسلام ومنه! د یو خداے تابعدار شه!
دا ستا خداے دے چې دے پروت پۀ پلیتۍ کښې
دا به څۀ تا له پۀ کار شي پۀ سختۍ کښې؟
عمر بس پۀ دې موقع اسلام قبول کړو
دین منظور ئې د الله او د رسول کړو

دا دوېم بېعت زمونږه پۀ دې رنګ
چې پۀ دې کښې آزادي وشوه د جنګ
دا عباده د حضور پاک وفادار ؤ
هغه دولس مشرانو کښې دے شمار ؤ
پۀ وړومبي دوېم بېعت کښې ؤ شامل
کلک ملګرے ؤ د پاک نبي کامل
دے وائي مونږ دا لوظ وکړو د روئېدار
چې د حق وئيلو نۀ به کړو انکار
کۀ هر چرته وي د خدائے رسول خبره
حق به وايو د هېچا به نۀ کړو وېَره
منو حکم به سختي وي کۀ اسانه
خو امداد به غواړو مونږ د يو الله نه
مونږه دويم بېعت کښې درې اويا تنان
چې شامل وې پۀ کښې هم يو دوه زنان
د يوې نوم نصيبه وه بله ئې خور
دوي غزا کښې وې ملګرې د حضور
د خاوند نوم ئې ؤ زېد واوره خبره
دوه زامن لرل دې ښځې برادره!
چې د يو نوم ئې حبيب بل عبدالله ؤ
اصحاب د محمد رسول الله وو
حبيب ؤ مسلمه کذاب نېولے
دا حبيب ئې ؤ بيا قېد کښې اچولے
کذاب وئېل چې شهادت دغسې ستا دے
پېغمبر چې محمد رسول الله دے

حبيب ووئېل او زۀ کۀومه شهادت
محمد پاک پېغمبر دے د قدرت
کذاب وئېل خبرې مۀ کوه فضول
شهادت وکړه زۀ يم د خدائے رسول
حبيب وئېل چې ستا پۀ شانې مرداران
نۀ منم کۀ ځان ته وائي پېغمبران
اخري بس محمد آخر زمان دے
چې دعويٰ بل څوک کوي هغه شېطان دے
يو اندام ئې د حبيب غوڅ کړو پۀ تُوره
خدايه! مور کړې ظالمانو باندې بُوره
کۀ حبيب نه به تپوس وکړو کذاب
ورکوۀ به هغۀ دغسې جواب
اندامونه ئې ترې يو يو غوڅولو
آخر مړ شو روح ئې خدائے ته وسپارلو
خو د مرګه پورې دۀ دغه خبره
وئېل ئې سر مې شه قربان د پېغمبره
برقه! دا مسلمانان وو پخواني
پېغمبر نه ئې صدقه کړله ځواني
نصيبه بي بي د دغه شهيد مور وه
د فرزند لۀ غمه ډېره کر و کور وه
يمامې کښې ۆ د کفر اسلام جنګ
نصيبه د خپل اسلام پۀ نام و ننګ
دا بي بي پۀ خپله جنګ ته ووتله
مسلمه کذاب سره به جنګېدله

كذاب قتل شو بري مسلمانان شو
خپلو كلو ته واپس بيا را روان شو
كذاب لاړو د دوزخ د اور خشاك شو
د بي بي نصيبې زړۀ د غمه پاک شو
د بي بي نصيبې دولس وو زخمونه
د فرزند بدل ئې واخستو اخونه!
پخوا داسې زنانه وې بهادرانې
چې كفارو سره ئې كړلې غزاګانې
د دويم ببعت نه مخكښې پېغمبر ته
د جنګ حكم شوے ؤ نبي سرور ته
نۀ د يو كافر نه وينه تويول
ورته حكم شوے نۀ ؤ د لم يزل
حكم دا ؤ خلک الله ته رابله تۀ
پۀ ضرر ظلم ستم صبر كوه تۀ
چې كوم خلک تابع شوي د حضور
دې قربشو تنګولو به ضرور
يا د دين نه ئې پۀ زور واپس كول
يا ئې دوي عذابول يا ئې شړل
څوک حبشو ته خواران وو تښتېدلي
څوک انصارو ته يثرب طرف ته تلي
دې قربشو سركشي را واخستله
د عزت رحمت د خداے نه شو غافله
پېغمبر پاک ته ئې وئيلو دروغژن
وو د خداے رسول منونكے ئې دښمن

چې محکم به څوک پۀ دين او پۀ اسلام وو
د قرېشو نه دوي ډېر به بې ارام وو
چې تصديق به کوۀ چا د پېغمبر
هغه کس ته رسوۀ به دوي ضرر

مسلمانانو ته مدينې ته د هجرت اجازت

د جنګ اذن وشو پاک رسول الله ته
بيا انصار ئې تيار شوي ملګرتيا ته
د مکې مسلمانانو ته حضرت
د هجرت د پاره ورکړو اجازت
پۀ هجرت ځئ مدينې منورې ته
رسوئ ځان د هغوي کلو دېرې ته
د انصارو ورونړو شئ هلته ملګري
بس پۀ تاسو دې د لوي الله نظر وي
او حضور پاک پۀ مکه کښې ؤ مقيم
انتظار به ئې کوۀ د رب رحيم
چې الله پاک کله راکړو اجازت
د مکې نه به هله کوو هجرت
پېغمبر به انتظار د هغۀ کولو
د خداے حکم ته به هر وخت ئې کتلو
خو لا حکم شوے نۀ ؤ د کردګار
پۀ دې وجه به مکې کښې ؤ ايسار

اصحابو کښې وړومبے چې چا هجرت
هغه ؤ ابو سلمه واوره حالت
هسې وائي عبد الاسد نوم ئې د پلار ؤ
پۀ نسب ؤ قرېشي ډېر ايماندار ؤ
پخوانے نوم د پلار ئې عبدالله دے
دا سړے چې پۀ قرېشو کښې پېدا دے
يو کال مخکښې د عقبیٰ نه د هجرت
مدينې ته ابو سلمه کړے هجرت
اول تلے حبش قام ته مهاجر ؤ
بيا مکې ته را واپس شو مسافر ؤ
چې حضور ته مخامخ شو دا نېک نام
خبردار شو د انصارو پۀ اسلام
دې قرېشو به ضرر ور رسونه
مدينې ته پۀ هجرت مجبوره شونه
اراده د هجرت وکړله دې ځوان
د بي بي سورلۍ له ئې اوښ کړو را روان
دا بي بي ام سلمه به يادېدله
د زوي نوم ئې سليمه ؤ زما دله!
مور او زوے پۀ اوښ سوارۀ شو پۀ قلار
ابو سلمه لاس کښې ونيوۀ مهار
مجبورۍ نه سړے پرېږدي کور او کلے
ګنې چا پۀ خوشحالۍ وطن پرېښلے
دوي چې کلي نه بهر را ووتل
ام سلمه قبيلې لار کښې وليدل

دغه قام ورته را پاڅېدو پهٔ جمع
وئېل تهٔ څه او د بي بي و نهٔ کړې طمع
کهٔ تهٔ ځې نو څه د ځان لرې اختيار
دا زمونږ د قام ده مونږ ئې يو واکدار
دا بي بي ئې ترې د اوښ نه کوزه کړله
دا بنو عبد الاسدو وليدله
دا بنو عبد الاسد ور پاڅېدنه
د هغو نه ئې دا ماشوم بچے راښکنه
هغې اخوا دوي به دې خوا ته راښکلو
پهٔ راښکو کښې د ماشوم لاس وويستلو
پهٔ راښکو ئې د ماشوم وويستهٔ لاس
دا هلک ئې د هغوي نه کړو راخلاص
وئېل قسم پهٔ خدائے چې دا ماشوم پسر
نهٔ پدر مونږه نه بوځي نهٔ مادر
مور ئې بوتلله خپل قام ته قام دارانو!
ماشوم پاتې کړو دې خپلو نسبيانو
ابو سلمه يوازې لاړو مدينې ته
وايه څومره درد ئې ورسېد سينې ته
خو اسلام نه نهٔ وه دا د جار وتلو
کهٔ زحمت ورته هر څومره رسېدلو
دا بي بي پهٔ خپله دا کوي بيان
چې پهٔ ما به تېرېدو داسې خفګان
ابطح نومې يو ځاے ته به راتلم
تر مابنامه پورې زهٔ به ژړېدم

يوه ورځ وه زۀ عاجزه ژړېدمه
د ترۀ زوي را باندې راغے وې ليدمه
د هغۀ رحم پۀ ما باندې پېدا شو
دے خپل قام بن مغيره ته پۀ وېنا شو
ورته ئې ووې اے زما قامه! دا ولې؟
دا عاجزه مو حرج کښې اچولې
وئېل پۀ کومه ګناه دا وکړېدله؟
دغه قام بيا اجازت راکړو پۀ خپله
پوره يو کال کړېدل مې پۀ قسمت ؤ
امتحان به دا پۀ مونږه د قدرت ؤ
بيا بنو اسدو زوي هم واپس راکړو
هغه توره شپه پۀ مونږ الله سبا کړو
مور او زوي دواړه سوارۀ شو پۀ اوښ باندې
مدينې ته بيا روان شو مخ پۀ وړاندې
زوي مې کښېنوۀ پۀ غېږ کښې پۀ قرار
هېڅ ملګرے راسره نۀ ؤ پۀ لار
چې تنعيم نومې يو ځاے ته شو رسان
وليد مونږه د طلحه زوے عثمان
ما ته ئې ووې چې تۀ چرته يې روانه؟
ما وئېل څمه خپل خاوند لره اے ځوانه!
هغۀ ووې څوک ملګرے درسره دے
ما وېل نه قسم الله زما پوره دے
عثمان ووې چې قسم پۀ رب منان
چې يوازې دے پۀ دې نوم پۀ هېڅ شان

خامخا به دي خاوند له رسؤمه
چې تا ورسوم واپس به زۀ راځمه
دا بي بي وائي پۀ خدا ے زما سوګند
پۀ عربو کښې به دومره عزتمند
ما ليدلے نۀ دے چرې بل بشر
چې پرواو ته مونږ به ورغلو اکثر
اوښ به ئې کښېنوۀ مونږ کوز به شو ترې لاندې
دے به لرې چرته ډډې ته شو وړاندې
اوښ به ئې هم بوتلو خوراک به ئې کولو
بلې اونې ته به لرې ځملاستلو
چې د تلو وخت به شو اوښ به ئې روان کړو
اوښ به ئې چو کړو دۀ به ډډې ته خپل ځان کړو
مونږ به شو سوارۀ پۀ اوښ ښۀ پۀ قرار
دے به راغے بيا به ئې ونيوۀ مهار
مدينې منورې پورې عثمان
ملګرتيا زمونږ سره وه پۀ دا شان
شو قبا کښې زمونږ کلے پۀ نظر
اوسېدل پۀ کښې پۀ قام بني عمر
ما ته ئې وئېل خاوند دې اوسي پۀ دې کلي
ځه ورځه! الله دې ټولو سره مل وي
دے مکې معظمې ته شو واپس بيا
الٰهي دې اجر ورکړي يو پۀ لس بيا
بي بي وائي چې دا اسلام مونږ ته راغلے
دومره سخت مصيبت چا نۀ دے ليدلے

بل عثمان غوندې سړے پۀ ملګرتيا کښې
ما ليدلے نۀ دے چرته پۀ دنيا کښې
برقه! نن دا نام نهاد مسلمانان
د يو نوک نه دې قربان شي د عثمان
ابي سلمه نه پس عامر وکړو هجرت
دے ؤ زوي د ربيعه واوره حالت
ورسره خپله بي بي نوم ئې ليليٰ وه
چې پۀ دين د محمد رسول الله وه
ورپسې بيا عبدالله بن حجش لاړ
دے سره د خپل اولاده خوش نفس لاړ
دۀ سره پۀ هجرت هم لاړ سکه ورور
بنيادمو نه خالي پاتې شو کور
عبد هم د عبدالله ؤ برادر
پاتې نۀ شو د دوي کور کښې زنده سر
دوي ترې لاړل کور ئې شو خالي مېدان
پۀ دې لار تلۀ د قرېشو سرداران
دوي چې وکتل دا کور پروت ؤ وزګار
عتبه هلته کښې ولوستل اشعار
کۀ سالم يو کور ډېر عمر پۀ دنيا شي
خو يو ورځ ورله څۀ غم مصيبت راشي
عتبه وئېل د بني حجشو دا کورونه
انغرو کښې به ئې بل نۀ شي اورونه
ابو جهل وئېل پۀ دې څوک نۀ پوهېږي
دا عمل د محمد ورته رسېږي

پیدا کړي زمونږ قام کښې تفرقې دي
دوستانې او خپلولۍ ختمې پهٔ دې دي
سلسله د هجرت داسې وه روانه
مدینې ته خلک تلهٔ د بیت الله نه
ورسره ښځې بچي او ماشومان
پهٔ قلار قلار به تلل دغه خواران
چې اسلام به کومو خلکو قبلولو
د خپل کور کلي ښارېې نه به وتلو
مدینې منورې ته به ورتللو
مدینې ته به هجرت هغوي کولو

د حضرت عمر فاروق هجرت

تقریباً د دېرشو تنو پهٔ آخر
مدینې ته پهٔ هجرت لاړو عمر
چې د تلو اراده وکړله عمر
دې صلاح کښې درې کسان شو برابر
یو عیاش، او بل عمر، دریم هشام
د عاص زوے ؤ ځان خبر کړه پهٔ انجام
دوي وئیل پټ به د شپې مونږه راځونه
تناصب نومې یو ځاے به جمع شونه
کهٔ څوک نهٔ ؤ دلته سحر را رسېدلے
هغه کس به مشرکانو وي نیولے

دغه نور دواړه دي نۀ کړي انتظار بيا
ځي پۀ مخه دې کوټه پرې نۀ شي لار بيا
هسې وائي چې سبا وختي سحر
دغه ځاے ته عياش راغلے هم عمر
او هشام ترې مشرکانو ونيونه
چې د دين فتنه کښې بيا وغورځونه
چې دوي ورسېدۀ دواړه مدينې ته
ورغلل د بني عمرو قبيلې ته
د عمرو قبيلې سره دېره شو
دوه سړي د مکې نور راغلۀ ښکاره شو
ابو جهل بل د دۀ مېرنے ورور
حاريسه نوم ئې لرلو مۀ کړه شور
د ترۀ زوي ؤ د عياش مېرنے ورور
دۀ ته ئې ووې حال دې وګوره د مور
ورته ئې وئېل مور دې قسم دے دا خوړلے
داسې نذر ئې پۀ ځان باندې منلے
تر هغې پورې پۀ سيوري نۀ کښېنمه
نۀ د سپږو خيرو سر ږمنځۀمه
پۀ غرمو ناسته ده نۀ سيوري ته کېږي
اے عياشه! کۀ ور نۀ رغلې مړه کېږي
عياش زړۀ باندې ورو ورو نرے کېدلو
دۀ مکې ته نيت واپس وکړو د تللو
عمر ووې چې قسم پۀ خداے قام دار ستا
دا د دين نه اړول غواړي دوبار ستا

دوي نه وېره وکړه! مهٔ څه ورسره بيا
د دې پاک دين نه دې اړوي ښکاره بيا
کهٔ دې مور سپږو خوړه ږمنځ به سر کړي
کهٔ ئې وشوه ګرمي کټ به ترې نه لر کړي
د مکې ګرمۍ کهٔ دا وسوزوله
کټ به سيوري ته بيا راکاږي پهٔ خپله
خو دهٔ وئېل د مور قسم پوره کوٚم زهٔ
مال مې ډېر دے، هغه هم سمبالوٚم زهٔ
عمر وئېل، تا ته معلومه ده پهٔ خپله
د قرېشو زهٔ مالدار يم يو پهٔ سله
پهٔ هغې کښې پوره نيم مال زما ستا شو
خو عياش و نهٔ منله، نا رضا شو
عمر پوه شو چې دا تلو ته دے تيار
هسې رنګ ئې ورته بيا وکړو ګفتار
ښه! چې ځې زما پهٔ دې اوښه شه سور
کهٔ پهٔ لاره کښې شکمن شوې تهٔ پهٔ ورور
ترې را تښته، بيا دې دوي نهٔ شي نيولے
نهٔ دې نورې اوښې شي لاندې کولے
تېز رفتاره ده د دې نه مهٔ کوزېږه!
پهٔ ليدلې لار راځه، مهٔ ايسارېږه!
لنډه دا چې دوي درې واړه شو روان
د مکې خاورې ته بيا شولو رسان
ابو جهل ورته ووئيل ورور جانه!
زهٔ دې خپلې اوښې ډېر کړمه ستومانه

اوښه کښېنوه! ما ځان پسې کړه سور
زۀ مزل پۀ دې کولے نۀ شم نور
عياش کوز شو اوښه ئې خپله کښېنوله
ابو جهل پسې پښه ور واړوله
رسول پاک پۀ مدينه منوره کښې
داسې وفرمائيل هغه زمانه کښې
چې عياش هشام به ځوک بيا د مکې نه
کړي را خلاص وائي د هغه قېد خانې نه
وليد ووې زۀ به دواړه راولم
اجازت کۀ راکړې نن ورپسې ځم
وليد لاړ مکې ته ورسېدو جانه!
يوه ښځه وه ډوډۍ پۀ سر روانه
وليد وکړه د دې ښځې نه پوښتنه
وايه چرته ځې اے خورې! بې ځښتنه
ښځې ووې يو عياش او بل هشام
دوه قېديان دي زۀ هغوي له وړم طعام
وليد غلے غلے دې پسې روان ؤ
ځاے ئې ښۀ هغه معلوم کړو د قېديانو
وران کنډر ؤ چهت پرې هم نۀ ؤ د پاسه
شپه چې دم شوه وليد لاړو بې وسواسه
پۀ دېوال ور وا وړېدو هغه بهادر
هتکړو نه ئې کړو ور لاندې يو بکور
بيا ئې تُوره هتکړو له کړه راخلاصه
هتکړۍ ئې غوځې کړې د دوي د لاسه

مديني منورې ته ئې راوستل
ازمري د اسلام دغه يادېدل
بيا د هغې تورې نُوم شو 'ذوالمروة'
د اسلام د پاره ئې کړے ؤ خدمت
د عمر نه پس د دۀ ټول نسبيان
پۀ هجرت به مدينې ته وو روان
ډلې ډلې مهاجر وو چې راتلل
وو صهيب غوندې کسان پۀ کښې شامل
چې صهيب اراده وکړه د هجرت
د مکې مشرکان شو ورته اوچت
دوي وئيل تۀ وې يو فقير دلته راغلے
اوس مالدار شوې څومره مال دې دے ګټلے
تا زمونږ وطن کښې وګټو دولت
دا به يو نۀ سې زمونږ نه امانت
دے زمونږ قسم پۀ خدا ے دا به و نۀ شي
نۀ به ستا د دې دولته سره تلۀ شي
صهيب ووې کۀ زۀ درکړم ټول دولت
بيا به ما ته د تلو وکړئ اجازت؟
مشرکانو وئيل، هو! مال دې دلته پرېږده!
بيا چې کوم طرف ته درومې، اخوا لېږده!
صهيب وسپارو کفارو ته خپل مال
مديني طرف ته تلو نۀ شو اتال
پېغمبر وئيل صهيب ګټه وکړه ګټه
درجې ئې غټې شوې درجه غټه

العرض مؤمنان لاړۀ پۀ هجرت
پاتې شو علي، صديق، نبي حضرت

د رسول الله مدينې ته هجرت

چې صديق به د تلو وکړلو ګفتار
پېغمبر به ورته وئيل مۀ کړه تلوار
خدائے به ښۀ ملګرے درکړي ستا د لارې
اے صديقه! ستا به خبر وي کۀ ايسار يې
د صديق طمع پېدا شوه داسې خاص
چې ملګرے به زما شي خېر الناس
پېغمبر کړلو د وحي انتظار
ورته اذن شوے نۀ ؤ د غفار
پۀ مکه کښې پاتې درې مسلمانان
کۀ نور وو نو چرته پټ به وو قېديان
او د هرې قبيلې نه يو بهادر
يو زلمے ښۀ طاقتور او معتبر
ورله ئې ورکړې ښې تېرې تُورې پۀ لاس
چې يو ځل پرې ګزارونه کړي راخلاص
چې دا ټول پرې حمله وکړي پۀ يو ځل
بني عبد به بيا لۀ چا اخلي بدل؟
عبد مناف د ټولو نۀ لري طاقت
بيا پۀ خپله به راضي شي پۀ ديت

محمد به قتل شي خلاص به ترې شونه
ما خو خپله رايه پېش کړه د مضمونه
شېخ نجدي ووې ستا رايه برابر ده
دا خبره دې مضبوطه لکه غر ده
ابو جهل لره تائيد وکړو شېطان
فېصله وشوه خوارهٔ شو مشرکان
فېصله کفارو وکړه پهٔ دا شان
قتلوو به پاک نبي اخر زمان
بېگا شپې له به ورځو پسې پهٔ جمع
محمد چې د ژوندون نه کړو بې غمه
نو جبرائيل علېه سلام راغے سلطان ته
دا ئې ووئيل بادشاه د دو جهان ته
چې پهٔ کومه بستره خوبونه کاندې
شپې له ځملوه علي پهٔ هغې باندې
علي ځملوه نبي پهٔ خپل بستر
ورکړو دهٔ د اغوستو هغه څادر
پېغمبر وئېل څادر واغونده حېدره!
وېره مهٔ کړه د کفارو د ضرره
دا څادر شين حضري د پاک روېدار
پهٔ ځان خور کړو اودهٔ شو حېدر قرار
حېدر ځملاست د حضور پهٔ بستره کښې
يو ذره ئې زړګے نهٔ ؤ خطره کښې
شپه پخه شوه ټول را جمع شو کفار
د نبي د راوتو کړي انتظار

دروازه کښې ټول ولاړ وو مرداران
ورسره ؤ ابو جهل غټ شېطان
ابو جهل جمع خلکو ته لېکچر
مسخره غوندې کوله دې کافر
ورته ئې وئېل چې محمد کړي دا ګفتار
کۀ قرېشو کښې مې شي څوک تابعدار
د عرب عجم به دوي شي بادشاهان
مرګ نه پس به ئې ژوندي کړي رب منان
خداۓ به ورکړي د اور دننه ښۀ باغونه
پۀ هغې کښې به بيا تاسو کړئ سېلونه
چې زما تابعداري د چا نصيب شي
د جنت د باغيچو به عندليب شي
کۀ چا و نۀ کړه زما تابعداري
داسې خلک به زۀ ذبح کړم فوري
مرګ نه پس به تاسو وسوزئ پۀ اور
محمد کوي د اور مونږ ته پېغور
ابو جهل مسخرې کړې خندېدلو
دغه وخت کښې پرې حضور را ووتلو
بيا حضور وفرمائيل هو! داسې وايم
يوه ورځ به دا وئيل تاسو ته ښايم
پېغمبر يو موټے خاورې واخستلې
د هر يو مشرک پۀ سر ئې دوړولې
بې د يو تن نه نظر د ټولو لاړو
خاورې سر باندې پرتې وې د خراړو

د هر يو پۀ سر د خاورو لوے ډېران
ؤ جوړ شوے، خبر نۀ وو مشرکان
پېغمبر 'سوره يٰسين' به پرې لوستلو
د فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْن پورې وئيلو
حضور پاک چې ختمول دا آيتونه
د کفارو پۀ سر خاورې وې ټوپونه
د حضور د تلو چې چرته اراده وه
هلته لاړ شو، عجيبه غوندې قصه وه
بيا يو بل سړے دې لار باندې راتلنه
دې کفارو نه ئې وکړله پوښتنه
تاسو څۀ ته يئ ولاړ او څۀ مو کار دے؟
دوي وئېل زمونږ محمد ته انتظار دے
دې سړي وئېل خداے دې تاسو کاندي خوار
هغۀ کړې درته پۀ سر خاورې انبار
تاسو دومره نۀ پوهېږئ پۀ ځانونو
لاس خو ووهئ اوچت پۀ خپل سرونو
خاورې وشنډئ اول د خپله سره
هغه لاړ هلته، چې ښکاري ورته غوره
دوي چې ووهل پۀ سر باندې لاسونه
د هر يو پۀ سر پراتۀ وو ډېرانونه
لاس ئې پورې کړو د دوړو پۀ شنډلو
شرمېدلي پسې ښۀ وشرمېدلو
دوي سرونه کړل اوچت د حضور کور ته
د حضور پۀ کور کښې ئې وکتل هر لور ته

د حضور څادر اغوستے ؤ حېدر
دوي وئېل هغه دے اودۀ دے پېغمبر
دروازه کښې دوي ولاړ وو تر سحره
چې علي صاحب را پاڅېد د بستره
دوي چې ولیدو علي صاحب قرار
پۀ هغې سړي ئې بیا وشو اعتبار
وئېل قسم دے چې ړښتیني دغه کس ؤ
تر سحره انتظار زمونږ عبث ؤ
دغه وخت حضور ته اِذن د هجرت
الله وکړو پۀ هجرت وځي حضرت
ابوبکر پۀ مکه کښې لوي مالدار ؤ
دا د پاک رسول الله مشرے یار ؤ
پېغمبر نه به پوښتنه د هجرت
دۀ کوله چې به راکړي اجازت
پېغمبر به ورته وئېل مۀ کړه تلوار
خداے به ښۀ ملګرے درکړي ستا د لار
ابوبکر زړۀ کښې دا طمع لرله
چې حضور به مې ملګرے وي پۀ خپله
دۀ اخستي پۀ بازار کښې دوه اوښان وو
چې پۀ منډه پیتې وړو کښې مېړنیان وو
ورکوۀ به ئې اوښانو له خوراک ښۀ
چې مانده نۀ شي سورلۍ کښې دوي وي چاک ښۀ
عائشه بي بي فرمائي چې حضور
ورځ کښې تلو به د بابا کره ضرور

يا سحر يا بېګائي به دے راتنه
د روغ جوړ به ئې خامخا کړله پوښتنه
د هجرت پۀ ورځ چې راغلے پاک رسول
دا د نورو ورځو ؤ خلاف معمول
د غرمې پۀ وخت کښې راغلے پاک روېدار
ابوبکر وئېل څۀ پېښ دے نوے کار
عائشه وائي دغه وخت کښې زۀ او خور
دواړه وو د خپل بابا کره پۀ کور
عائشه وائي زما خور نوم ئې اسماء وه
يوه زۀ ومه پۀ کور کښې بله دا وه
دغه وخت وفرمائيلو پېغمبر
کۀ څوک وي هغه د کوره کړه بهر
ابوبکر وئېل دوه لوڼه مې دي کور
شي قربان دې زما ستا نه پلار او مور
حضور دغه وخت کښې دا وفرمائيلو
ما ته اِذن دے مکې نه د وتلو
د هجرتَ حکم راکړے ذوالجلال
زۀ بايد تعميل کښې نۀ شمه اتال
پېغمبر وئېل او ملګري به يو دواړه
د صديق نه د خفګان خبره لاړه
عائشه بي بي وائي ما نۀ وو ليدلي
چې وو چا د خوشحالۍ پۀ وخت ژړلي
خوشحالۍ نه ابوبکر وژړل
چې هجرت کښې شو رسول د لارې مل

ابوبکر وئېل حضور ته هسې شان
ما سورلۍ لره اخستي دوه اوښان
دغه دواړه مې هجرت لره ساتلي
مدينې ته به پهٔ دې زمونږه تلل وي
پهٔ تنخوا ئې يو سړي لره ورکړلې
دې سړي به دغه اوښې ځرولې
تاريخ ليکي، عبدالله ؤ د دهٔ نوم
لا مشرک ؤ د اسلام نه ؤ محروم
د هجرت د وخته پورې دهٔ ساتلې
عبدالله به ښې پهٔ مينه ځرولې
د حضور د وتو علم نهٔ ؤ چا ته
د صديق اهل او ؤ شېر خدا ته
د هجرت علم ؤ دوي ته د سرور
پهٔ مکې کښې ترې بل څوک نهٔ ؤ خبر
پېغمبر علي ته ووې کهٔ پوهېږې
تر هغې به پهٔ مکه کښې تهٔ اوسېږې
ورکوه هر چا ته خپل خپل امانت
کهٔ چا ما سره کېښودے وي دولت
خپل خپل مال ورکړه هر چا لره حېدره!
يو ټکه چې پهٔ کښې نهٔ شي لر او بره
پهٔ مکه کښې چې پهٔ مال څوک وېرېدل
د حضور سره به ټولو کېښودل
صداقت د دهٔ هر چا ته ؤ معلوم
محمد، احمد، محمود چې لري نوم

چې د تلو اراده وکړه پیغمبر
ابوبکر کره راغے پیغمبر
یو کړکۍ وه د صدیق د کالۀ شا ته
دوي پۀ دغه کړکۍ ووتل ښېدیا ته
دوي پۀ دغه کړکۍ دواړه ووتل
ځي مکې ته د وحدت د باغچې ګل
د مکې ښکته طرف ته پۀ یو غرۀ کښې
'غار ثور' ؤ پۀ درې مېله فاصله کښې
چې صدیق او پیغمبر روانېدل
ابوبکر زوي ته داسې ووئیل
چې کفار کوي څۀ دلته قیل و قال
د شپې مونږ لره راوړې به دغه حال
د زوي نوم ئې سامعانو عبدالله ؤ
پلار ئې یار د محمد رسول الله ؤ
بل عامر بن فُهیره د دۀ مریے ؤ
دۀ به ګډې څرولې یو شپونکے ؤ
دې شپونکي ته ئې وې چې ګډې څروې تۀ
غار ثور ته ئې د شپې را رسوې تۀ
ګډې مونږ له راوله وفاداره!
مونږ به پۍ ترې نه رالوشو ځان د پاره
دا ئې ووې نو شپونکے شو خبردار
د شپې ووتل نبي او صدیق یار
غار ثور ته د شپې ورسېدل
ابوبکر ورته ننوت اول

دے چې وګوري څۀ مار لړم حيوان
پيغمبر ته چرې پيښ نۀ کړي نقصان
پۀ دې غار کښې دوي درې ورځې تيرې کړلې
هر ماښام به عامر ګډې وروستلې
شو قريشو نه غائب نبي سلطان
دوي انعام کښې مقرر کړل سل اوښان
کۀ چا مونږ ته کړو واپس نبي سلطان بيا
دے به وګټي انعام کښې سل اوښان بيا
چې کفارو به مکه کښې څۀ وئيلو
دغه حال به عبدالله ور رسولو
چې به فُهيره ګډې وروستلې ثور ته
بيا واپس به ئې راوستلې هغه کور ته
شو به وران د عبدالله د پښو نقشونه
چا به نۀ ليدل د دۀ د پښو خاپونه
کۀ به پيو کۀ به غوښې ته حاجت
دا خوارک ؤ د صديق او د حضرت
دغه شان درې ورځې تيرې شوې پۀ شمار
خلک لږ لږ شو د دوي نه پۀ قلار
کوم مزدور چې هغه دوه اوښې ساتلې
دۀ پۀ پټه غار ثور ته بوتللې
دا مزدور چې وفادار ؤ نهايت
خدائے ملګرے کړو د لارې د حضرت
دې مزدور لره اسماء بي بي نامدارې
خرڅ خوراک څۀ ورکوۀ ورله د لارې

اسماء لور د ابوبکر وه اے جانه!
دا وه خور د عائشې پهٔ پدر ګرانه
خرڅ خوراک ئې پهٔ تبلۍ کښې واچولو
دې پدر او پېغمبر لره لېږلو
د تبلۍ د خولې تړلو څهٔ ئې هېر شو
خدایه څومره د حیا وختونه تېر شو
سوچ ئې وکړو چې دا خلاصه نهٔ رسېږي
کهٔ خوراک لره څهٔ وي دا ترې توئېږي
څهٔ حصه د پرتوغانړ ئې څيرې کړله
پهٔ هغې ئې د تبلۍ خولهٔ وتړله
ورته وائي بي بي ذاتُ النِطاقېن
خدا ے به ورکاندي اجرونه پهٔ دَارېن
مزدور اوښې غار ثور ته کړې رسان
مدینې ته به ورځي نبي سلطان
صدیق پېش کړه پېغمبر ته اوښه غوره
وئېل ئې سور شه د کونېنو معتبره!
زما پلار مور دې لهٔ تا نه شي قربان
ځه سورېږه چې سفر ته جوړ کړو ځان
حضور پاک وفرمائیل پهٔ هسې شان
چې پهٔ څومره تا اخستې دي اوښان
یو پهٔ بیعه باندې راکړه چې مې خپل شي
مدینې ته به هله زمونږه تلل شي
صدیق وئېل پهٔ دومره شوي دي اوښان
زما پلار مور دې لهٔ تا نه وي قربان

پېغمبر واخستو اوښ د ځان لپاره
مدينې طرف ته دوي ونيوه لاره
يو مريے د ابوبکر ڤهيره ئې نوم ؤ
وفادار ؤ ابوبکر ته معلوم ؤ
صديق سور کړو ځان پسې ڤهيره يارانو!
ځار قربان شمه د داسې صادقانو
د اسماء بي بي نه دا دے روايت
چې رسول او پلار مې لاړۀ پۀ هجرت
زمونږ کور ته قرېش يو ډله کفار
ورسره ؤ ابوجهل لعين مردار
دروازه کښې زمونږ ودرېدل بې دين
ورسره دا ابو جهل ؤ لعين
ما ته ئې ووئيل چې پلار دې چرته تلے؟
ما وئېل دے قسم بهر به وي وتلے
دې خبيث ښکنځلې وکړې لعين ما ته
يو څپېړه ئې پۀ مخ را کړله زياته
چې د پوزې نه مې شو چارګل ګزار
پس د هغې شو روان دغه مردار
خو درې ورځې معلومات نۀ ؤ هېچا ته
چې حضور او پلار مې لاړل کومې خوا ته
ځلورمه ورځ شوه دا واوره بيان
يو پېرے د مکې ښکته را روان
څو شعرونه ئې د عربو پۀ ژبان
دۀ لوستل پسې مخلوق ؤ را روان

دے چا نۀ لید خو اواز به ئې اورېدنه
بل طرف ته د مکې لاړ ووتنه
دا شعرونه ئې پۀ خوند خوند ولوستل
اسماء وائي مونږ پۀ غوږو اورېدل
اسماء وائي دا شعرونه د پېري وو
مونږ چې واورېدۀ بې حده اثري وو

جَزَى اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ خَيْرَ جزَائِه
رَفِيْقَيْنِ حَلَّا خِيْمَتَي أُمِّ مَعْبَد

جزا دې ورکړي الله چې د بنيادم دے الله غوريزه
هغه دوه ملګرو له چې ام معبد خيمې ته ورغلي وو

هُمَا نَزَلَاهَا بِالْهُدىٰ فَاهْتَدَتْ بِه
وَ افْلَحَ مَنْ أَمْسىٰ رَفِيْق مُحَمَّد

مونږه پوه شو چې نبي دوست د غفور
مدينې طرف ته تلے دے حضور
درې ملګري د حضرت رسول الله وو
ابوبکر، دوېم عامر، درېم عبدالله وو
ابوبکر صاحب زوے د قحافه ؤ
د عامر د پدر نوم ئې فهيره ؤ
عبدالله ورونو فرزند د اريقط ؤ
چې ملګرے دے د پاک حضور سره ؤ
لور بي بي د ابوبکر وائي حال
څۀ چې مونږ سره پۀ کور کښې ؤ نقد مال
تقريباً چې روپۍ شپږ زره وې جانه!
پلار مې واخستې هغۀ سره د ځانه

بیا نیکۀ مې قحافه راغلے دننه
چې دے ړوند ؤ څۀ ئې پۀ سترګو نۀ لیدنه
دۀ وئېل تاسو ئې خفه کړلئ پۀ ځان
د پېسو ټکو ئې هم کړلئ اریان
ما وئېل اے بابا! پلار مونږه ته لوے خبر
دولت پرېښے دے د حده ځینې ډېر
چې کوم تاخ کښې به پېسې مې پلار کېښولې
کله کله به بابا زمونږ کتلې
پۀ هغې تاخ کښې مې ګټې کړې را جمع
دا مې خیال ؤ چې بابا به ور ولمه
پۀ دې کاڼو مې جامې کېښودې پاس
ما بابا ته وئېل پۀ دې ووهه لاس
بابا لاس چې پرې واهۀ وئېل مال خو ډېر دے
ستاسو کار چې پرې روان وي نو بیا خبر دے
حال ؤ دا چې مونږ ته ئې هېڅ نۀ وو پرېښلي
څۀ چې وو ټول ئې د ځان سره وو وړلي
ما نیکۀ له تسلي بس ورکوله
هسې نۀ چې حوصله ئې شي بدله
ما پۀ کاڼو خپل نیکۀ خوشحالولو
رزق مونږ لره الله ښۀ راکولو
برقه! پوهه شه الله روزي رسان دے
دے متل، بنده اریان خداے مهربان دے

سراقه او حضور

سراقه وائي چې حضور د مکې تللو
هېڅ درک ئې چا ته نۀ معلومېدلو
سراقه د مالک زوے کوي بيان
پۀ انعام کښې مقرر شو سل اوښان
ابو جهل مقرر کړو دا انعام
کۀ واپس کړو چا نبي خېر الانام
کۀ واپس کړو چا مکې ته خېر الناس
سل اوښان به هغه کس وګټي خاص
سراقه وائي يو مجلس کښې زۀ د قام
يو سړے راغے هغۀ وکړو کلام
دې سړي ووې قسم دے يو درې تنه
پۀ ما راغلۀ پۀ اوښانو سوارۀ تلنه
پۀ ما تېر شو خو زما پرې دا ګمان ؤ
څۀ ئې ملګري يو نبي آخر زمان ؤ
سراقه وائي ما سترګه کېمنډله
دې سړي ته چې تۀ ډېر ګړېږې څۀ له؟
ما وئېل دا خو د فلاني قام څو کسانو
چرته ورکه شوې وه د غريبانو
دوي د ورکې پۀ لټون کښې ګرځېدل
سړے چپ شو نور ئې هېڅ و نۀ وئيل
سراقه وائي بيا غلے پاڅېدمه
دا مې خيال ؤ چې به زۀ انعام ګټمه

کور ته راغلم ما وئېل اس زين کړئ في الحال
او فلانئ کته پرې واچوئ سمبال
خپله زغره مې مضبوطه واغوستله
بيا وسله مې د کور شا ته وغوښتله
چې کوم غشي ما پۀ فال باندې نېول
د هغې نه به ما غشي راويستل
کمر بند نه چې ما غشے کړو بهر
پۀ هغې ليک ؤ چې نشته دے ضرر
ما وئيل حضور به اوس راګرځؤم زۀ
دا انعام به د قرېشو نه ګټم زۀ
پسې سور شوم اس مې تېز کړلو بې شانه
اس مې وښوېد زۀ ارتاو شوم ناګهانه
بيا مې بل غشے را وويست پسې زر
پۀ هغې ليک ؤ چې نشته دے ضرر
بيا پسې شومه روان پۀ تېزه منډه
نو دا اس مې پۀ يو ځاے کښې شو کرکنډه
اس مې وښوېد زۀ ترې ښکته پرېوتمه
بيا د خاورو نه خړ پړ را پاڅېدمه
غشے درېم مې د مياني نه کړو بهر
پۀ هغې هم ليک ؤ نشته دے ضرر
داسې تېز ورپسې بيا شومه روان
چې ما وليدۀ د خداے هغه دوستان
ور نزدې شومه او دوي مې وليدنه
د اس پښې شولې پۀ زمکې کښې دننه

مخکښې پېښې د اس مې زمکې راښکې ښکته
زۀ ترې پربوتم پۀ زمکه د هېبته
یو لوګے را پورته شو سیلۍ او دُهند
ما وئیل ګنې پۀ سترګو شومه ړوند
چې دا حال مې ولید پوهه شوم پۀ ځان
ما وئېل دوي ته رسېدل دي زما ګران
بیا آواز مې ورکړو زۀ خو سراقه یم
د جعشم زوے راته وګورئ هغه یم
هېڅ فرېب دهوکه به نۀ کړمه د سره
ما ته ودرېږئ! کؤم درته خبره
نۀ به ما نه در رسېږي څۀ نقصان
اوس پۀ خپله اراده شومه پښېمان
پېغمبر ووې، صدیقه! ورته وایه!
چې تۀ څۀ غواړې، مطلب دې راته ښایه!
ابوبکر ما ته ووې چې څۀ غواړې؟
واپس نۀ شولې پۀ ځاے باندې ولاړ یې
ما وئېل غواړمه زۀ ستا د لاس لیکل
دغه نخښه به ساتم ځان سره تل
حضور ووئیل صدیقه! لیکل ورکړه!
سراقه چې سوال کوي حاجت ئې سر کړه!
پۀ هډوکي یا کوندري ولیکل
ما ته لرې نه صدیق وغورځول
ما را واخستل هغه مې کړۀ سمبال
د قرېشو نه مې پټ کړو دغه حال

واپس راغلمه مکې ته برابر
يو سړے زما په راز نۀ ؤ خبر
دغه راز مې پټ ساتلے بدستور
چې مکه فتح شوه بيا راغے حضور
د حُنېن او د طائف د غزاګانو
شو فارغ هغه بادشاه د دو جهانو
مکه فتح شوله راغے پېغمبر لوے
ورسره انصار فوځونه وو لښکر لوے
سراقه وائي چې ما هغه ليکل
په خپل لاسو دوباره را واخستل
نيت مې دا ؤ رسؤم رسول ته ځان
د انصارو ؤ لښکر عظيم الشان
د انصارو په لښکر ننوتلم
په نيزو يو بل طرف ته ئې وټومبلم
ما ته ئې وئېل قربشه څۀ کړې څۀ دې کار دے
تۀ چې مخکښې زور کوې دا څۀ اسرار دے
ما په دې تېل جُت کښې ورسوۀ ځان
په يو اوښ باندې ؤ سور نبي سلطان
خط مې ورکړو ما وئېل دا دې ستا ليکل
سُراقه د جُعشم زوے يمه بالکل
ما ته ئې وئېل ورځ د نېکۍ او د وفا ده
را نزدې شه! کۀ څۀ غواړې موقع دا ده
ور نزدې شومه اسلام مې کړو قبول
ما ايمان راوړو په خداے او په رسول

سراقه وائي قسم پهٔ پاک اکبر
دا ښائسته سپینې پنډۍ د پېغمبر
چې تر اوسه لا زما دي پهٔ نظر کښې
نهٔ ما دا حُسن لیدلے دے پهٔ نمر کښې
ؤ یو سوال زما پهٔ زړهٔ کښې هېر مې شونه
صرف د یو خبرې و مې کړه پوښتنه
هغه دا چې یو ورک شوے اوښ د چا وي
خپل اوښان خړوبؤم او تږے دا وي
هغه اوښ چې زهٔ خړوب کړمه رسوله!
دا نېکي به زما رب ته وي قبوله؟
بیا حضور پهٔ هسې شان وفرمائیل
د هر تږي پهٔ خپل لاس خړوبول
اجر شته د هغه لوے الله د دره
سپکه و نهٔ ګڼې چرې دا خبره
سراقه ترې نه واپس شولو مکې ته
پېغمبر پهٔ سفر تللو مدینې ته
برقه! زړهٔ د سراقه شولو پرهر
حضور لاړو مدینې ته برابر

د حضور مدینې ته رسېدل

اصحاب پهٔ مدینه کښې شو خبر
چې مکې نه را روان دے پېغمبر

را روان دے مدينې ته وې په لار
اصحاب شو ورته ټول په انتظار
د سحر نمونځ به چې وشولو وتل به
يو ډهېرۍ سره په خوا کښې کښېناستل به
يو ډهېرۍ سيوري ته دوي به کښېناستل
چې به نمر شو نو واپس به ترې راتلل
يوه ورځ چې سيورے ختم شولو وروره!
هر سړے شولو واپس تر خپله کوره
دا موسم ؤ د ګرمۍ، ګرمي وه زور
هر سړي به تېروله غرمه کور
وخت غرمه ؤ خلک ټول وو کور ته تلے
داسې وخت ؤ پېغمبر چې راغلو ښکلے
کوم ورومبي سړي چې وليد پېغمبر
يهودي ؤ، قصه واوره برابر
يوه چغه ئې په زوره ووهله
انګازه ئې چې چاپېره شورېدله
چغه ئې وکړه اے قبيله! شئ خبر
مدينې ته راغے ستاسو پېغمبر
سمدستي را ووتل اصحابان
وې ليدلو پاک نبي آخر زمان
ستړي مۀ شئ! سلامونه به ئې وئيل
ډلې ډلې به انصار را چلېدل
بعضې خلکو پېغمبر نۀ ؤ ليدلے
ابوبکر سره نۀ شو پېژندلے

دوي پۀ عمر برابر وو سره جانه!
فرق ئې چا کولے نۀ شو پۀ اسانه
د کهجورې سيورے ؤ د دوي پۀ سر
عقوبت چې پۀ نبي ښکاره شو نمر
صديق خپل څادر را کوز کړو هغه آن
سيورے ئې وکړو پۀ سردار د دو جهان
خلکو وپېژندو چې دا رسول الله دے
عربي، قرېشي، هاشمي اعليٰ دے
مانده شوې وه سورلي د پاک سلطان
يو سړے ؤ نوم ئې 'اوس' واوره بيان
هغۀ کړو نبي پۀ خپله سورلۍ سور
خپل مريے ئې ورسره کړلو بالفور
مدينې ته چې ور ورسېد حضور
پۀ قُبا کښې هلته کوز شو د رب نُور
دا د ربيع الاول وه دولسمه
يا به وه د هغې مياشتې ديارلسمه
دوي چې ورسېدل ټکنه غرمه وه
مدينې کښې جوړه لويه هنګامه وه
مدينې کښې کلثوم زوے د هدم
شو هغۀ کره دېره نبي اکرم
بس کلثوم د هدم زوي کره دېره شو
د مکې د مشرکانو کناره شو
کۀ بهر خلکو سره به کښېناستلو
مشهور کور د سعد به يادېدلو

د سعد صاحب پهٔ کور کښې به حضور
ملاقات کړلو هر چا سره ضرور
ځکه دغه سړے غېر شادي شده ؤ
پهٔ دې وجه پېغمبر به ورکره ؤ
دغه کور پهٔ جرګانو ؤ حساب
مشهور ؤ پهٔ نامه منزل انواب
مهاجر به چې بې ښځې وو بې کوره
دا به هم پهٔ کښې دېره وو زما وروره!
د بې ښځو خلکو دغه يو دېره وه
مطلب دا د ناستې پاستې يو حجره وه
ابوبکر د خُبېب کور کښې دېره شو
نوم د کلي 'مدينه منوره' شو
پهٔ کښې برقه! د نبي پاک سکونت شو
مدينه منوره ثاني جنت شو

د حضرت علي هجرت

راشه واوره! د علي د هجرت حال
پهٔ مکه کښې ؤ دا درې ورځې اتال
علي ځکه ځان نه پاتې کړو حضور
خپل خپل مال هر چا ته ور به کړي ضرور
پهٔ مکه کښې ايسار دې د پاره وونه
ور ئې کړل د هر چا امانتونه

د نبي سره به خلكو امانت
كېښودۀ، پۀ دۀ كښې نۀ ؤ خيانت
د كفارو هم پۀ دۀ باندې يقين ؤ
لوے خطاب ورته ځكه د آمين ؤ
علي وركړل د كفارو امانت
پۀ ذمه چې وو د پاک نبي حضرت
چې قرضونه وركړۀ خلكو له حېدر
مدينې ته بيا روان شو پۀ سفر
مدينې ته چې علي شولو روان
اول ورغے ليدو له د سلطان
د كلثوم كور ته ورغلے علي بيا
د حضور زړۀ ته حاصل شوه خوشحالي بيا
علي دوه شپې پۀ قبا كښې شو اتال
يو بي بي كره پۀ كور كښې واوره حال
تاريخ ليكي وه دا ښځه مسلمانه
بې خاونده وه، قصه واوره زما نه
د علي د خولې نه دا دے روايت
ما پۀ دې ښځه كښې وليد يو عادت
د شپې دې ته به تمبه وټنګېدله
دغه ښځه به بهر ور ووتله
بهر دې به چا سره وكړې خبرې
پوه پۀ دې نۀ وم چې نزدې به وه كۀ لرې
ځۀ به ئې وركړۀ بيا به دا راغله دننه
ما د شک پۀ وجه وكړه ترې پوښتنه

ما وئېل اے د خدائے بندې! دا څوک راځينه؟
نيمه شپه کښې چې تمبه تا ته وهينه
دا سړے وايه د شپې څۀ راوړي تا له؟
ما خبر کړه اے بي بي! د حال احواله
ما وئېل دا يو زنانه ده مسلمانه
هسې نۀ چې پۀ غلطه وي روانه
ښځې ووې، دا سړے نوم ئې سهېل دے
د وحدت چمن کښې دا ګل د رامبېل دے
اے علي! واوره حنيف د دۀ پدر دے
دا زما پۀ ناچارۍ باندې خبر دے
دا سهېل د شپې د قام هغه بُتان
د لرګو چې چا جوړ کړي دي خدايان
دا ئې مات کړي چې خشاک شي برابر
بيا پۀ خپله دغه پنډ کړي را پۀ سر
د خشاک د پاره ئې ما لره راوړينه
دا نېکي سهېل زما سره کوينه
د خشاک حاجت زما پرې پوره کېږي
دي د پاره دا تمبه ما ته ډبېږي
پۀ عراق کښې سهېل قتل شو وفات
بيا علي کړل بيان دغه واقعات
برقه! ياد کړه د سهېل غوندې ځوانان
چې خشاک به ئې کړو کونډو له بُتان
تاريخ ليکي تاريخ دان پۀ هسې شان
پېغمبر چې مدينې ته شو رسان

قبا کښې قيام

پۀ قبا کښې شو ايسار پاک پېغمبر
دغه قام به يادېدو بني عمر
څلور ورځې ئې تېرې کړې د برکت
ګل، نهه او شورو، بله زيارت
د جومات د پاره ئې کېښودو بنياد
اوس پۀ 'مسجدِ قبا' باندې دے ياد
پۀ پينځمه ورځ الله دوي نه جدا کړو
د جمعې نمونځ ئې سالمو کښې ادا کړو
دا بني سالم يو ببله قبيله ده
خپل جدا جدا وطن ئې مدينه ده
سالم قام وکړه جرګه پۀ پېغمبر
دوي وئېل مونږ کښې شته ځوانان ښۀ طاقتور
کۀ دې مونږ سره اختيار کړلو قيام
ستا د وړاندې به ځان وژني زمونږ قام
پېغبر وئېل چې څۀ رب ته وي منظوره
ده د خدائے طرف نه دا اوښه ماموره
بيا دوي پرېښوده نو اوښه شوه روانه
قبيلې بني نباض ته شوه رسانه
بيا د دغې قبيلې څۀ مشران
عرض وکړلو پۀ پاک نبي سلطان
دوي وئېل مونږ سره استوګنه کړه اختيار
پېغمبر وئېل د الله دے دغه کار

اوښه پربړدئ! دا پۀ خپله ده ماموره
ځي به هلته چې الله ته وي منظوره
هغوي پرېښوده پۀ وړاندې اوښه تلله
د ساعده قام پۀ کورونو ورغلله
دغه قام وکړو درخواست نبي سرور ته
نبي وئېل چې مې الله رسوي چرته
اوښه شوه بني حارثو ته قريبه
هغوي وئېل مونږ سره پاتې شه حبيبه!
حضور ورکړلو هغوي له دا جواب
ورته ئې ووې دا رضا ده د وهاب
اوښه شوه بني النجار و ته رسان
چې د پاک پېغمبر دا وو ماماګان
هغوي پېش رشته داري کړه ورته خپله
اوښه نۀ ودرېده مخه باندې تلله
عرض دا بني مالک يو قبيله وه
اوښه چو شوله د خدا ے دا فېصله وه
پۀ کوم ځا ے چې دغه اوښه کښېناستله
نبي کوز نۀ شو نو بيا اوچته شوله
لږه لاړله يو څو قدمه بس
خو پۀ خپله باندې بيا شوله واپس
بيا پۀ هغه ځا ے کښې کښېناستله جانه!
د کوم ځا ے نه چې پۀ مخکښې شوه روانه
دې پۀ زمکه بيا مرۍ وغورځوله
پاڅېده به نۀ، دا اوښه بررېدله

پۀ کوم ځاے چې اوښه ناسته د حضرت
اوس پرې جوړه دروازه ده د جماعت
د مسجد نبوي پرې دروازه ده
دغه ځاے د هغه اوښې اندازه ده
دغه ځاے ؤ د دوه تنو يتيمانو
چې پرې درمند ؤ د هغه هلکانو
د معاذ پۀ تربيت کښې اوسېدل
پۀ سهل سهېل به دواړه يادېدل
معاذ ؤ د عفرا زوے واوره بيان
تربيت کښې ئې وو دا دواړه هلکان
سهل سهېل دواړه زامن د عمرو وو
تاريخ ليکي دغه درمند د هغو ؤ
معاذ وئېل دا هلکان به زۀ رضا کړم
څه عوض به د دې ځاے ورته ادا کړم
چې معاذ کړل رضا دا هلکان
پېغمبر پرې بيا شروع کړلو مکان
دغه ځاے شوه اوښه چو، نۀ پاڅېدله
تر هغې چې ترې نبي کوز شو پۀ خپله
چې نبي د اوښې کوز شو کوم زمان
کور ته يوړو ترې ابو ايوب سامان
د ابو ايوب چې نوم ئې خالد وونه
د نبي سامان ئې کور ته کړو دننه
دا سامان ئې کړو سمبال د پاک حبيب
دغه فيض ابو ايوب ته شو نصيب

يتيمان چې ښۀ پخلا کړل معاذ
حکم وشو چې مسجد کړئ دلته ساز

مسجد نبوي جوړول

ابادۍ باندې شروع کړو خلکو لاس
کار پۀ خپله پۀ کښې هم کړو خیر الناس
دریغه برقه! هغه کار کښې تۀ شامل وے
دغه فیض او سعادت درته حاصل وے
د نبي پۀ کار د خلکو شو رغبت زيات
بيا انصار مهاجرينو کړو محنت زيات
جماعت کورونه هم ابادېدل
هر مؤمن پۀ کښې ثواب حاصلول
قصه واوره د عمار بن ياسر
يوه ورځ نبي کريم ته شو حاضر
زۀ دې خښتو ګټو ستړے کړم بې شانه
دا فرياد مې واوره تۀ آخر زمانه!
قتل کړم دوي پۀ درنو بوجونو وړلو
چې پۀ خپله ئې نۀ وي دوي د اوچتولو
لوے رسول پۀ مبارکو لاسو خپلو
د عمار د سر وېښتۀ ئې وڅنډلو
حضور وفرمائيل دۀ ته هسې شان
واوره اے د سميه زويه! بيان

قتلولے نۀ شي تا چې مسلمان وي
بې لۀ هغې يو فرقې نه چې باغيان وي
چې علي شېر خدا به کار کولو
داسې صوت به ئې پۀ کار کښې غړولو

لَا يَسْتَوِي مَنْ يَعْمُرُ الْمَسَاجِدَا
يَدْأَبُ فِيْهَا قَائِماً وَ قَاعِدًا
وَمَنْ يَّرىٰ عَنِ التُّرَابِ حَائِدًا

د علي د شعر معنيٰ ده پۀ دا شان
چې لۀ دې ګردونو و نۀ ساتې ځان
دا ګردونه چې پۀ چا دي پربوتلي
د دې پاکو نه دي يو پۀ سله ښکلي
بيا عمار بن ياسر به کار کولو
بس لګيا به ؤ دا صوت به ئې غړولو
داسې شک د يو سړي راغے پۀ ځان
چې دا ما پورې کوي دغه بيان
ورته ئې وئېل، د سمه زويه عماره!
د مور نوم ئې ورته ياد کړلو د قهره
دا همسا به مې ستا پوزې ته در رسي
داسې کار درسره کوم چې څۀ مې وس وي
حضور پاک پۀ دې خبره شو پۀ قار
وئېل عمار سره د چا نشته دے کار
دے جنت ته بلي خلک پاک دامن دے
دے زما د سترګې پوزې منځ څرمن دے

دا سړے چې شو خبر د دې بيانه
بيا په خپله وېنا ډېر شولو پښېمانه
وئېل ئې بيا به داسې و نۀ کړم خبره
زۀ معافي غواړم د دوه کونو سروره!
خالد وائي هغه پاک نبي روېدار
دۀ استوګنه زما کور کښې کړه اختيار
لاندې کور مې کړو خالي پاک پېغمبر ته
مونږ ترې وختو د لاندې چت نه بر ته
بيا مو زړۀ کښې کړه محسوس دغه خبره
مونږ اوسېږو ولې پاس د پېغمبره؟
ما حضور ته درخواست وکړو هسې شان
پلار او مور مې شه پۀ تا باندې قربان!
مونږ ته بدي ښکاري ځان چې اوسو بره
کۀ تۀ پاس لاړې نو ښه به وي سروره!
دغه بره چت کښې تۀ اوسه نامداره!
تا نه کوز اوسېدل ښۀ دي مونږ د پاره
دې ابو ايوب چې وکړو دا درخواست
پۀ جواب کښې ورته اووې خبر الناس
حضور پاک ورته بيا دا وفرمائيل
مونږ د پاره ښۀ دي ښکته اوسېدل
ما ته دلته اوسېدو کښې اسانتيا ده
کۀ څوک ځي راځي نو ستا کوځه پنا ده
پېغمبر چې راته وکړو دا ګفتار
زړۀ زما ابو ايوب شو پۀ قرار

د ابو ایوب د خولې وېنا ده ګله!
یو چاټئ د اوبو ډکه مونږ ساتله
چاټئ ماته شوه، اوبۀ ترې وبهېدلې
پۀ څادر به مونږه زر زر را وچولې
مونږ وئېل توې نۀ شي څڅوېږ پۀ حضرت
هسې نه چې ورته ورسي زحمت
هېڅ بړستن مړستن زمونږ نۀ وه د سره
کور کښې هېڅ نۀ وو بغېر د یو څادره
اوس د رزق وائي حال ابو ایوب
ؤ زمونږ کره دېره د رب محبوب
ماسخوتن به چې تیار کړو مونږ طعام
مونږ به مخکښې کړو د پاک خېر الانام
چې واپس به طعام راغے د نبي نه
مونږ به خوړ هغه طعام پۀ ډېره مینه
چې د ګوتو به پۀ کښې جوړ وو خاپونه
مونږ به هغه ځاے نه وکړۀ خوراکونه
چې د ګوتو به پرې خاپ د پېغمبر ؤ
بس خوراک به دا زما او د ټبر ؤ
تبرک د پاره دا به مونږ خوړلو
دغه فېض به مونږ ته خداے حاصلولو
یوه شپه چې مونږ طعام ور ولېږونه
شاید د اوګې څۀ اثر به پۀ کښې وونه
چې طعام راغے واپس ما وکتل
مخکښېني خاپونه نۀ پرې ښکارېدل

وار خطا شومه په منډه ورغلمه
د نبي د لاسو پښو قربانېدمه
ما وئېل مور او پلار مې تا نه شه قربان!
ستا د لاسو په طعام نښته نشان
ما کړه پوښته کۀ څۀ شوے وي قصور
داسې وفرمائيل ما ته بيا حضور
په طعام کښې وو د اوګې اثرات
زۀ د خداے سره کؤمه مناجات
ما ته ئې ووې تاسو ئې وخورئ دي حلال
مونږه بند کړو بيا د اوګې استعمال
برقه! داسې اصحاب وو د حضرت
چې پوهېدل د پېغمبر په اشارت

مدينې ته د مهاجرينو جمع کول

نبي چې مدينه کښې سکونت شو
د مکې په مشرکانو جوړ هېبت شو
په مکه کښې پاتې نۀ شو مسلمان
بې د هغو نه چې وو په کښې قېديان
يا په زور ئې اړولي د اسلامه
منکر کړي ئې دوباره د حق کلامه
بې د هغو خلکو نۀ ؤ مسلمان سم
هر سړي ؤ تالا کړے خپل مکان سم

يو پۀ دوي کښې عبدالله بن حاجش ؤ
چې دا زوم د ابو سفيان غوندې سرکش ؤ
د دۀ کور خرڅ کړو خپل سخر ابو سفيان
مال ئې واخست نو پۀ ښه ئې کړو د ځان
عبدالله شو مدينه کښې ترې خبر
دۀ فرياد وکړو پۀ مخکښې د سرور
عبدالله ته پېغمبر وفرمائيل
کۀ خدائے غوره کور د دې کور پۀ بدل
پۀ جنت کښې عبدالله در کاندي تا له
پۀ هغې کور به بيا هم نۀ يې خوشحاله
عبدالله ووې کۀ داسې وي نو ښه شوه
بيا حضور وفرمائيل چې بس ستا وشوه
کله فتح چې مکه شوه واوره حال
عبدالله وکړو خپل کور د پاره سوال
هېڅ و نۀ وئېل پېغمبر د دۀ ګفتار کښې
خلکو ووې ما بخښلے د خدائے لار کښې
خلکو ووې چې دا بد ګڼي حضور
چې کوم مال د خدائے پۀ لار کښې شي منظور
هغه مال غواړي څوک بيا واپس کول
شو پښېمانه عبدالله پۀ خپل وئيل
دوباره ئې څۀ و نۀ وئېل پېغمبر ته
چې دا کور دې ما ته راکړے شي پۀ ببرته
البته يو څو شعرونه ئې ووئيل
دا ئې خاص ابو سفيان ته واورول

اَبْلِغْ أَبَا سُـــــفْيَانَ عَنْ أَمْرٍ عَوَاقِبَهٌ نِدَامَه
دَارُ ابْنِ عَمِّكَ بِعْتَهَا تَقْضِيْ بِهَا عَنْكَ الْغَرَّامَه
وَ حَلِيْفُكُمْ بِاللهِ رَبِّ النَّاسِ مُجْتَهِدُ الْقَسَّامَه
اِذْهَبْ بِهَا، اِذْهَبْ بِهَا طَوْقَـــتُهَا طَوْقَ الْحَمَامَه

مدينې ته چې نبي خيرالبشر
تشريف راوړو قصه واوره سراسر
مياشت د ربيع الاول وه زما ورورہ!
ځان خبر کړه د الله رسول د زوره
دولسمه چې کېده واړه انصار
داسې کور نۀ ؤ چې نۀ ؤ ايماندار
صرف د 'اَوس' قبيلې پاتې ؤ يو خېل
چې هغوي د شرک پۀ لومه کښې وو ښکېل
دغه يو خېل پاتې شوے مشرکانو
نور خېلونه همګي مسلمانان وو
مدينه منوره کښې پېغمبر پاک
وړومبۍ خطبه لوسته دوست د اکبر پاک

د حضور پۀ مدينه کښې وړومبۍ خطبه

اول دۀ د خدائے ثنا حمد وئيل
پس لۀ هغې نه ئې دا وفرمائيل
وئېل اے خلکو! څۀ توښه د ځان د پاره
مخکښې ولېږئ صفا کړئ ځان ته لاره

دے قسم پۀ خدائے تپوس به درنه کېږي
قیامت شته هر څوک به خدائے ته حاضرېږي
هېڅ حجاب پرده به نۀ وي د انسان
نۀ د خدائے د انسان منځ کښې ترجمان
خدائے به وائي، ما رسول نۀ ؤ درلېږلے؟
نۀ ئې حکم ؤ زما در رسولے؟
ما د مال فضل ؤ کړے پۀ تا باندې
تا د ځان د پاره څۀ لېږلي وړاندې
دا سړے به ښي او کيڼ طرف ته ګوري
خو چې مخکښې ګوري مخکښې به ئې اور وي
د دوزخ نه بغېر هېڅ به نۀ وي نور
ځان پۀ څۀ بچ کوئ نن د هغه اور؟
کۀ د چا وس د کهجورې يو ټکړه وي
چې دا هم نۀ وي، خبره دې خوږه وي
يو پۀ لسه باندې اجر ئې عظيم دے
تر اووۀ سوه پورې رب کریم دے

د یهودو سره معاهده

د یهودو مهاجرو منځ کښې جانه!
معاهده وکړه نبي دا هسې شانه
کۀ قرېش وي کۀ انصار مسلمانان
تابعدار وي د نبي آخر زمان

دغه ټول مسلمانان به وي يو ډله
پهٔ دې شان معاهده ئې ولیکله
یهودیان دې کوي خپل دین خپل رواج
مؤمنان د هغې هېڅ نهٔ دي محتاج
د قرېشو د غاښ ماتي د سر ماتي
ټول پهٔ خپلو طریقو به معاملات وي
انصاف کېږي به خلاصي کښې د قېدیانو
د قرېشو د انصارو مؤمنانو
یهودیان دي قبیلې قبیلې کار خپل
دین کوي چې څهٔ کوي د نیکهٔ پلار خپل
کهٔ مؤمن باندې زور ظلم مصیبت وي
مؤمنان به ورته یو موټے طاقت وي
کهٔ دا ظلم والا وي د چا پسر خپل
خو د دهٔ خلاف جنګېږي به پدر خپل
کهٔ یهود کوي زمونږ مطابعت
مونږ به نهٔ کړو د هغوي مخالفت
د کافر پهٔ بدله کښې به مؤمن څوک
دا به نهٔ وژني کهٔ وي زمونږ پهٔ دین څوک
کهٔ بې وجې نه چا قتل کړو مؤمن
اخستے به شي قصاص وکړه یقین
کهٔ یهود شریک وي مونږ سره غزا کښې
خپل مالونه خرڅ کوي پهٔ لاره دا کښې
بیا پهٔ مال غنیمت کښې ئې حصه ده
د یهودو سره دغه فېصله ده

مدینه باندې کۀ چا حمله کوله
مونږ به ئې تړول مقابله کوو پۀ خپله
پۀ دې شان وشوله صلح او لیکل
د یو بل نه ئې دستخطونه واخستل

د انصارو او مهاجرینو وروروليي

دې دوران کښې پېغمبر داسې کول
مهاجر انصار ئې وروڼه جوړول
دوه دوه تنو وروروليي جوړه کړله
د انصارو مهاجرو زما ګله!
دې دوران کښې بس یو مشر د انصارو
شو وفات چې ملګرے د روېدار ؤ
بیا خبرې کړې شروع منافقانو
د نبي مخالفینو یهودیانو
هغوي وئېل کۀ پېغمبر وے دے ښکاره
مړ به نۀ وے اسعد بن ضراره
پېغمبر وفرمائیل پۀ هسې شان
نۀ ملګرے خلاصولے شم نۀ ځان
زۀ پۀ دې خبره نۀ یمه ماموره
هغه وشي چې څۀ رب ته وي منظوره
د اسعد د مرګ نه پس بن نجار
پېغمبر له راغلۀ دوي، واورئ ګفتار

ورته ئې وئېل زمونږه مشر شو وفات
اوس بل مشر ته زمونږ دي ضروريات
پېغمبر وئېل، ماماګان زما يادېږئ
يو زهٔ تاسو لره ښهٔ يم کهٔ پوهېږئ
اوس پهٔ تاسو کښې زما دے سکونت
د بل مشر به هېڅ نهٔ وي ضرورت
فخر ډېر پهٔ دې کولو نجار قام
چې نصيب مو شو نبي خېر الانام
برقه! شو بني نجار خوشحاله زيات
خدا ے ئې مشر کړو بادشاه د کائنات
پېغمبر چې مدينې کښې شو مقيم
بيا انصارو اسلام هم کړلو تسليم
مهاجر او انصار ورونړه برابر شو
نمونځ روژه زکات پرې فرض د اکبر شو
اسلام هم پهٔ مدينه کښې مستحکم شو
چې مقيم پهٔ کښې نبي خېر الامم شو
چې نمانځهٔ ته مؤمنان جمع کېدل به
اذان نهٔ ؤ څوک پهٔ وخت نهٔ پوهېدل به

د اذان بيان

دې د پاره پېش کېدل به تجوېزونه
چا د ور د نغارې وکړۀ ذکرونه
چا تجويز کړو د ناقوس د غږولو
دغه څيز خلکو مکروهه وګڼلو
دوي پۀ دې فکر سودا کښې وو غرقاب
عبدالله بن زېد وليد داسې خواب
پۀ دؤ راغے عبدالله رسول الله ته
ما بېګا ليدلے خوب دے وايم تا ته
ما بېګا خوب کښې ليدلے دے يو ځوان
شنې جامې ناقوس پۀ لاس کښې ؤ روان
ما وئيل بنده د خدائے! دا خرڅوې تۀ
دې سړي راته وئيل څۀ پرې کوې تۀ
ما وئيل نمانځۀ ته خلک پرې بلم زۀ
هغۀ وئېل د دې نه ښۀ درته ښايم زۀ
دۀ اذان کليمې کړې راته بيان
يا رسوله! تا له را مې وړو فرمان
پېغمبر وئېل دغه حق خوب دے نېک رايه
تۀ حضرت بلال ته دا کليمې ښايه!
تۀ د دې کليمو کړه ورته بيان
دے به وکړي پۀ اوچت اواز اذان
بلال ودرېدو اذان ئې ووئيلو
عمر دا اذان پۀ کور کښې واورېدلو

پهٔ توندۍ شولو د كوره رابهر
ورپسې وروستو راښكلے شو ځادر
دے پهٔ منډه پېغمبر له را روان ؤ
عمر وئيل خوب مې ليدلے پهٔ دا شان ؤ
دے قسم پهٔ هغه ذات پاكه حبيبه!
چې ئې كړه پېغمبري تا ته نصيبه
ما هم دا كليمې خوب كښې وې ليدلې
چې بلال كومې اذان كښې ووئيلې
حضور وفرمائيل نشته دې كښې شك
فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ عَلٰى ذٰلِكَ
دا هم وفرمائيل شاهِ انبياء
قَدْ سَبَقَكَ بِذٰلِكَ الْوَحْي
اے عمره! تا نه مخكښې وحي ما له
وه راغلې، تهٔ پرې هم اوسه خوشحاله
چې بلال به د سحر اذان كولو
د مسجد خوا كښې كوټې ته به ختلو
دغه كور د يوې داسې زنانه ؤ
جماعت ته پهٔ ټول كلي كښې ښځلمه ؤ
ښځه وه، بني نجار د قبيلې وه
حياناكه خوش اخلاقه وه د خولې نه
د بي بي د خولې نه دا دے روايت
چې د شپې به بلال كښېناستو پهٔ چت
تر هغې پورې به دهٔ كړو انتظار
اندازه به چې ښكاره شوه د سحار

نو حضرت بلال به بیا وکړو اذان
جماعت له به راتلهٔ بیا مؤمنان
هره شپه ؤ د بلال دغه دستور
برقه! داسې عاشقان وو د حضور

د صرمةؓ ابو قیس بیان

صرمة نومې یو شاعر ؤ مدینه کښې
ؤ راهب د جهالت پهٔ زمانه کښې
د وړۍ تورې جامې ئې اغوستلې
چې د تورو وېښتو دا به جوړېدلې
ترک کړې دې شاعر بُت پرستي وه
هغه وخت سره دا هم یوه هستي وه
جنابت نه به یو دهٔ غسل کولو
لهٔ حائضو ښځو ځان به ئې ساتلو
دهٔ یو کور نه ځان له جوړ کړو جماعت
نهٔ ورتلهٔ به څوک ناپاکه جنابت
اراده ئې کړې وه داسې یو ځل
خو دا نهٔ وه پهٔ نصراني دین کښې شامل
مدینې ته چې داخل شولو حضرت
دهٔ پرې راوړلو ایمان هغه ساعت
بیا پهٔ دې کښې ډېر شعرونه دهٔ وئیلي
چې د هغې نه یو څو دې ما لیکلي

ثَوَى فِي قُرَيْشٍ بِضْعَ عَشْرَةَ حِجَّةً
يُذَكِّرُ لَوْ يَلْقَى صَدِيقاً مُؤاتِيا
وَيَعْرِضُ فِي أَهْلِ الْمَواسِمِ نَفْسَهُ
فَلَمْ يَرَ مَنْ يُؤْوِي وَلَمْ يَرَ داعِيا
فَلَمّا أَتانا أَظْهَرَ اللهُ دِينَهُ
فَأَصْبَحَ مَسْرُوراً بِطَيْبَةَ راضِيا
وَأَلْفَى صَدِيقاً وَاطْمَأَنَّتْ بِهِ النَّوَى
وَكانَ لَهُ عَوْناً مِنَ اللهِ بادِيا
يَقُصُّ لَنا ما قالَ نُوحٌ لِقَوْمِهِ
وَما قالَ مُوسَى إِذْ أَجابَ الْمُنادِيا
فَأَصبَحَ لا يَخْشى مِنَ النَّاسِ واحِداً
قَرِيباً وَلا يَخْشَى مِنَ النَّاسِ نائِيا
بَذَلْنا لَهُ الْأَمْوالَ مِنْ حِلِّ مَالِنا
وَأَنْفُسنا عِنْدَ الْوَغى وَالتَّآسِيا
وَنَعْلَمُ أَنَّ اللهَ لَا شيْءَ غَيْرُهُ
وَنَعْلَمُ أَنَّ اللهَ أَفْضَلُ هَادِيا
نُعَادِي الَّذِي عَادَى مِنَ النَّاسِ كُلِّهِمُ
جَمِيعاً وَإِنْ كانَ الْحَبِيبَ الْمُصافِيا

د يهودو دښمني

يهوديانو كښې وو بعضې عالمان
چې د پاك رسول الله وو دښمنان

دښمني ئې پېغمبر سره پالله
حسد بغض او کينه به ئې ساتله
د خزرج اوس قبيلې څۀ مشرکان
پۀ خپل شرک باندې مضبوط وو کافران
پۀ ظاهر به ئې د اسلام دعوې کولې
پټ به دوي د اسلام جرړې غوڅولې
د اسلام د غلبې نه وېرېدل به
مؤمنانو سره څکه ګرځېدل به
دوي يهودو سره زړۀ کښې وو ملګري
کښېناستل به د اسلام ډله کښې زري
دا يهود به پېغمبر لره راتلل
تپوسونه ناجائز به ئې کول
ناجائزه ګډو وډو باندې سر ؤ
مشقت کښې ئې اخته کړے پېغمبر ؤ
دا يهود به تلۀ راتلۀ د دې د پاره
چې د حق باطل معلومه نۀ شي لاره
خداے نازل کړۀ دي د پاره آيتونه
چې شي رد د يهوديانو دا سوالونه
پۀ سيرت ابن هشام کښې دي ليکلي
شپږ شپېتۀ نومونه دي دغه ناولي
د يهودو عالمانو کړو دا کار
تنګوو به ئې نبي خبر الابرار
د ذلت غلط سوالونه ئې کول
ؤ مقصد ئې د نبي خفه کول

دوي کوشش کوۀ چې مړه به دا رڼا شي
خبر نۀ وو چې يو ځل به روڼ سبا شي

د عبد الله بن سلام اسلام

هم د دغه يهوديانو عالمان دوه
د هغوي نه مشرف شو پۀ ايمان دوه
يو هغوي نه عبدالله بن سلام
دۀ قبول کړو مخکښې ټولو نه اسلام
مخکښې نوم د دۀ حصين ؤ مقرر
عبدالله نوم ورله کېښود پېغمبر
عبدالله صاحب نه دا دے روايت
ما ليدلے ؤ د پاک نبي صفت
پۀ تورات کښې ما ليدلے هسې شان
پېدا کېږي به نبي آخر زمان
پۀ مکه کښې به هر چا ته وي معلوم
محمد، احمد، محمود به لري نوم
زۀ چې کله شوم د دۀ نه خبردار
مدينه کښې شومه زۀ پۀ انتظار
مدينې ته چې را ورسېد حضرت
ما کهجوره کښې څۀ کار کوۀ اوچت
يو سړے راغے او زۀ ئې کړم خبر
ما پۀ زوره ووې 'الله اکبر'

يوه ترور مې خالده د هغې نوم
ما ته ئې وئېل هلاک شې! څۀ شو درمعلوم
کۀ خبر تۀ د موسٰي عليه سلام
زياتي دې نه به تا څۀ وئيل کلام
ما وئېل اے تروري! دا هم ورور د موسٰي دے
هم هغه رسول، هم دا رسول الله دے
ترور مې ووې دا نبي آخر زمان دے
ما وئېل او شک پۀ کښې و نۀ کړې نقصان دے
هغې وئېل ورارۀ! بيا ټيک ده دا خبره
بغاوت نۀ دے پۀ کار د پېغمبره
دا وائي بيا مخې ته لاړم د رسول
مسلمان شومه اسلام مې کړو قبول
بيا زۀ کور ته شوم واپس پۀ هغه آن
عيال اهل مې کړۀ ټول مسلمانان
د يهودو نه ما پټ کړو خپل اسلام
حضور پاک ته مې بيا دا وکړو کلام
ما حضور پاک ته وئېل لويه پېغمبره!
دا يهود بُتان تراش دي او بې سره
زۀ به دې کوټه کښې پټ شمه دننه
تۀ زما باره کښې وکړه ترې پوښتنه
بيا حضور زۀ پۀ کوټه کښې کړمه پټ
يهوديان مشرکان راغلۀ هغه غټ
پېغمبر ووې حصين ستاسو قام دار دے
ما خبر کړئ بې وفا کۀ وفادار دے؟

هغوي وئېل چې حصين دے زمونږ سردار
لوے عالم دے زمونږ قام کښې ښۀ ديندار
دا يهود چې د خبرو شو وزګار
حصين وائي زۀ کوټې نه شومه بار
ما يهودو ته وئيل اے يهود قامه!
ووېرېږئ د الله د لويه نامه
څۀ چې دۀ راوړي هغه کړئ قبول
دے قسم پۀ خداے چې دے د خداے رسول
تاسو ئې نوم پۀ خپله وينئ پۀ تورات کښې
هېڅ کمے نشته د دۀ هغه صفات کښې
زۀ ئې پېژنم د خداے حق پېغمبر دے
ما ايمان پۀ دۀ راوړے برابر دے
بيا يهودو ورته وئېل اے دروغژنه!
د حصين ئې قباحت بيانئونه
حصين وئېل رسوله! تا ته ما وئيلي
دي يهود بُتان تراش کافر ناولي
مخکښې ئې څۀ وئېل اوس څۀ وائي يهوديان
يا رسوله! تۀ چې و نۀ کړې خفګان
دا حصين چې پۀ اسلام شو منور
عبدالله نوم ورله کېښود پېغمبر
برقه! ډېر مضبوط او کلک مسلمان دا ؤ
پېغمبر ورله نوم اېښے عبدالله ؤ
مخيريق چې د يهودو يو عالم ؤ
د تورات کتاب نه دۀ کړے تعليم ؤ

دۀ نبي رسول الله ؤ پېژندلے
پۀ تورات کښې د هغۀ صفت کتلے
محبت ئې ؤ رسول سره بې شانه
دې کښې جوړه د اُحد غزا شوه جانه!

د اُحد غزا

اصحابان خو د اُحد غزا له تلل
مخيريق خپل قام ته داسې ووئيل
وئيل اے قامه! قسم مې پۀ رب خاص دے
چې امداد پۀ تاسو حق د خېر الناس دے
دوي وئېل دا ورځ د خالي ده نۀ شو تللے
نۀ پۀ دې ورځې وسله شو راخستلے
مخيريق وسله را واخسته سمبال
د غزا پله روان شولو في الحال
مخيريق وئېل قامه! تاسو ته خبر دے
کۀ زۀ قتل شوم دا مال د پېغمبر دے
زما مال د محمد رسول الله دے
هغه کار دې پرې کوي چې خدائے رضا دے
د اُحد غزا کښې بيا موند شهادت
مال د دې سړي سپارل شو پۀ حضرت
پېغمبر وئېل مخيريق خېر يې يهود
دے يهودو نه ډېر غوره کړو معبود

د هغې سرې د مال نه صدقات
ورکولو به بادشاه د کائنات
ثوابونه به يې روح ته رسېدل
لوے الله به په خپل در کښې قبلول
صفيه د حيه لور وائي اے جانه!
زۀ خپل پلار او ترۀ ته ګرانه وم بې شانه
صفيه وائي زما ترۀ ابو ياسر
پلار مې هم ورسره لاړ تر پېغمبر
دوي په خړه کښې د کوره وو وتلي
ماښام راغلۀ واپسۍ کښې دم ختلي
زۀ په منډه او تادۍ ور پاڅېدمه
د خپل پلار او ترۀ په مخکښې ودرېدمه
خو يو تن و نۀ کړو ما ته التفات
ما په زړۀ کښې وئېل څۀ شوي واقعات
ترۀ مې ووې زما پلار ته څۀ دې خيال دے
دا هم هغه پېغمبر د ذوالجلال دے
پلار مې وئېل هو! زۀ ئې پېژنم قسم دے
چې دا هغه محمد نبي اکرم دے
بيا دې ترۀ مې ورته وئېل زړۀ کښې دې څۀ دي؟
چې دې نيت د دښمنۍ دے او کۀ ښۀ دي
پلار مې ووې دښمني به ئې کؤمه
تر هغې چې څو بدن کښې مې ساه وينه
برقه! دومره کۀ په دين کلک مسلمان وے
يهوديان به ورته مخکښې غلامان وے

د بعضې منافقانو ذکر

جُلاس هغه منافق ډک د غرور نه
د تبوک غزا کښې پاتې شو حضور نه
دۀ وئېل، دا کۀ وي رښتينے پېغمبر
بيا به مونږ يو د خرو نه هم بدتر
دا بکواس چې چا د دۀ نه واورېدلو
د سعد زوي عمېر به يادېدلو
دا خبره ئې وه حضور ته رسولې
چې عمېر وه د جُلاس نه اورېدلې
دا عمېر ؤ پرکتے د دې جُلاس
ناسکه پدر ته ئې وکړو داسې بحث
جُلیسه! تۀ ما ته ګران يې د هر چا نه
تۀ خېر خوا زما محسن يې مهربانه
خو تا دا خبره کړې نۀ ښائېږي
کۀ چپ پاتې شوم نو دين مې خرابېږي
خامخا به پېغمبر ته رسؤمه
تۀ خراب ښۀ يې، دين نۀ خرابؤمه
عمېر دغه حال رسول ته ووئيلو
جليس غټې غټې سوګندونه وخوړلو
وئېل عمېر پۀ ما دروغ وائي سروره!
ما لۀ سره کړې نۀ ده دا خبره
پۀ نبي باندې نازل شو آيتونه
منافق دې خوري پۀ خدائے پاک قسمونه

يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوْا ؕ وَلَقَدْ قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ.....

د اسلام نه پس بيا دوي شو كافران
دروغژن دي، پۀ قسم پاكوي ځان
دې سرې بيا توبه وويسته پښېمان شو
تاريخ ليكي چې بيا ډېر ښۀ مسلمان شو
حارث نوم ئې ؤ د دغه جُلېس ورور ؤ
د اُحد غزا له تلے ؤ چور چور ؤ
د دۀ پلار ؤ چرې مخكښې چا وژلے
د خپل پلار بدل ئې نۀ ؤ اخستلے
د دۀ نيت ؤ د بدل د اخستلو
پۀ تګئ مسلمانانو سره تللو
دۀ هم دغه سړے قتل كړو بې پام
لاړو وتښتېد لښكر نه د اسلام
لاړ مكې ته پۀ قريشو كښې دېره شو
پېغمبر ووې عمر ته، كۀ ښكاره شو
سړے قتل كړه چې پرې نۀ ږدې حارث
د اسلام جامه كښې ئې وكړو كار عبث
خو عمر دغه سړے و نۀ موندلو
پۀ مكه كښې پټ پۀ پټه ګرځېدلو
موده پس حضور جُلېس ور ولېږنه
چې توبه وباسه، راشه تر وطنه
دې دوران كښې آيتونه شو نازل
الله پاك، پاك پېغمبر ته ووئيل

كَيۡفَ يَهۡدِى اللّٰهُ قَوۡمًا كَفَرُوۡا بَعۡدَ اِيۡمَانِهِمۡ.....

هغه قام ته هدايت نۀ کړي سبحان
د ايمان نه پس چې بيا شي کافران
بيا يو بل منافق نوم ئې ؤ نبتل
پېغمبر د دۀ پۀ باب وفرمائيل
کۀ څوک وائي چې د شېطان ګورم بشر
د نبتل جسم ته و دې کړي نظر
د شېطان پۀ شانې رنګ قد و قامت
ټول پۀ کښې دے د شېطان خوي خصلت
پۀ رنګ تور د سر وېښتۀ ئې پورته ختلي
سترګې سرې اننګي تور د دې ناولي
د حضور محفل ته دا به تلۀ راتلنه
لۀ هغوي به ئې کوله غوږ باسنه
لۀ هغوي به ئې چې هر څۀ واورېدل
مشرکانو ته به دۀ بيانول
دا ئې وئېل چې محمد خو غوږ لرينه
چې څۀ وائي څوک يقين پرې دے کوينه
دې باره کښې آيتونه شو نازل
پۀ معنٰي باندې ئې ځان دې پوهول
معنٰي ئې دا چې بعضې شته منافقان
رسوي ضرر نبي ته ضرريان
اورېدونکے ښۀ دے ستاسو اورېدل دي
پېغمبر لره پۀ خداے يقين لرل دي

پېغمبر دے مؤمنانو له رحمت
ضرريانو ته به ورسي زحمت
ضرريانو لره شته دردناک عذاب
په ګرفت کښې به راځي د پاک وهاب

مسجد ضرار

دولس تنه منافق هغه مردار
چې جوړ کړے ؤ دوي مسجد ضرار
دوي د مسجد قبا مقابله کښې
دا ضرار مسجد تيار کړو مدينه کښې
اول ټولو په قبا کښې نمونځ کولو
ضرريانو نيت لرو د بېلېدلو
يو زلمي به کوۀ دوي ته امامت
چې ئې نوم ؤ مجمع، واوره حالت
مګر دے په اراده د ضررريانو
نۀ پوهېدلو د هغې منافقانو
دا ضرار جماعت دوي جوړ کړو ضرور
بيا دوي ورغلۀ په مخکښې د حضور
ورته ئې ووې مونږ جوړ کړے جماعت
تۀ يو نمونځ راته په کښې وکړه فقط
مسافر يا لاروي او مريضان
نمونځ به دلته کړي کۀ ؤ باد و باران

پېغمبر وئېل زهٔ خو اوس پهٔ سفر ځمه
کهٔ واپس چرې پهٔ خېر سره راغلمه
کهٔ د خدائے رضا وه نمونځ به پهٔ کښې وکړم
کوم دعوت چې راکوئ دا به پوره کړم
د تبوک غزا نه راغے پېغمبر بیا
ذي اوان نومې یو ځائے ته برابر بیا
ورغلهٔ مخې له دا منافقان
دې مسجد کښې راته نمونځ وکړه قربان!
پېغمبر قمیص را وغوښت پهٔ دې طمع
چې دا وا غوندمه نمونځ ورته کؤمه
آیاتونه شو نازل پهٔ پېغمبر
جماعت جوړ کړے دوي دے د ضرر

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ...

هغه خلک چې جومات جوړ کړي ضرر له
رسوي ضرر مخلوق او پېغمبر له
کړي کوشش د تفریقې د اچولو
خدائے رسول سره دوي وړاندې جنګېدلو
اوس قسم خوري چې نېکي مو اراده ده
هر طرف ئې اړوي ژبه لمده ده
خدائے ګواه دے خامخا دي دروغژن
د اسلام او مؤمنانو دي دښمن
بل مشرک نوم د هغهٔ ابو عامر ؤ
مشرکانو کښې بس دغه غټ کافر ؤ

دۀ حضور ته ووئیلې هسې شان
زۀ به ګورمه چې ستا وي دښمنان
د هغوي سره به زۀ ملګرے کېږم
ستا خلاف به هر محاذ باندې جنګېږم
د اُحد پۀ ورځې ئې داسې ووئیل
تر حُنېن غزا پورې جنګېدل
حوازن قبیلې وخوړو شکست
دۀ بیا بل طرف ته جوړ کړو بندوبست
مدینې نه عامر وتښتېدو شام ته
مشرک نۀ شي ټینګېدے جنګ د اسلام ته
وکړو دۀ منافقانو ته خبر
یو جومات دلته کښې جوړ کړئ د ضرر
یو جومات دلته کښې جوړ کړئ ما د پاره
وسله هم د جنګ د پاره کړئ تیاره
زۀ د روم بادشاه نه غواړمه لښکر
دوباره به حمله کړم پۀ پېغمبر
غلبه پۀ محمد کۀ شو یو ځل
مدینې نه به دے وشړو بالکل
دا جومات جوړ ؤ د دې منصوبې لاندې
پېغمبر الله خبر کړو پۀ دې باندې
حضور حکم پرې د اور د سوزولو
ښلور تنه ئې پسې صرف ور ولېږلو
جومات وسېزئ ضرر دے او نقصان
د جومات پۀ ځاے کښې واچوئ ډېران

پهٔ كښې واچوئ ډېران او مرداري بيا
څوک جومات جوړ نهٔ کړي داسې ضرري بيا
اصحابو جومات وسېزو پهٔ اور
اوس هم داسې جوماتونه شته دے نور
اوس هم داسې جوماتونه د ضرر شته
چې د اصل جوماتونو ترې خطر شته
تفاسيرو كښې دي ليک پهٔ هسې شان
هر جومات چې رسوي بل ته نقصان
پهٔ فاسد غرض جوړ شوي يا جوړېږي
تفرقې نفاق نقصان ترې پېدا کېږي
خپلولي قطع کول پهٔ كښې مقصد وي
دغه قسم جوماتونه ټول به رد وي
د صحيح جومات د حکم نه بهر دي
ډېر جوړ شوي خو د پاره د ضرر دي
پهٔ تفسير خازن كښې دا رنګه ليکلي
عطارح پهٔ روايت كښې دي راغلي
چې عمر فاروق ډېر فتح کړهٔ ملکونه
حکم وشو ځان له جوړ کړئ جوماتونه
داسې نهٔ چې يو نه بل ته ضرر رسي
بيا خواري مشقت ستاسو به عبث وي
جوماتونه جوړوي چې څوک ضرر له
منافق دي خدا ے به دوي بوځي سقر له
د عمر فاروق پهٔ دور خلافت كښې
زهٔ تاريخ ليکم پوره پهٔ حقيقت كښې

قبیله بني عمر د دین ګلونه
چې مسجد قبا دوي جوړ کړے وونه
دوي عمر فاروق له راغلهٔ پهٔ سرعت
مجمعه دې کوي مونږ ته امامت
عمر دوي ته هسې ووې پهٔ ګفتار کښې
امامت کړے دے دهٔ مسجد ضرار کښې
دے د دغه امامت نهٔ دے قابل
چرته ځان له عالم وګورئ عامل
ضرري کښې چې چا کړے امامت دے
بل جومات کښې ئې خوک پرې نهٔ ږدئ غلط دے
مجمعه وئېل یا امیر المؤمنین!
زما دے قسم پهٔ خدائے وکړه یقین
ما بې شکه ورته کړے امامت
خو زهٔ پوه نهٔ وم د دې خلکو پهٔ نیت
کهٔ زهٔ پوهه وے چې دا دي ضرریان
ما هرګز به دوي ته نهٔ لوستے قران
زهٔ هلک وم د قرآن ومه قاري
مشرانو ئې راته وکړله زاري
پهٔ دې وجه مې نمونځ ورکړلو عمره!
خبر نهٔ وم د منافقو د ضرره
چې عمر عذر منظور کړو د نېک نام
هله مسجد قبا کښې شو امام
منافق ؤ بل مربع نوم ئې لرلو
پېغمبر چې د اُحد غزا له تللو

پېغمبر د دهٔ پهٔ باغ ور تېرېدنه
دي مربع منافق دے چې ولیدنه
منافق وئېل کهٔ رښتیني پېغمبر یې
زما باغ باندې به تهٔ نهٔ ځې هېڅ چرې
بیا یو موټے خاورې دهٔ را واخستلې
وئېل کهٔ دا بل چا ته نهٔ ور رسېدلې
کهٔ دا دوړې رسېدلې نهٔ بل چا ته
ما به خامخا شیندلے وے اوس تا ته
اصحاب پسې پهٔ منډه ورغلل
نیت ئې دا ؤ چې دا قتل کړو بالکل
حضور وئېل پرېږدئ! دا دے پهٔ سترګو ړوند
هم د زړه پهٔ سترګو پروت دے د دهٔ دُهند
خو سعد بن زېد وواهٔ پهٔ سر
پهٔ لینده ئې ورله سر کړلو پرهر
بیا یو بل منافق نوم ئې ؤ حاطب
اخته شوے ؤ د جهل پهٔ غضب
دے یو مشر سیقه ناک غوندې بشر
خو پهٔ جهل باندې کلک ټینګ ځناور
د دهٔ زوي نوم ئې یزید بن حاطب ؤ
ښهٔ کره مؤمن صحیح بنده د رب ؤ
د اُحد جنګ کښې زخمي شو بهادر ؤ
د دهٔ خپله قبیله بني ظفر ؤ
پهٔ یو کور کښې واچولے شو یارانو!
ورته ښځې نر را ټول شو سامعانو!

خلکو وئېل شه مبارک، د حاطب زويه!
شوه نصيب دې د جنت درجه لويه
حاطب وئېل د سپېلنو هغه جنت
دا مسکين پرې هم دهوکه کړلو حضرت
هغه وخت کښې داسې وو منافقان
د جنت نه وو منکر هم د نيران
اوس د بل منافق واورئ ځۀ مذکور
نوم بشير د زغرو غل ؤ مشهور
دې سړي د رفاعه کړے کنډر ؤ
سورے کړے ئې پۀ زغرو پسې ګهر ؤ
رفاعه وکړه دعويٰ پۀ بشير باندې
خپل درخواست ئې پاک حضور ته کړلو وړاندې
رفاعه سره ملګرے خپل ورارۀ ؤ
د ورارۀ نوم ئې يارانو! قتاده ؤ
بل ورارۀ ئې د اُسيد نامه لرله
دۀ حضور ته صفائي د غل کوله
دۀ حضور ته وئېل چې دا صالح انسان دے
ناجائزه پرې د دوي د غل ګمان دے
اُسيد خاص د غلو د پاره کوو شر
رفاعه ته بيا پۀ قهر شو پېغمبر
دوي دا غلا خاص پۀ لبيد ور واړوله
فېصله ئې الٰهي وکړه پۀ خپله
جګړې مۀ کوه د دې خلکو د پاره
چې د ځان سره خيانت کوي روېداره!

دوي پۀ پاک سړي دعویٰ کړي مختورن
چې لبيد د سهل زوي دے پاک دامن
صفائي د لبيد وکړه کردګار
بشير وتښتېد مکې و ته مردار
سلاقه نومې زنان کره دېره شو
د بدۍ نوم ئې پۀ هر ځاے کښې ښکاره شو
دے پۀ کور د سلاقې کښې اوسېدلو
بهر خلکو به تهمت پۀ دۀ وئيلو
حسان صاحب پۀ دۀ شعرونه ووئيل
اشارو کښې ئې پۀ دۀ خلک پوهول
دغه ښځې ته شعرونه د حسان
چا ور ورسول واورئ دا بيان
لۀ خپل کور ئې د دۀ کډه کړه ګوزاره
وئېل يوې شپې ته دې نۀ پرېږدم مرداره!
نور دې نۀ پرېږدم پۀ خداے زما سوګند دے
زۀ خبر نۀ وم چې تا کښې دومره ګند دے
بيا لۀ دغه ځايه وتښتېد خېبر ته
هلته هم کښېناست د شپې د چا کنډر ته
د يو کور غريب کنډر ئې ماتولو
بس د دۀ پۀ سر دېوال را پرېوتلو
برقه! بس ژوندون ئې ختم شو او مړ شو
د دوزخ پۀ عذابونو کښې ککړ شو
د باقي منافقانو دے بيان
د يو نوم ؤ پۀ کښې ورونو! قزمان

حضور پاک د دۀ پۀ باب وفرمائيل
دا سړے به دوزخي وي مکمل
د اُحد جنګ کښې زخمي شو دغه ځوان
قتل کړي وو دۀ نهه کافران
چې زخمونو دا سړے بې تابه کړنه
قبيلې بني ظفر و ته ئې راوړنه
مبارک شه! ورته وئېل هر مسلمان
ما د خدائے پۀ لار کښې سر کړلو قربان
دۀ وئېل ما قسم پۀ خدائے د قام پۀ ننګ
د جنت د پاره نۀ دے کړے جنګ
چې زخمونو دا سړے کړو ډېر بې تاب
يو تېرۀ غشے را وويست دې قصاب
د خپل مټ پټې ئې غوڅې کړې د ځان
خودکشي ئې وکړه لاړو د جهان
غټ دښمن چې د الله او د رسول ؤ
عبدالله ابن ابي ابن سلول ؤ
دے د ټولو منافقو ؤ سردار
چرته بل نۀ ؤ د دۀ پۀ شان مردار
دۀ ته ټول جمع کېدل منافقان
دے استاذ ؤ دغه نور ئې شاګردان
خدائے نازل کړۀ د دۀ باب کښې آياتونه
وې ښودل د منافق قباحتونه
د يهودو بعضې بعضې عالمان
پۀ ظاهر کښې دوي راوړے ؤ ايمان

پټ پۀ پټه باندې دغه کافران وو
يو دوه نۀ وو، دغه شانې ګڼ کسان وو
يو پۀ دوي کښې ؤ زېد زوي د نصيت
بل د دې پليت پۀ شان نۀ ؤ پليت
دۀ عمر فاروق سره کړے ؤ جنګ
د قينقاع بازار کښې دې سړي بدرنګ
هغه وخت چې اوښه ورکه د سردار وه
دا خبره کړې دې سړي مردار وه
دۀ وئېل وائي محمد چې د اسمانه
خبر ما لره راځي د پاک سبحانه
اوس د خپلې اوښې هم نۀ دے خبر
وچ پۀ وچه ځان ته وائي پېغمبر
عمر واچول د دۀ سره لاسونه
پۀ يو بل باندې ئې وکړۀ ګوزارونه
الله وحي پېغمبر ته ولېږله
هغه اوښه ئې نبي ته وښودله
پېغمبر وفرمائيل پۀ هسې شان
يو سړے دے هغه دا کوي بيان
محمد دعوىٰ کوي د پېغمبر
خپلې اوښې نه لا دا نۀ دے خبر
او قسم پۀ خداے هېڅ علم نۀ وي ما ته
مګر خداے چې مې خبر کړي د حالاته
هغه اوښه ما ته اوس کړه خداے ښکاره
چې فلاني ځاے کښې ولاړه ده پۀ کنده

اصحاب ورپسې لاړل ټول په خپله
هغه اوښه ئې رسول ته راوستله
هغه وخت سره وو ډېر منافقان
مخالف وو د نبي آخر زمان
جماعت ته به هم دوي حاضرېدل
پېغمبر نه به چې دوي څۀ اورېدل
چې به څۀ خبرې وکړې مؤمنانو
کافرانو ته به وړې منافقانو
مسخرې او خنداګانې ئې کولې
چا پۀ کښې وې د دهوکې ډېرې پرېښلې
یوه ورځ جومات ته راغلۀ مضران
موسېدل یو بل سره منافقان
خولې ورکړې وې یو بل ته غورېدل
پاک نبي آخر زمان دوي ولیدل
حکم وکړو هسې شانې پېغمبر
دا سړي جومات نه وباسئ بهر
ورپسې ابو ایوب ور پاڅېدلو
منافق ئې یو د پښې نه ونیولو
پۀ راښکو ئې د جومات نه کړو بهر
وئېل جومات له بیا را نۀ شې د سرور
منافق ؤ بل عمر زوي د کلیب
پۀ راښکو راښکو ئې مرګ ته کړو قریب
بیا رافع نوم منافق پسې راغللو
او هغه ئې لاسو پښو نه ونیولو

پهٔ مرۍ کښې ئې ور واچوو څادر
بې عزته ئې د جومات نه کړو بهر
يو درنه څپېړه ئې ورکړله پهٔ مخ
ايوب ووې دا ګوزار به دې شي خوښ
اے خبيثه! منافقه! او مرداره!
چې راغلے ئې نو څه پهٔ هغه لاره
بل يو زېد نوم منافق ؤ اوږده ږيره
هغه وخت کښې ؤ ناولے د خنزيره
عماره صاحب ور پاڅېد د اخلاصه
چې د ږيرې نه ئې ونيوهٔ پهٔ دوه لاسه
پهٔ سختۍ يې د جومات نه کړو بهر
پهٔ سينه کښې ئې ووهٔ د زړهٔ پهٔ سر
چې شا ښېرته ئې ګوزار کړو منافق
هډو پښه ئې ټينګېده نهٔ د زنديق
مسعود ورغے او قبس ئې ونيونه
پهٔ مُکو مُکو ئې ښځ کښې ووهنه
عبدالله ور پاڅېدهٔ پهٔ حارث باندې
منافق ئې را ګوزار کړو سر د لاندې
ونېوهٔ ئې د سر وېښتو نه دا مُضر
پهٔ راښکو ئې د جومات نه کړو بهر
منافق وکړه ګيله د عبدالله نه
تا زياتے زما سره وکړو بې شانه
عبدالله وئېل ستاسو پټ منافقت
خدائے خبر کړو پهٔ دې پاک نبي حضرت

پېغمبر وپېژندئ منافقانو!
را نزدې جومات ته نهٔ شئ زنديقانو!
تهٔ جوګه وې د دې اے د خدائے دښمنه!
اے پليت نجس خبيثه! دروغژنه!
چې را نهٔ شې جماعت ته د حضور بيا
ګنې ګوسړې به زياتې وخورې ضرور بيا
برقه! دا متل پښتو ژبه کښې کېږي
کړې خولې بغبر د سوکه نهٔ سمېږي

دَصاحبِ حق صاحب
په درناوي کښې

د اسلام صاحبِ حقه! د سپېڅلي عِلم ښاره!
رڼاګاني در لوګے شه! د رڼا عَلم برداره!
هغه لاره چې ښودلې، را ته تا د محبت ده
مونږه ټول يو نن روان د، محبت په دغه لاره
راشه! وګوره په خپله، دا غورځنګ د پتنګانو
ستا کاروان دې خداے نۀ کړي، بې رهبره بې سالاره
سرچينه د معرفت وې، لوے سرخېل د شريعت وې
د الله په دين مئين وې، اے د دين عظيم مناره!
چې ولاړ لکه د غر به، تل په وړاندې د باطل وې
زمونږ سر او مال قربان شه! ستا د پاره ستا لۀ کاره
پاس په سر ئې ستا د مينې، او شفقت منګل پرته ده
د 'انس' د سترګو توره! د 'آصف' د زړۀ قراره!
سمسور باغ د 'ديوبند' چې، چا روزلے دے په وينو
فيض اخستے دې لۀ هغو، بزرګانو – بزرګواره!
تۀ به ټول عمر ستائيل شې، ستا کردار به تل ژوندے وي
داسې لوړ به ستا معيار وي، د وختونو لۀ معياره
څومره څومره ستورې ستورې، دي د دې خاورو د لاندې
څومره څومره خلک لاړۀ، د جهان د دې بازاره

دوست محمد بحر

Rs. 300/

9 789692 280099

ماسټر بک سنټر
تخته بازار، ډهکې، تنګي، چارسده
03365962763